

# هندي سبک
# او
# پښتو شاعري

Ketabton.com

خاطره قريشي

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل پوهنتون
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانګه

# هندي سبک او پښتو شاعري

(د ماسترۍ تېزس)

لیکواله:
خاطره قریشي

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library




# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: هندي سبك او پښتو شاعري

لیکواله: خاطره قریشي

خپرندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنگي څانگه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینگر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۶۷)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لار ښود استاد نظر

اغلې خاطره جانې قريشي د خپلې ماسټرۍ تېزس (هندي سبک او پښتو شاعري) د پښتو څانګې د ماسټرۍ علمي بورډ له خوا د منل شويو مفرداتو پر اساس بشپړ کړی دی او د يوې ښې ليکوالۍ اصول او قواعد يې په پام کې نيولي دي.

نوموړې خپل تېزس د شپږو سترو سرليکونو په ترڅ کې په ترتيب سره کښلی دی، لومړی يې پخپله پر سبک باندې په زړه پورې بحثونه کړي او بيا يې پر هندي سبک چې له آره يې د تېزس موضوع ده، ژور بحثونه کړي دي، لکه: د هندي سبک د پيدا ښت لاملونه، د هندي سبک صعودي او نزولي سير، د هندي سبک مهمې ځانګړنې، د هندي سبک ژبه، فکر، ادبيات، مدعامثل، تخيل، انځورجوړونه او داسې نور. دغه رنګه يې پر پښتو شاعرۍ او هندي سبک څېړنه کړې ده او دا چې په پښتو کې هندي سبک کله پيل شو او پښتو شاعرۍ ته يې څه ورکړل، په لنډه توګه يې څېړلي دي. همدارنګه يې په پښتو کې د هندي سبک مخکښ شاعران هم را پېژندلي دي، لکه: عبدالحميد مومند، کاظم شيدا، کامګار ختک، غلي او نور.

زه د لارښود استاد په توګه د هغې تېزس په لاندې ډول ارزوم:

۱ - ټاپيک يې ښه او غوره ده.

۲ - اغلې خاطرې خپل تيزس په ښه توګه رغولی او د سرليکونو لړۍ يې ډېره ښه په پام کې نيولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - په دې تيزس کې کارول شوي مواد خپل ارزښت او اهميت لري، او ډېر ترتيب يې د ستاينې وړ دی، چې انکار ترې نه شي کېدی، خو دا هم يو ښکاره حقيقت دی، چې تر دې لا ډېره ښېړنه هم پرې کېدای شي.

۴ - اغلې ليکوالې په راټولو له شوې ډېټا ډېر زيار او زحمت ايستلی او هڅه يې کړې ده، چې تعبير او تفسير يې سم او په زړه پورې وي.

۵ - درنې قريشي هڅه کړې ده، چې د دې تيزس په ليکلو کې له مستندو او معتبرو باوري منابعو او سرچينو استفاده وکړي، ترڅو دغه تيزس په راتلونکي کې د ماخذ حيثيت ترلاسه کړي.

۶ - دا بايد وويل شي چې ژبه يې ابهام او غوټې نه لري، ساده او روانه ده، چې لوستوال په ډېرې اسانۍ سره ښې پر مطلب ترې اخلي او دويم ځل لوستلو ته يې اړتيا نه پېښېږي.

په پای کې د اغلې قريشي دغه تيزس يو ځل بيا مثبت ارزوم او د ماسټرۍ دورې د بشپړتيا لپاره يې کافي بولم او د قدر په سترګه ورته ګورم او د پوهنتون له درنو چارواکو څخه هيله لرم چې د چاپ لپاره يې زمينه مساعده کړي، ترڅو ګټه يې عامه شي او د پښتو ادب په بڼ کې يو ښکلی خوشبو ګل بل هم ور زيات شي.

درنښت

ډاکتر محمد اجان حقپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

يو وخت کله چې د ماسترۍ دورې محصل وم، له ځانه سره مې سوچ کاوه، چې په پښتو کې د هندي سبک د اغېزو او د همدې سبک د پیروو شاعرانو په اړه یو څه ولیکم، ځکه دا داسې موضوع وه، چې زما په کې ډېر څه ترسترګو شوي نه وو.

همداسې مې وکړل، له فراغت وروسته مې د تېزېس د موضوع لپاره د ځينو نورو موضوعاتو ترڅنګ دغه موضوع وټاکله، چې له نېکه مرغه زما لارښود استاد محمدا جان حقپال هم د همدې موضوع د څېړلو او سپړلو مشوره راکړه او د همده په مشوره او پوره مرسته ما دغه موضوع تر خپلې وسې پورې وڅېړله. که څه هم موضوع د محتوا له اړخه ډېره غني او هر اړخيزو څېړنو ته اړتيا لري، خو ما يوازې وربانديې سرسري څېړنه کړې ده. کېدای شي زموږ نور څېړونکي ليکوال په راتلونکي کې په دې موضوع کې پراخې څېړنې وکړي، ځکه هندي ادبي ښوونځی له هره اړخه دومره پراخ دی، چې خورا ليکنو او شننو ته په کې اړتيا پيښېږي. دا سبک په شاعري کې يو ډېر منلی او خوږ سبک دی، ډېرې مينه وال لري، نه يوازې په افغانستان، بلکې په ايران، هند او د سيمې په يو شمېر نورو هېوادونو کې د دغه سبک مينه وال شته او لا هم پر دغه سبک شعرونه ويل کېږي او پيروان لري.

که موږ په خپله پښتو ژبه کې د دغه سبک پر پيل او ارتقا خبرې کوو، نو ويلی شو، چې د دغه سبک بنسټ حميد بابا ايښی، کاظم شيدا ورته وده ورکړې، چې بيا وروسته دغه سبک په پښتو کې يو څه پيکه شوی، خو په معاصره دوره کې يو ځل بيا ښاغلي استاد محمدصديق پسرلي د همدغه سبک پر پيروی او خصوصياتو برابره شاعري وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې تر څنګ دغه سبک لا هم په پښتو ادب کې ژوندی سبک دی، یو شمېر ځوان شاعران شته، چې پر دغه سبک شاعري کوي، چې ښه مثال یې ځوان شاعر جیلاني جلان دی، چې د هندي سبک او د ښاغلي پسرلي د شاعرۍ خصوصیات یې په شاعرۍ کې موندلی شو.

دا چې دغه سبک کوم خصوصیات لري، څنګه سبک دی، کله را منځ ته شوی، څنګه یې وده کړې، پښتو شاعرۍ ته کله را ننوتی او پر پښتو شاعرۍ یې کومې اغېزې شیندلې دي، دا ټول موضوعات به د همدې تېزېس په رڼا کې سره وشاربو او توضیح به یې کړو.

درنښت

خاطره قریشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډیز

دلته د موضوع د لنډیز په توګه یوازې دومره ویلی شو، چې دغه موضوع چې له خورا اهمیته او ارزښته برخمنه ده، موږ وربانديې تر خپلې وسې پورې څېړنه کړې، دا چې زموږ څېړنه به څومره پرځای او معیاري وي، دا به د لوستونکیو له قضاوته جوته شي.

په ټوله کې باید وو ایم چې په دې تېزېس کې لومړی د سبک په اړه معلومات وړاندې شوي او د سبک پر تعریف او مشخصاتو بحث شوی دی. بیا د هندي سبک پر پیدا ایښت، د پیدا ایښت پر لاملونو، د دغه سبک پر وده او د ودې پر مهمو عواملو او همداشان د دغه سبک پر خصوصیاتو او ځانګړنو باندې تفصیلي بحث شوی دی.

تر دې وروسته په پښتو ژبه کې د دغه سبک د پیل او رونق په اړه خبرې شوې دي او په پښتو ژبه کې د دغه سبک مشهور شاعران لکه حمید بابا، کاظم شیدا، علي خان، کامګار خټک، بېدل، محمدي صاحبزاده، قلندر مومند، خانګل خلیل، فیض محمد ګدون او معاصر شاعر استاد محمدصدیق پسرلي څېړل شوي او د هندي سبک په رڼا کې د هغوی پر شاعرۍ خبرې شوې دي.

تر دې وروسته د وروستي بحث په توګه پر پښتو شاعرۍ د هندي سبک د اغېزو په اړه بحث شوی او دا په کې په ډاګه شوې ده، چې هندي سبک پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو شاعرۍ څه اغېزې کړې دي او ايا دا اغېزې د پښتو شاعرۍ لپاره مثبتې پايلې درلودلې او که منفي.

همدا شان په پای کې د موضوع د پايلې له راوړلو سره په څنګ کې مناقشه او يو شمېر وړانديزونه هم شوي، چې د موضوع د بشپړتيا او ښې څېړنې لپاره يې به بې ګټې نه وي. او د ماخذونو او معتبرو سرچينو په راوړلو سره موضوع ته د پای ټکی ايښودل شوی دی. دا يوازې هغه څه دي، چې په دغه تېزيس کې وربانديې په تفصيل سره رڼا اچول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

اړینه ده، چې د ماسټرۍ دورې تر پای ته رسېدو وروسته یوه تحقیقي رساله ولیکل شي او دفاع شي. په همدې ترڅ کې ما هم په خپل وار سره دغې موخې ته د رسېدو هلې ځلې پیل کړې او لومړی مې د څېړنې لنډ او تلاین ترتیب کړ او د کابل پوهنتون د ادب پوهنځي له استاد ښاغلي ډاکتر محمداجان حقپال سره مې موضوع شریکه کړه. نوموړي هم په ورین تندي ومنله او د لیکلو موافقه یې راسره وکړه. دا چې هره څېړنه او څېړونکی د لارښود استاد لارښوونې ته اړتیا لري، نو ما هم د یادې څېړنې د ترسره کولو لپاره ښاغلی ډاکتر صاحب حقپال د خپل لارښود استاد په توګه غوره کړ، چې نوموړي د خپل لطف او مهربانۍ له مخې زما سره د دې څېړنې په بشپړتیا کې خپلې نېکې لارښوونې، نظرونه او وړاندیزونه شریک او د همدې برکت و، چې ما خپله څېړنه په بریالیتوب او اسانۍ سره بشپړه کړه.

د ماخذونو په برخه کې ویلی شم، چې ما د دغه اثر د بشپړتیا لپاره سره له دې چې له کتابتونې مېتود څخه کار اخیستی، خو په څنګ کې مې خپل تحلیلونه او زیاتونې هم ورسره غبرګ کړې.

ما ډېره هڅه وکړه او ډېری کتابتونونه مې ولټول، له لیکوالو ملګرو او دوستانو سره مې خبره شریکه کړه، چې د موضوع په اړه راته لیکلي اثار په ګوته کړي، دوستان دې هم خیر یوسي، تر ډېره بریده یې زما سره په دې برخه کې مرسته وکړه او زه یې دې لیکنې په بشپړاوي باندې وتوانولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هندي سبک شاعري یو ځه ابهام لري، خو ابهام یې دومره نه دی، چې څوک ورباندې پوه نه شي. د دې ډول شاعرۍ پر لوستو لوستونکي په اني توګه موضوع ته ژر نه رسېږي، یو څه فکر ته اړتیا لري، ځکه په دې ډول شاعرۍ کې له لوړ خیال او لوړ تفکر څخه او هغه هم په تشبیهي او استعاري ډول کار اخیستل کېږي، نو ځکه پرې پوهېدل هم یو څه هنري او ادبي استعداد ته اړتیا لري.

په پای کې له خپل لارښود استاد ښاغلي ډاکتر محمد اجان حقپال څخه د زړه له تله مننه کوم، چې په خپلو لازمو او ګټورو لارښوونو، وړاندیزونو او نظرونو سره یې له ما سره د دې اثر په بشپړتیا کې پوره مرسته وکړه. له الله ج څخه ورته د ډېر، سوکاله او خوشحاله عمر غوښتنه کوم.

همداشان له ټولو هغو دوستانو څخه هم مننه کوم، چې د دې اثر په بشپړتابه کې یې له ما سره خپلې مرستې کړې دي او د همدوی په همکارۍ ما دغه څېړنه بشپړه کړه. الله ج دې ټول سوکاله او اباد لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع هدف او ارزښت

هره موضوع چې د لیکنې او څېړنې لپاره انتخابېږي باید د ارزښت او هدف درلودونکې وي. هېڅ څېړنیزه موضوع بې هدفه او بې ارزښته څېړل کېدای نه شي.

موږ هم هندي سبک او پښتو شاعري د دې هدف لپاره څېړو چې هندي سبک کله او څنګه پښتو ادب ته راغلی او همدا شان په پښتو شاعرۍ کې یې څه خوبۍ، رنګینۍ او خوږلنۍ شیندلي دي.

ارزښت یې هم په دې ټکي کې را خلاصه کولی شو، چې د هندي سبک شاعري له ابهامه ډکه خو رنګینه او خوږه شاعري ده، دا چې په پښتو کې کومو شاعرانو دغه سبک پاللی او پښتو شاعري یې تر کومه بریده وربانده رنګینه کړې. د همدې ارزښت له مخې موږ د دغه اثر او لیکنې د بشپړتیا او څېړلو هڅه وکړه.

په دې څېړنه کې به موږ هڅه وکړو، چې د څېړنې د اړونو له مخې لومړی هندي سبک معرفي کړو، ځکه دا سبک په پښتو ژبه کې او سمهال یو څه پیکه دی او ډېری شاعران او لیکوال ورسره چندان بلدتیا نه لري، نو اړینه ده، چې د دغه سبک د پیدا ایښت، خواصو او غایې په هکله لومړی معلومات وړاندې کړو او ورپسې به بیا په پښتو ژبه کې د دغه سبک پر پیل، وده او پرمختیا خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په دې سره به له يوې خوا د هندي سبک له ځانګړنو سره اشنا شو او له بلې خوا به په پښتو کې د دغه سبک پر بهير او څرنګوالي پوه شو.

په دې سره به هغه څوک چې په پښتو کې د هندي سبک د شاعرۍ له سور و بور سره بلد نه دي، په دې به پوه شي، چې هندي سبک څه ډول سبک دی، کومې ځانګړنې لري او په پښتو شاعرۍ کې يې ښکلا ييز اړخ تر کومه بريده جوت دی.

همدا شان د دغه اثر لوستل به له هغو شاعرانو سره هم مرسته وکړي، چې په پښتو کې د هندي سبک خوښوونکي او مينه وال وي او په دې سره به وکولی شي، هندي سبک لکه څنګه چې دی، هغسې په پښتو شاعرۍ کې پلی او منعکس کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع مخینه

هندي سبک او پښتو شاعري – هغه موضوع ده، چې تر دې مخکې ورباندې شاید هېڅ بشپړ کار شوی نه وي.

هندي سبک د یوولسمې پېړۍ شاوخوا رامنځ ته شوی او پښتو ته هم د حمید مومند په واسطه راغلی دی او بیا یې کاظم شیدا ورته وده ورکړې ده او د بشپړتیا پولو ته یې رسولی خو وروسته دغه سبک بېرته پښتو کې هم ورو ورو له منځه تللی تر دې چې بېرته استاد پسرلي پښتو کې د دغه سبک جسد ته نوې ساه وپوکله.

په دې موده کې د دغه سبک د اشنایۍ او یا په پښتو کې د دغه سبک د شاعرۍ په اړه ډېر څه نه دي لیکل شوي او که لیکل شوې هم وي، یوازې به د ګوتو په شمېر څو مقالې وي خو په ځانګړې توګه په دې برخه کې کوم ځانګړی اثر او کتاب نه دی لیکل شوی.

د یادونې ده چې ښاغلي مجیب الرحمن امیري یوازې په دې برخه کې د هندي سبک یو معاصر شاعر استاد محمدصدیق پسرلی د یاد سبک په رڼا کې څېړلی او د هغه یې یوازې غزلیزه شاعري څېړلې ده. که څه هم د هندي سبک په اړه یې هم په کې ډېر څه ویلي، خو د نوموړي کار یوازې تر استاد پسرلي پورې محدود دی.

همداشان ځینو ځینو لیکوالو هم د هندي سبک د شاعرانو په اړه یوازې سرسري یادونه کړې ده، خو په پښتو کې یې د هندي سبک

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعري او د دغه سبک پیروان شاعران لکه څنګه چې بایده دي هغسې نه دي څېړلي.

نو په دې توګه ما هم تصمیم ونیو چې د دغه موضوع یو څه په اجمالي توګه وڅېړم او هڅه به مې همدا وي، چې هندي سبک او بیا په پښتو کې د دغه سبک پیروان لرغوني او معاصر شاعران څه ناڅه په تفصیلي بڼه وڅېړم او پر یاده موضوع د خپلو څېړنیزو اهدافو له مخې رڼا واچوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څېړنې مېتود

هره څېړنه ځانته مېتود او تګلاره لري. مېتودونه او تګلارې هم سره ورته نه دي.

په نړۍ کې د څېړنې په برخه کې یو شمېر مېتودونه شته، خو د موضوع د څرنګوالي او شرایطو له مخې څېړونکی باید د خپلې څېړنې له شرایطو او اصولو سره سم مېتود غوره کړي.

ما هم د دې څېړنې لپاره کتابتوني مېتود غوره کړی، کتابتوني مېتود په دې مانا چې تر ډېر بریده مې کې له کتابتونونو او کتابونو کار اخیستی او پر مټ مې یې خپله څېړنه بشپړه کړې ده. ځکه د خپلې څېړنې د موضوع د مفرداتو د روحیې او د هغو په پام کې نیولو سره دې ته اړ وم، چې د خپلې څېړنې یو شمېر مواد له کتابتونونو ترلاسه کړم. په دې توګه مې وپتېیله چې په دې اړه خپاره شوي کتابونه، مجلې، لیکنې او معلومات را غونډ کړم. همدا کار مې وکړ او په دې برخه کې مې تر خپلې وسې پورې ټول هغه مواد او کتابونه را ټول کړل، چې په اړه یې لیکل شوي وو، د هغو تر کره کولو، ثقه کولو او ارزیابي کولو وروسته مې د لیکلو پړاو د یاد مېتود پر بنسټ پیل کړ.

په ټوله کې کتاب پر څو څپرکو باندې وېشل شوی، چې بیا د هر څپرکي تر سرلیک لاندې یو شمېر واړه څنګزن سرلیکونه هم راغلي، ترڅو د څېړنې په برخه کې د لوستوالو لپاره نور هم وضاحت ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سبک(Styel)

## ۱–۱ سبک څه ته وايي؟

سبک د ليکل شويو منظومو او منثورو اثارو د لفظونو او ماناوو ترمنځ د ګډ نزاکت هغه شېوه، کړنلاره او اسلوب دی، چې يو شاعر يا ليکوال يې د ځان لپاره غوره کوي. خو د سبک د پېژند يا تعريف لپاره پوهانو بېلابېلې نظريې لري، خو په مجموع کې د غه نظريې تر ډېره سره نژدې والی هم لري. محمدصديق روهي سبک داسې راپېژني: (( سبک عربي کليمه ده، چې د سرو او سپينو زور د ويلې کولو او تويولو په مانا راځي او سبکيه د زرو ټوټې ته ويل کېږي، اما په اصطلاح کې سبک د ويلو او ليکلو خاص ډول او طرز ته ويل کېږي. د عربي د سبک په مقابل کې اروپايان د (Styel) کليمه استعمالوي. که څه هم د سټايل لغت د سبک په نسبت زيات جامعيت او ارتوالی لري، ځکه چې د غربيانو (Styel) د ټولو کړو وړو لکه ( نخا ، رسم او داسې نورو ) لپاره چې په يوه خاص او ممتاز ډول سره وي، استعمالېږي. د پارسو پخوانو ادباوو به د سبک پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای د فن، طرز، سیاق، طریقه، شېوه، اسلوب، دا او داسې نورې کلمې استعمالولې، مګر اوس د سبک کلیمه ډېره تعمیم شوې ده.

... سبک د کلماتو هغه ترتیب ته وایي، چې په خورا ښه ډول د لیکونکي شخصیت، مفکوره او ذهني نظر څرګند کړي. ډېر ښه سبک هغه دی، چې د لیکونکي یا ویونکي ذهني مفکوره عیناً تمثیل کړي، که څه هم د دغه مقصد لاسته راوستل ډېر ګران دي، مګر لیکونکی زیار باسي، ترکومې چې بشري محدودیتونه اجازه ورکوي، دغه مقصد ترسره کړي.)) (۱۴: ۸۴-۸۵)

د استاد روهي دا خبره، چې اوس د سبک کلیمه ډېره تعمیم شوې ده، پر ځای خبره ده، خو بیا هم دومره ویل په کار دي، چې د سبک له کلیمې سره اشنایي لا هم هغې کچې ته نه ده رسېدلې، چې یو شمېر کره کتونکي یې په اسانۍ سره تشخیص او په اړه یې پرېکړه وکړي، یانې د سبک د پېژندلو او تشخیص او د بېلابېلو سبکونو ترمنځ توپیر او شباهت لا هم د یو شمېر کره کتونکو ترمنځ ستونزمنه چاره ده، ځکه په پښتو ژبه د سبک د پېژندلو، تشخیص او خصوصیاتو په برخه کې داسې لازم او کافي اثار تر اوسه نه دي پنځېدلي، چې کره کتونکو ته د سبک او سبکي خصوصیاتو په درک سره د سبکونو د تشخیص، پېژندلو او تفکیک په برخه مرستندوی واقع شي. خو په دې برخه کې بیا هم د ښاغلي روهي کار د ډېرې ستاینې وړ دی. نوموړي تر ډېره بریده د سبک د پېژندلو او د سبکي خصوصیاتو د درک لپاره لاره هواره کړې ده او د سبک مفهوم یې تر ډېره بریده روښانه کړی دی. نوموړی وایي: ((که موږ وغواړو چې په واقعي ډول د سبک اندازه واخلو، نو ښایسته زیاتو ازموینو ته اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرو. موږ دا سې نهايي اصطلاحاتو ته ضرورت لرو، چې په خپل حساسيت سره تر يوې اندازې پورې وکولی شي، چې د هر ليکونکي سبک له نورو څخه جلا کړي. که څه هم دا مو ويلي دي، چې په اخري تحليل کې دوه سبکونه يو ډول نه وي.)) (۱۴: ۸۵)

که څه هم پخوا دا نظريه معمول وه، چې سبک تر فکر لوړ دی، خو دا نظريه تر ډېره بريده باطله شوې او کره کتونکي دې پايلې ته رسېدلي، چې سبک په هېڅ صورت کې له فکر څخه بېل او لرې نه دی. بيا هم محمدصديق روهي ليکي: ((حقيقت دا دی، چې سبک هېڅکله له فکر څخه نه شو شکولی، بلکې ويلای شو، چې فکر جوهر او سبک يې ځلا او رڼا ده. يا په بله ژبه فکر اساس او ماده ده او سبک يې شکل او خاصيت دی.

معمولاً د سبک په تعريف کې ويل کېږي، چې سبک د فکر د افادې ډول دی، که فکر نه وي، سبک هېڅکله د وجود په ډگر پل نه شي اېښودای. دا ناممکنه ده، چې خواص به وي او جسم به نه وي. دا ناشونې ده چې فکر دې نه وي، مگر ژبه او مفاهمه دې موجوده وي.)) (۱۴: ۹۹-۱۰۰)

د ښاغلي روهي له څرگندونو ښکاري چې سبک له فکر سره ژور تړاو لري، خو تر فکر مقدم ځکه نه دی، چې تر هغو فکر شتون ونه لري، مفاهمه او ژبه شتون ونه لري، نو سبک هم شتون نه شي پيدا کولی. نو په دې توگه ويلی شو، چې د سبک لپاره د فکر شتون اړين دی او د فکر تر وجود وروسته د سبک څېړل، تشخيص او خصوصيات د درک وړ دي. خو فکر هم د څرگندلو وسيلې لري، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له وسایلو د فکر وجود هم ناشونی، ځکه فکر ته ژبه او الفاظ په کار دي او د ژبې او الفاظو له مخې د سبک تاکل او تشخیص شونی دی.

اجمل ښکلی سبک د بیان طرز بولي او وایي: ((ویندود ( سبک ) د بیان طرز دی، خو د بیان د طرز بریدونه دومره واړه او تنګ نه دي، چې سرې یې دې په اسانه کچ مېچ کړای شي.)) (۲۰: ۲۲)

د ښاغلي اجمل له خبرو هم دا جوتېږي، چې د سبک پېژندل او د بیان د طرز د بریدونو کچ مېچ کول اسانه کار نه دی، خو که چېرې د یوه شاعر یا لیکوال د بیان د طرز بریدونه په سمه توګه کچ نه شي، نو د هغه د سبک په اړه قضاوت هم له ستونزو سره مل کېدای شي. دا سمه ده، چې د بیان د طرز د بریدونو تشخیص، تفکیک او کچ کول یې ستونزمن کار دی، خو د هرې ستونزې د هوارې لپاره د لازمو هڅو پر کار اچول په کار دي او تر هغو چې د سبکپوهې په برخه کې لازم کار ونه شي، د شاعر او لیکوال د بیان د طرز ډول، خصوصیات او ځانګړنې یې په اسانه د تشخیص وړ نه وي او له همدې امله د سبکونو د امتزاج او یا هم د سبکونو د تشخیص او تفکیک په برخه کې ناسم قضاوتونه منځ ته راتلای شي.

په هره توګه دلته زموږ اصلي موخه د شاعرانه سبک په اړه څه ویل دي. شاعرانه سبک په اصل کې د یوه خیال او فکر د وړاندې کولو طرز دی، خو د دغه طرز د وړاندې کولو د انداز توپیر سبکي توپیرونه او خصوصیات را په ګوته کوي. حنیف خلیل د شاعرانه سبک په هکله لیکي: ((د هر شاهر او فنکار د اظهار طریقه داسې جدا وي، لکه چې انساني شکلونه سره د کره وره د یووالي له امله یو بل نه جدا وي. په دې طریقه کې د هر فنکار شاعرانه سبک هم یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره څه خو فرق ضروري لري، وجه يې داده، چې د شاعرانو احساس، ادارک، او داخلي رجحان يو بل سره فرق لري او بيا ځيني شاعران خو له يو بله دومره فرق لري، لکه په انساني شکلونو کې چې کله کله ببخي له يو بله جدا شکلونه په نظر راځي.)) (۹: ۸۳)

همدا شان مومن مهاجر هم په خپله ليکنه کې ليکي: ((دا چې په ادبياتو کې سبک څه معنا؟ څرنګه يې پېژندلای شو او څوک د ځانګړي سبک څښتن بلل کېدای شي؟ له همدې سره په ضمن کې د ادبي سبک او مکتب پېژندنې او تو پيرونه څه دي؟ پر همدې موضوع خبرې کوو:

سبک پېژندونکو او څېړونکو د هغه ګڼ اصطلاحي تعريفونه کړي چې د الفاظو له څه ناڅه توپير سره - سره په پای کې د ټولو تعريفونو حاصل داسې بيانولای شو:

په ادبي اصطلاح کې سبک د يو شاعر يا ليکوال د شعر او ليکنې هغه ځانګړې، لار ، تګلوری او ژبه ده چې دی له نورو بېلوي.

دې تعريف ته په پام ويلای شو چې هر شاعر او ليکوال د بېل سبک څښتن دی، ځکه هر يو ځان ته بېله ژبه، لاره او تګلوری لري چې بل يې نه لري، له دې ځايه د هغو خلګو نظر ناسم دی چې وايي فلانی ليکوال او شاعر اوس هغه پړاو ته رسېدلی چې ځانته بېل سبک او تګلوری يې پيدا کړی دی، ځکه هر څوک چې څه ليکي او يا يې وايي هغه يې په داسې ډول بيانوي چې بل څوک په دې طرز کې له ده سره شريک نه دی. يا په بل عبارت سبک په بشپړ ډول يوه شخصي چاره ده او هر سبک د يوه ځانګړي شخصيت استازيتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، نو لکه څرنګه چې اشخاص بېل دي همدا سې يې سبکونه هم بېل دي.

## ۱–۲ د سبک د بدلون ځيني عوامل:

دلته دا خبره هم د يادولو وړده چې سبک څېړونکو ځينې داسې عوامل په نښه کړي چې د سبک په بدلون او تغير کې مهم رول لري، لاندې به په لنډ ډول هغو ته هم اشاره وکړو.

الف: د يوه ليکوال او شاعر نفسيات :-

د هر شاعر او ليکوال سبک د ده د ځانګړو نفسياتو او داخلي کيفيت څرګندونه کوي د بېلګې په توګه که د عبدالرحمن بابا شاعري وګورو نو په کلام کې يې عرفاني فلسفه له ورايه جوته ده چې همدا د ده د وجداني کيفيت زېږنده ده.

ب: سياسي، ټولنيز او تاريخي بدلونونه:

په هر زمان کې سياسي، ټولنيز او تاريخي بدلونونه هم د يوه شاعر اوليکوال پر سبک د پام وړ اغېز لري. که موږ او تاسې د شوروي تر يرغل وروسته او وړاندې ليکنې او شعرونه وګورو نو تر منځ به يې د ځمکې او اسمان توپير ومومو.

ج: فرهنګي زمينه :-

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ هغه زانګو ده چې هنر پکې زېږي او وده پکې کوي له همدې امله د هر وخت فرهنګي حالت او شرايط خپل اغېز لري. د بېلګې په توګه اسلامي فرهنګ د شاعرانو او ليکوالو پر ليکنو څرګند اثر درلودلی دی.

د : مخاطب :-

د يوه اثر مخاطب يا لوستونکی د هغه پر کيفيت او څرنګوالي مهم اغېز لري. مثلا کوم شعر چې د يوه پاچا په دربار کې ويل کېږي د هغه ژبه ډېره پېچلې او له غوره ماليو و ستاينو ډکه وي خو که شعر عامو لوستونکوته ويل کېږي نو ژبه يې ساده، سپينه او روانه وي.

هـ: موضوع :-

د خبرو موضوع هم ځانګړې ژبه غواړي، له همدې امله موږ او تاسو وينو چې د حماسي او عرفاني شعر د بيان ډول له يوه او بله بېل دی.

و: چاپېريال :-

ځانګړی محيط او چاپېريال هم د بيان ژبه بدلوي، که موږ او تاسو د هغو دوو کسانو شاعري سره پرتله کړو چې يو يې په غرنۍ سيمه کې اوسي او بله په ګڼه ځنګلي سيمه کې نو هر يو چې کله په خپل کلام کې جغرافيايي انځور وړاندې کوي هرومرو به له يوه بله بېل وي. همدا راز که يو سړی په کلي کې اوسي او بل په ښار کې نو هم به د چاپېريال په انځورګرۍ کې د يوه او بل ترمنځ توپير وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دې سربېره يو شمېر نور عوامل هم شته چې د ځانګړي سبک او يا تګلورې په رامنځ ته کېدو کې رول لري خو د ټولو يادول او بيان موضوع اوږدوي، ځکه مو نو يوازې د هغو عواملو پر يادونه بسنه وکړه چې په عمومي ډول يې رول ډېر جوت او ښکاره دی.

کله چې پر ادبي سبک خبرې کېږي نو ورسره په خوا کې تل د ادبي مکتب نوم هم يادېږي چې سبک پېژندونکي او د ادب مينوال يې له ابهام او ناڅرګندتيا سره مخ کړي دي، ځکه د هر يوه بېل-بېل تعريف او تو پيرونه پېژندل خورا کړکېچنه مسئله ده، وجه يې داده چې له يوې خوا په خپله سبک هم ډېر روښ، جوت او جامع ومانع تعريف نه لري له بلې خوا يې په څنګ کې له ادبي مکتبه ماهيت او ځانګړتياوې بېلول ستونزه نوره هم زياتوي. لاندې به لومړی د ادبي مکتب پر لغوي او اصطلاحي مفهوم او بيا به د دواړو ترمنځ پر شته توپير خبرې وکړو چې تر کومه ځايه سم او پر ځای دي ؟

مکتب په لغت کې د ليکنې او ښوونې ځای ته وايي او د ادب پوهانو په اصطلاح هغه پراخ ادبي جريان دی چې د څو سبکونو له يوځای کېدو رامنځ ته شوی وي. يا په بل عبارت ادبي مکتب د هغو ادبي او فرهنګي نظرونو مجموعه ده چې د يوه او يا ډېرو هېوادونو د سياسي، فرهنګي او ټولنيزو حالاتو له امله راټوکېدلی وي.

د همدې تعريف پر بنسټ د ادبي سبک او ادبي مکتب توپير په دې شوی چې ادبي سبک له فرد سره تړاو لري خو ادبي مکتب له فرد نه بلکې له ګڼو اشخاصو او افرادو سره تړلی دی. که خبره نوره هم روښانه کړو نو داسې به ووايو چې کله څو ادبي سبکونو د خپلو مشترکاتو پر بنسټ سره يوځای شي، نو ادبي مکتب بلل کېږي خو که هر يوه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بېل - بېل نظر وګورو نو بیا ادبي سبک دی یعنې ادبي سبک خاص او محدود دی، مګر ادبي مکتب عام او پراخ دی.

د ادبي سبک او مکتب د تو پیر په اړه یوه نسبتاً مناسبه نظریه داده چې په سبک پېژندنه کې ژبې ته پام کېږي یعنې خبره پر دې ورټولېږي چې په دې اثر کې د کلماتو غوراوی، د جملو ترکیب، ادبي صنعتونه، وزنونه، اهنګ او بلاغي ځانګړتیاوې څه ډول دي؟ خو په ادبي مکتب کې د ژبې پر ځای د یوه اثر معنوي ځانګړتیاوو، منځپانګې او محتوا ته پاملرنه کېږي. د بېلګې په توګه کلاسیک هنرمند په ادبي اصطلاحاتو کې ډېر سخت دی او مفهوم په لنډو ټکو کې بیانوي، خو د خلکو روزنې او پالنې ته پام اړونکي اخلاقي ارزښتونو ته متوجې وي، په رومانیت کې جمال، رنګ، ښکلا، تصویر جوړونې، دقت او نازکخیالۍ ته ډېر ارزښت ورکول شوی او په ناتورالېزم کې هڅه کېږي چې د محاوري ژبه ادبیاتو ته ډېره لار ومومي.))

اوس چې د سبک پر معنا، مفهوم او همداشان د مکتب پر معنا او مفهوم او د دواړو ترمنځ په توپیر مو ځان پوه کړو، نو پر خپله اصلي موضوع چې هندي سبک دی، رڼا اچوو او په دې خبرې کوو چې هندي سبک څنګه سبک دی، کله رامنځ ته شوی او څنګه یې وده وکړه او همداشان پښتو ادب ته یې کله لار وموندله او تر کومه ځایه ورسېد. دا ټول په همدې څېرنه کې سره رانغاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲ - هندي سبک

د ادب په برخه کې بدلون، کړنلاره او اسلوب هم د پام وړ موضوع ده، چې تل په یوه حالت نه پاتېږي، بلکې بدلون را بدلون مومي. سبک هم د دغو بدلونونو او اوښتونونو یوه نښه گڼل کېږي. هندي سبک چې وروسته یې بیا د یوه لوی ادبي مکتب بڼه غوره کړه، هم له دغو اوښتونونو او نښو څخه دی. داسې ویل کېږي، چې دغه سبک د یوولسمې پېړۍ په لومړیو او د دوولسمې پېړۍ په منځنیو کې د هند، منځنۍ اسیا او ایران په سیمو کې ډېر معمول او دود و. ښاغلی هېواد مل په دې اړه لیکي: ((د لسمې هجري پېړۍ په جریان کې د پارسي ژبې ځینې شاعران د پارسي شاعرۍ له زړو عنعنو څخه ووتل او په خپل شعر کې یې نوې لاره غوره کړه. د یوولسمې هجري پېړۍ په اواخرو او د دوولسمې پېړۍ په اوایلو کې دغه نوې شعري لاره خپل اوج ته ورسېده. په هند کې اوسېدونکو ځینو پارسي ژبو شاعرانو هم دغې نوې شعري لارې ته مخه وکړه، نو ځکه دغه ادبي لارې د هندي سبک په نامه شهرت پیدا کړ.)) (۲۸ : ۲۱۴)

## ۲-۱ د هندي سبک د پیدا ایښت زمینې او لاملونه

د هندي سبک په اړه دا هم ویل کېږي چې د عراقي سبک تر پیکه کېدو وروسته دغه سبک سر را پورته کړی. په همدې هکله ښاغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنارس خان ختټک وايي: "د نهمې صدۍ هجري تر اخر پورې د عراقي سبک ازانګې خورې وې، خو له دې نه وروسته د لسمې صدۍ هجري په شروع کې ايرانيانو يو بل سبک يعنې هندي سبک ته رواج ورکړو. ښکاري دا چې د عراقي سبک د سادګۍ او عام فهمه خيالاتو څخه شاعرانو بغاوت وکړو او يو ځل بيا د بيان عالمانه انداز او ګرانو استعاراتو او تشبيهاتو ته مايل شول. دې سبک ته تقويت که هر څو فغاني ورکړو، ولې په دې خبره د ايران او هند محققين متفق دي چې ابتدا يې د امير علي شيرنوايي او عبدالرحمان جامي له خوا وشوه. ډاکتر ظهرالدين احمد ليکي: ژباړه: (د دې سبک ابتدا له اميرعلي شيرنوايي او عبدالرحمان جامي د مجالس نه وشوه. بيا فغاني شيرازي په غزل کې د دوی پيروي وکړه. فغاني ته ډېر شهرت حاصل شو. د ده په معاصرينو کې اهلي شيرازي، خواجه اصفي او امير شاهي هم په دغه سبک کې ليک وکړو. بيا لساني، شريف تبريزي، محتشم کاشاني، ضمير اصفهاني او وحشي بافقي يې هم پيروي وکړه او دې سبک په ايران، برصغير او توران کې ډېر مقبوليت ترلاسه کړو. ) ... د هندي سبک په رايج کولو او کمال ته رسولو کې د فيضي، عرفي، ظهوري، نظيري، جلال اسير او شوکت بخاري ستر لاس دی. کليم په دې کې د مثاليه اسلوب اضافه وکړه، صايب او غني کشميري د مثاليه اسلوب داسې نادرې شعري نمونې منظرعام ته راوړې چې د دوی فن ورڅخه د ادب په افق وځلېدو. " ( ۳۸:۸ او ۳۹ )

د دې ترڅنګ يو شمېر نور شاعران هم وو چې دغه سبک يې د خپل اوج پوړيو ته ورساوه، چې له هغې جملې بيدل هم يادولی شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نوموړي په خپلو نادرو استعارو او تشبیهاتو سره دغه سبک ته یو نوی رنګ او خوند ورکړو.

په هره توګه دا چې د دغه سبک د منځ ته راتګ انګېزه او عوامل څه شی دي او څنګه دا سبک را منځ ته شو، په دې هکله ښاغلی شمسیا سیروس لیکي: ((د هندي سبک په پیدا ایښت کې مذهب، هند ته د شاعرانو سفر، د اصفهان ښار پراختیا او له فرهنګ سره د صفوي شاهانو علاقه مندي د دغه سبک د پیدا ایښت عوامل ګڼل کېدای شي. مانا دا چې صفوي حکومت مدحي او درباري شعر ته پاملرنه نه کوله او له سنتي او عرفاني آمیزو سره په تضاد کې و، او همدا لامل شو، چې شعر له دربار څخه ووځي او ټول اصناف د شاعرۍ د ادعا حق ومومي او جزیي چارو، پند، اخلاقو او ... ته پاملرنه را واړوي. له مدحي شعر څخه د ګټې نه لاسته راوړلو له امله شاعرانو د هند دربار ته مخه کړه او د هندوانو له تفکراتو سره د هغوی اشنایي هم تر یوې اندازې د سبک په بدلون کې اغېزناکه تمامه شوه. د خلکو اقتصادي بسیاکېدنه هم د دې لامل شوه، چې هر څوک د خپل وس مطابق په یو ډول نه یو ډول ادبیاتو، شعر او شاعرۍ ته مخه کړي او شعر د عامو خلکو په منځ کې دود شي. دې ټولو عواملو ورو ورو د هندي سبک د پیدا ایښت زمینه را منځ ته کړه.)) (۱۹: ۱۸۳)

همداشان ښاغلی جیلاني لبیب لیکي: د پخواني خراسان ځمکه ټولنیزو کړکېچونو د ال تیمور د کورنۍ د کشمکشونو په ګرداب کې ډوبه کړې وه. سلطان حصن میرزا او امیر علي شېرنوایي سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نړۍ پټې کړې وې. خاتم الشعراء مولانا عبدالرحمن جامي هم پر دې نړۍ نشته او هرات یې له شمال څخه د ازبکو شیبانیانو او له لویدیځ څخه د ایراني صفویانو له خوا په وېنو کې لت پت شوی دی. د هند بابریانو له ختیځ لوري څخه کابل او کندهار تر بلوسې لاندې راوستي دي، غواړي چې خپل قدرت په هریوا او سنایي غزنوي کې د خواجه انصار تر زېرنځای پورې ورسوي.

د ختیځ د رنسانس د مهال هېواد او د علم و ادب پالنځای اوس مخ پر ځوږ دی، پردیو تجزیه او پخپلو کې وېشلی دی. هنر او ادب په پخوانۍ بڼه نه دی پاتې او نور څوک د شاعرۍ مقام ته په ارزښت او لوړتابه نه دي ولاړ.

هو، د خراسان کولتور او تمدن له خپل پخواني نوم نښان، پراختیا او پرمختګ څخه برخمن نه دی او مرکزي دولت، چې د علم و ادب، تاریخ لیکونکي، ادب او ادیب ملاتړی او ستایوونکی دی، له منځه تللی دی. جامي، نوایي، بهزاد، کاشفي او نور د یوې زمانې د وروستي مېراث په توګه ثبت شوي دي، چې خراسان دغو د ادب او فضلیت خاوندانو ته په شرق کې د پوهنپالنې او هنر د خپراوي تر سرلیک لاندې له کولتور او ادبیاتو سره د عشق او مینې په لمن کې ښوونه کوله، هڅول یې او لوړاوی یې ورکاوه. پوهنه او هنر نور په درد دواء پېرېدونکي نه لري. هر ځای، څه په خراسان او څه د صفوي فارس په هېوادونو کې د هند او په ډهلي او اګره کې د هستوګنې لپاره د سفر هوډ کېږي. هغه هنرپالي، چې هغه ځای (هند) ته د تللو خیالونه په سر کې نه لري لږ لیدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـو ، ليکوالـو او چکامـه ليکونکيـو يـوه يـوه او ډلـه ډلـه خپـل زېږنځايونـه پرېښـوده او ډېری يـې د هندوسـتان هنرپـالوونکي هېـواد تـه تلل.

امـاني کـابلي، بنـايي کـابلي، کـاهي کـابلي، صـبوحي کـابلي، عبـدالرزاق مـدرس کـابلي، عشـقي کـابلي، عيـاني کـابلي، صـبوري کـابلي، فاضـاي کـابلي، فـارغي کـابلي، اتشـي کنـدهاري، بيکسـي غزنـوي، جهـانگير هـروي، عـزت هـروي، ميـرکلان هروي،ميـرک هـروي، نعمـت الله هـروي، سـاغري هـروي، فخـري هـروي، فصـيحه هـروي، فيـاض هـروي، صـالحي هـروي، ميلـي هـروي، سـيد محمـد هـروي، عتـابي تکلـو، بايزيـد هـروي، کـاهي سـبزواري، نيـازي بدخشـي، ملاشـاه بدخشـي، لعلـي بدخشـي، الله يـار بلخـي، شـيدا بلخـي، عـوض محمـد بلخـي، فيضـي بلخـي، کمـالي شـبرغاني، ميـر فخرالـدين ميمنـه گـي، تـاش محمـد کنـدوزي، خواجـه حسـن اسـتاذ فيضي او ارزاني د هغو کولتوريانو له ډلې ځخه دي، چې لـه پـوهې او کولتـور ځخـه د ملاتـړ او لومړيتـوب نـه ورکولـو پـه املـه يـې لـه هېواد ځخه لرې والی او د هندوسـتان هېـواد غـوره وګانـه. وايـي: کلـه چې محمد اسلم هراتي هندوستان ته لاړ نبه هر کلی يې وشو ، قاضـي و تاکل شو او شاه جهان د دغه پوه او مفکر انسان د وزن پـه کچـه ده تـه د سرو زرو (طلا ) شپږزره پنځه سوه سـکې بخشـش ورکـړې. (۲۲ : ۳۰۳ -۳۰۴ )

دايران د صفوي شاهانو په دربار کې، چې خپله يې لـه فارسـي ژبـې سره سمه اشنايي نه درلودله، هم وضعيت همداسې و. کـه کلـه ناکلـه د دوی له خوا شاعر او اديب ته کومـه پاملرنـه هم کېدلـه، هغـه بـه د اثـر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیعه توب له ا مله وه نه د ادیب او ادب د تشویق له امله. په فارس کې د صفوي لړۍ د درباري شاهانو القاب، عناوین، خبرې او محاورې زیاتره په ترکي ژبه وې.

په همدې حالت کې ځینو شاعرانو او ادیبانو، لکه: حکیم فراري ګیلاني، صفي اصفهاني، حیاتي ګیلاني، فغفور ګیلاني، عارف ایګي، الهي اسد ابادي همداني، سالک یزدي، سنجرکاشاني، نوعي خبوشاني مشهدي، محوي همداني، عالي شیرازي، شهرت شیرازي، عزمي شیرازي، ظهوري ترشیزي، ملک قمي، نظیري نیشاپوري، سالک قزویني، جعفر قزویني، رفیع خراساني، صوفي املي، انیسي شاملو، شاه پورتهراني، قاسم مشهدي، سلیم تهراني، سرمد کاشاني، صیدي تهراني، روح الامین اصفهاني، شکیبي اصفهاني، عتابي نجفي، غزالي مشهدي، فوجي نیشاپوري، ابوطالب کلیم کاشاني، صائب تبریزي، طالب املي، مولانا شکیبي، حاجي محمدجان، قدسي مشهدي او فیضي خپل هېواد فارس پرېښود او د هند لوري ته یې مخه کړه او په هغه ځای کې د نوم نښان او دوډۍ خاوندان شول. وایي: عبدالله خان زخمي د بابر له نوموتو کسانو ځینې حاجي محمد جان قدسي ته د هغې مدحې په بدل کې، چې د ده لپاره یې ویلې وه (( خېمه له خزانې، کارخانو او دوابې سره ټول د صلې په توګه هغه ته وبښل )). ( **۱۵ : ۲۵۷** )

د هند شاهانو او شهزادګانو په فارسي دري شعر باندې ویاړل او په دې اړه یې د خپراوي او لا غوړېدا لپاره هر کوښښ او زیار ته درنښت ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظهیرالدین محمد بابر شاه پخپله شاعر و. زامنو یې هر یو نصیرالدین محمد همایون، میرزا کامران، میرزا عسکري او میرزا هندال هم چکامې لیکلې او لمسی یې جلال الدین اکبر هم شاعر پېژندل شوی دی. له فارسي کولتور او ادب سره د هغه عشق او علایق د دې لامل شوه، څو په کابل او کندهار کې یې له فرمان لاندې حکمروایان هم د شاعرانو او ادیبانو پالنې او غوړېدنې ته پام واړوي. د جلال الدین اکبر هڅې لامل شوې، چې د فارسي شعر او ادب د غوړېدا په موخه د هند په خاوره کې د هرات د تیموریانو د مهال په شان یو ځل په تاریخ کې تجربه کړي، جهانګیر او مېرمن یې نورجهان دواړو چکامې ویلې او له شعر او ادب سره یې خورا مینه درلوده.

شهاب الدین محمد شاه جهان د جهانګیر زوی، ادب پالونکی او پوهه خورونکی انسان و. د تاج محل مانۍ چې هغه په اګره کې خپلې ګرانې مېرمن (ممتاز محل) لپاره جوړه کړه او خپل قبر یې هم پکې دی، د نړۍ له عجایباتو څخه ده. داراشکوه د شاه جهان زوی شاعر و او د خپل مهال د هندي کتابونو په ژباړه کې یې په دري باندې په زړه پورې برخه درلوده. زیب النساء مخفي د اورنګزیب لور او عالمګیر پاچا خپله چارواکي ډېری لیکوالان او ادیبان وو او د فارسي دري شعر په پېژندا کې یې پراخ لاس درلود.

هو، هندوستان د فارس، خراسان، ګنجه، ثمرقند او بخارا پر ځای د فارسي دري پوهنې، شعر او ادب د خپراوي او پرمختیا ځای ګرځېدلی وه. خپله په هند کې هم فاضلان، ادیبان او چکامه ویونکي زېږېدلي او لوی شوي وو، چې د فارسي ژبې د کولتوري حوزې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادب او هنر د ویاړ لاملین ګڼل کېدل، لکه: برهمن لاهوري، افرین لاهوري، احسن تربتي، فیضي فیاضي، شیدا فتحپوري، فقیر دهلوي، هاشمي دهلوي، جمالي دهلوي، عرشي دهلوي، مظهر اکبرابادي، بینش کشمیري، ګرامي کشمیري، سرخوش کشمیري، فاني کشمیري، اعجاز شاه جهان ابادي او جویا د کولتور له هغو مخکښانو څخه وو، چې د هند له خاورې یې سر پورته کړی او په هغه خاوره کې یې د فارسي ژبې او شعر د خپراوي او پرمختیا په موخه ګامونه اخېستي دي. ابوالمعاني مولانا میرزا عبدالقادر بیدل دهلوي په دې منځ کې ځانګړی دریځ ترلاسه کړی دی.

هو، صفوي فارس او خراسان کې شاعران او ادیبان یو له بله شندلي او ځانونه یې د درباري ژبې د تعریف شویو معیارونو پابند نه ګڼل، چې د تشویقوونکو او غوښتونکو په توګه یې د شعر او ادب د پراختیا او پرمختیا مسیر ټاکه. شاعران د خلکو له منځ څخه پورته شوي وو او د خلکو په منځ کې یې ژوند کاوه. د نورو په شان یې هم کار او کسب درلود او هم یې شاعري کوله.

له دې ډلې څخه اګهي تبریزي سوزنګري کوله، ظریفي تبریزي خورده فروشي درلودله، فنایي غلافي کوله، فقیري یخني ښوروا پخوله، وصلي تبریزي له مطربۍ څخه ګټنه کوله، امیر اصفهاني عطاري درلودله، مولانا یمیني سمناني او بزمي قزویني موچیان وو، محتشم کاشاني او ملا قدرتي د بزازۍ له دکان څخه ګټه وټه لاسته راوړله، سرمد کاشاني او نظیري نیشاپوري د سوداګرۍ ار وبار درلود، زکي همداني نعلګري کوله، امیر بیګ قصاب و، استاذ محمدرضاء خوانساري کارګري کوله، د طرحي شیرازي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

طراحۍ پلورنځای د هغه مهال د شاعرانو د ټولېدو ځای ګڼل کېده، میر الهي همداني او ملا شکوهي قهوه چیان وو. د یادولو وړ ده، چې دغو شاعرانو د لیکلو او لوستلو لپاره بسیا سواد نه درلود. (۱۵ : ۲۵۷)

له همدې امله په دې مهال کې عامیانه ژبه تر بل هر مهاله په شعر او ادب کې کارول او ښکاره کېږي. د صائب تبریزي ارسال المثلونه په ښه توګه سره د عامو خلکو د حکمت اصطلاحات او لغات په خپل شعر کې راوړي او متداوله د محاورې ژبه چې د نه اړتیا له امله د عربي ژبې څخه لرې د احساس، اړیکو، ورکړې راکړې او مراودې د بیان په موخه کارېدله، د چکامه ویلو په هنر کې ځانګړی ځای مومي. د بېر عام خلک د زرین کوب په وینا په شعر کې د ((شور او عاطفې له القاء نه زیات د حیرانوونکي حس د رامنځته کېدو)) غوښتونکي وو. له همدې امله د خیالي تصویرونو د تخلیق او نویو او تازه مضمونونو د ابداع په موخه کوښښونه زیات شول. (۲۱ : ۴۴۵)

امیر حسین اریانپور، په دې نظر دی، چې له دربارونو څخه د شاعرانو راوتلو او ولسي کېدلو یې دوی د ټولنې له ناخوالو او ستونزو سره ښه اشنا کړل او دغه حالت یې پخپلو شعرونو کې په ترخو بیانونو څرګند کړ. هغه د صفوي ایران پر مهال د شاعرانو په منځ کې د رمز وینې او رمز لټونې د رواجولو او بیانولو له کوټلو دلیلونو څخه، په هغه ټولنه کې د ازادۍ نشتوالي او د ځورونې شتون بولي. د هغه به باور د صفوي دربار دیني تعصب د چکامه ویونکو د بیان ازادي محدوده وله او هغوی هم لا چار د خپل باور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلام د څرګندولو په موخه د خیال او ابهام له تصویرونو څخه په ګټه اخیستنه کې زیاتی کاوه. هغه په خراسان کې د شاهرخ میرزاد د دورې له څېړنې د هغه مهال د چکامه ویونکو په شعر کې ((پېچلتوب، ابهام او تصنع)) لکه د مولانا عبدالرحمن جامي د وخت د شرایطو خرابوالی او د ((عقایدو پلټنه او د مخالفانو تکفیر او تعذیب)) په ګوته کوي. د هغه په وینا په هرات کې د هندي سبک د پیلامې رامنځته کېدلو لامل همدا دی. (**۱۵: ۲۵۲**)

زموږ هېواد ته د فارس د صفوي مهال د شاعرانو او ادیبانو تګ راتګ د خراسان هغه برخې ته، چې د هندي بابریانو له خوا اداره کېدله یوې خوا او زموږ د هېواد د ادب چکامو هنرمندان د هند په دربار کې او د هند د خپلو لیکوالانو او چکامه ویونکو عشق او علاقه د خراسان ځمکې ته له بلې خوا لامل شوی دی، چې هندي سبک زموږ په ژبه او ادبیاتو کې ښه و ځلېږي او زمونږ د هېواد پیوند د دغې ادبې یون سره ټینګ او کلک و ښیي. د کابل د طبیعي ښکلاګانو په هکله د صائب تبریزي قصیده، یوه له ډېرو مهمو اثارو څخه ده، چې د دغه په ستایلو کې د شعر او هنر له پخوانو څخه د یادګار په توګه پاتې ده.

طالب املي مخکې له دې، چې په هندي دربار کې د نوم او نښان خاوند شي، څو کلونه یې په کندهار کې تېر کړل. صائب تبریزي ډېر وختونه په کابل کې تېر کړل، صوفي املي او فغفور ګیلاني څه وخت په کندهار کې پاتې شول. غنیمت پنجابي څه وختونه په کابل کې واړول او احسن تربتي د هند د واکمنانو له خوا د کابل صوبه دار و ټاکل شو. جهانګیر هاشمي له جامي سره په هرات کې صحبت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبري اتري درلودې او فرقتي له فصيحي هروي سره، همدارنګه شيخ بهايي عاملي هم يو مهال د موفق او خواجه انصار په ښار کې ژوند تېر کړ. شاپور تهراني د کابل د ديوان خاوند و ټاکل شو او الهي اسد ابادي همداني څه وختونه په کابل او کندهار کې تېر کړل.

هغه ادبي پانګه، چې شاعرانو او اديبانو له خراسان او فارس له هېوادونو څخه هندوستان ته راوړه، له هنر او ادبياتو څخه د دغې ځمکې د دربار او درباريانو ملاتړ، د هند د حکيمانو او شاعرانو له خوا د جلا وطنو هڅول، چې په فارسي ژبه يې خبرې کولې او څه يې ليکل، د بې روزګارۍ او ناهيلۍ، په شعر او ادب کې د خلکو د محاوروي ژبې رواجول او په خيالي تصويرونو کې د غلو او زياتې نازک خيالۍ د شعري سبک د رامنځته کولو له کوټلو ټکو څخه دي، چې وروسته په هندي سبک و نومول شو، هر څو که پيل يې د خراسان په هرات کې و نه په اګره او ډهلي کې.

همداشان د هندي سبک د پيدا ښت ځينې بنسټيز لاملونه په دې توګه په ګوته کولی شو:

- مذهب
- هند ته سفرونه
- د اصفهان پراختيا
- اقتصادي وده
- له فرهنګ سره د صفوي پاچاهانو مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هندي سبک په پيدا ايښت کې بېلا بېل لاملونه ونډه لري، لکه مذهب، هند ته د شاعرانو سفرونه، د اصفهان ښار پراختيا، اقتصادي وده. او همدا شان له بله اړخه له مدحيه شعرونو څخه د عوايدو د نه ترلاسه کېدو له امله شاعرانو د هند دربارونو ته مخه وکړه او د هندي شاعرانو له فکر او خيالونو سره يې اشنايي پيدا کړه او همدا عوامل وو، چې د هندي سبک پيدا ايښت او ودې ته يې لار پرانيستله. همدا شان له فرهنګ سره د صفوي پاچاهانو بې کچې مينه هم د دغه سبک په پيدا ايښت کې ستره ونډه لوبولې ده.

په هندي سبک د شعر کالب يو بيتيز دی، چې د غزل بڼه لري او په دې توګه په يوه بيت کې بشپړېږي. کله چې د غه بيتونه يو په بل پسې راځي، نو د غزل بڼه خپلوي. شاعر ته بايده دي، چې لومړی مسره په نوي مضمون سره پيل کړي او مطلب يې نوی وي. دا چار د دې لامل کېږي چې ورځ په ورځ د تازه اړيکو د رامنځ ته کولو لپاره د شاعرانو امکان محدود شي او ورو ورو له چارو له نښلولو څخه لرې او ورو ورو د تعقيد او اغراق په لومو کې ښکېل شي او په شعر کې ابهام رامنځ ته شي، له همدې امله ده چې وايي په هندي سبک کې ابهام شتون لري. (۱۹ : ۱۸۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲ د هندي سبک صعودي او نزولي سیر

هندي سبک د خپل وخت ډېر مشهور سبک و، چې په سیمه کې یې ډېری پیروان درلودل، خو دغه سبک تر یوه وخت وروسته نزولي حرکت پیل کړل، چې دا حرکت ډېر لاملونه هم لري.

پر همدې موضوع ښاغلي بشیر سخاورز بشپړه رڼا اچولې، چې دلته یې راوړل اړین بولم:هندي سبک د وخت په سبکونو کې مشهور او بارز سبک بلل کېده، دغه سبک پر خپل وخت ډېر پرمختګ وکړ، خو د پرمختګ تر پړاو وروسته بېرته له یوه نزولي حالت سره مخ شو، دغه نزولي حرکت ته یې ښاغلي بشیر سخاورز کتنه کړې، چې نچوړ یې په دې ډول دی: "نورالدین عبدالرحمن جامي وروستنی وتلی شاعر دی، چې په شعرونو کې یې د لرغونتیا اصول او بنسټونه منعکس شوي تر هغه وروسته تر ډېرې مودې دا اوصول او بنسټونه د هندي سبک د دود له امله ونه غوړېدل او د ادبي بهیر تر رامنځته کېدو پورې په ایران کې د دغې تګلارې بیا رغاونه ترسره نه شوه. خو په افغانستان کې هندي سبک هغې کچې ته رسېدلی و چې د ادب د بیا راستنېدو په توګه دې کوم څه رامنځته شي. که څه هم د امیر عبدارحمن خان د دربار منشي چې واصل کابلي نومېده بیا یې عراقي سبک ته پام واړاوه او د حافظ له مریدانو نه دی پخپلو څو غزلونو کې یې د حافظ د شعرونو هرکلی کړی او هغه یې تضمین کړي دي. له دې سره سره د هغه لاره او هلې ځلې چې د هندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبک د لوړوالي لپاره يې وکړې، د دې سبک پلويانو پروړاندې لکه غلام محمد طرزي د محمود طرزي پلار او په هند کې ميرزا غالب، ډېرې کمزورې ګڼل کېږي، ځکه نوموړيو د هندي سبک په بدن تازه روح پوه کړل. د همدې وسعت او پراخوالي د سبک تر اوسه هم په هندي سبک کې داسې شاعران لرو چې د هغوی لپاره ادبي راستنېدل يا مطرح نه دي او يا يې هغه په بشپړه توګه له پامه غورځولي دي. محمد عظيم الفت ، محمد انور بسمل، سردار محمد حسن امضا ، محمد ابراهيم صفا ، سردار محمد عزيز عزيزالله قتيل ، عبدالعلي مستغني، نريم، شبر احمد مخلص ، غلام حيدر مزنب، محمد امين عندليب ونزيمي جلوه له دې ډلې څخه شمېرل کېږي. د شعر او هنر د غوړېدو په برخه کې د خپل واکمنانو هلې ځلې هند د پارسي شاعرانو او اديبانو لپاره د فرصتونو په خاوره بدل کړی و. د تېمور بابر نه وروسته چې په کال ۹۳۷ ه ق کې ومړ، امپراطور اکبر، نورالدين جهانګير، او شاه جهان د پاړسي ژبې شعر او ادب ته ډېره پاملرنه وکړه. د دوی ملاتړ له شعر او ادب نه دد دې لامل شو چې د ترکانو او مغلو نيوکې يې راپورته کړې او ستر خان ميرزا عزيز خان ته يې چې د جهانګير پاچا له خپلوانو څخه و دد دې له امله ګواښ وکړ چې ټولې چارې د خراسانيانو په لاس کې دي. دا هغه وخت و چې د هغه په حکومتي دستګاه کې پاړسي ژبه رسمي ژبه وه او دد دې لړۍ د حکومتي چارواکو په هڅونه نه يوازې ځينې کتابونه لکه تاريخ تذکره ، لغت او ادب په پارسي ژبه وليکل شول بلکې يو شمېر کتابونه له لرغوني هندي ژبې نه وژباړل شول او دعرفان له لارې اسلامي حکمت په پلي کېدو سره په بت پرستي هم نيوکې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشوي. پارسي شاعران هغه مهال دي ټاټوبي ته راغلل چې يا يې منصبونه ترلاسه کړل او يا يې هم پانګې و ګټلې ، له بلې خوا هندي پوهانو هم د دوی تر اغېزې لاندې په هندي سبک کې پنځونې وکړې.

پارسي شعر ۷۰۰ کاله مخکې د صرف، نحوې او عروض تر اغېز لاندې راغی او له بلې ژبې يې تغذيه کوله. دا ځلې د مغلو د دربار مېلمه شو او د هندي شعر سره اوږه په اوږه مخه ته په دې مېلمستيا کې يې خپله پياوړتيا ښکاره کړه، هندي فرهنګ هم وتوانېد چې خپله موسيقي نڅا او عرفان ننداري ته وړاندې کړي. په بېلابېلو برخو کې يې راکړې ورکړې دوام درلود.د هندي موسيقي چې ضرب په اساس ده،تال نومېږي و توانېده چې ۳۶۰ نور تالونه رامنځته کړي . د دې تالونو پېژندنې د عروض پياوړي بريدونه شاته ووهل چې بلاخره يې د هغې زماني په شعرونو کې هندي مالګه ورګډه کړه. کولای شو د هغې ډلې نه د ابوالمعاني عبدالقادر بېدل بداعت ياد کړو.

هغه له هندي ضربي موسيقۍ په ګټه اخيستنې خپل جوړ شوي وزنونه و کارول او څرګنده يې کړه چې د عروض قاعده تل تطبيق کېږي. له بلې خوا بودايي عرفان هم په مېلمه شاعرانو اغېز وکړ، دې عرفان نه يوازې د هندي روحانيونو په وسيله د مغولو په دربار کې خپل ځای وموند او زمور په فرهنګ يې اغېز وشينده، بلکې د موسيقۍ د وينا ييزې ژبې په واسطه يې دې ژبې ته لار وموندله. د کتک او کرناتک ، نڅا ، ډول ،ډول موسيقي دستګاوې ۳۶۰ ډوله تاله تازه عرفان نا آشنا همکارۍ دا ټول د مېلمنو شاعرانو د فرهنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه برخه خپل اغېز وشیندله ، او مېلمه شاعران یې خپل ځان خواته وکاږل. دا جاذبه د دواړو لـه خـوا د منلـو وړ ده ، هنـدي او پاړسي شاعران پرته له دې چې د یوبل پر وړاندې غبرګون وښیي پر یوبل پر یو بل یې اغېز وکړ. هېره دې نه وي چې د فضاد مغولو چې ظالمانه تاریخ یې درلـود جـوړه کـړې وه. خـو اوس دا ده فرهنګـي ولسونه ددې هند ملاتړي شوي وو.

مهاجر شاعرانو لکه عرفي شیرازي ، قدسي مشهدي، ظهوري ترشندي، کالب آملي، کلیم کاشاني، صایب تبریزي او ځو تنه نور د یادونې وړ دي په دې وخت کې مشهورې تذکرې لکه ، میخانه، ماثر رحیمي، خزانه عامره، او طرات الخیال په هند کې ولیکل شول. چې په دې ټاټوبي کې یې د پارسي شاعرانو ډېروالی او د پارسي شعر پیاوړتیا په ګوته کوله. ددې دوو فرهنګي یوځایوالي هندي سبک لا پیاوړی کړ. د هندي او مغلو دوستي د پارسي شعر د روزنې لامل شوه. په دې وخت کې هندوانو پارسي ژبې زده کړه پیل کړله او آن ځینې د پارسي ژبې وتلي شاعران شول. دلته د لومړي ځل لپاره مذهب و نه توانېد چې د فرهنګو تر منځ برید جوړ کړي. هندي شاعرانو د پارسي شاعرانو د شعرونو دیوانونه جوړ کړل چې له هغې ډلې نه چندربهان لاهوري برهمن د یادونې وړ دي. هندي لیکوالو یوازې شعرونه نه بلکې د نعت په تدوین او تاریخ د شاعرانو تذکره او ځینو نورو لرغونو آثارو ژباړې ته متې بډ وهلې. د مغلو دربار د بابل اسطورې بیانولې خو دې تو پیر سره چې په بېلابېلو ژبو کې بېلتون نه رامنځته کاوه.بلکې فرهنګونه یې پیاوړې کول. بېدم خان چې په (۹۶۸ ه کې ومړ) ترکي او فارسي شعرونه یې ویل او زوی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرحیم خان چې خان خانان نومول شوی و په ۱۰۳۴ ه کې ومړ او په پارسي ترکي او هندي شعر ویل. لګه ځنګه چې وویل شو، د عربو له لاس بري نه وروسته دا دویم پړدی فرهنګ و چې زموږ په فرهنګ یې مهم اغېز وکړ په دې تو پیر سره چې عربو د عجمو له فرهنګونه سره ورانه وه، او په دې هڅه کې وو چې خپله ژبه په نورو ومني. خو د هندیانو فرهنګ د مغولو په منځګړیتوب د پارسي فرهنګ ترځنګ پېژندل کېده چې له دې نه داوړه خوا شاعرانو او لیکوالو ګټه پورته کوله، عربو په خپل هوډ او تعصب سره هڅه کوله چې خپل فرهنګ په نورو ومني خو پر وړاندې یې هندي او اصلي پارسي ژبو هندي راکړه ورکړه درلوده. د همدې اصل له مخې ددې زمانې هندي پدیدې د هنر د پراختیا له نظره برخه مندې وې او وتوانېدلې چې د فرهنګونو اختلاط له مخې کولای شو ددې ګډولې نه څو ځانګړنې راواخلو.

۱–د هند په موسیقۍ کې د غزل رامنځته کېدل: د پارسي شعر تر راتګ د مخه په هند کې کلاسیکه موسیقي وه، دا موسیقي که څه هم سندرییزه وه، خو سندرغاړي شعرونه نه ویل بلکې له خپل ستوني نه یې داسې آوازونه ایستل چې بودایي عرفان یې څرګند او دې آوازونو ته به تان ویل کېده.

په هند کې د مغلو په زمانه کې سندرغاړو پارسي شعر په ځانګړې توګه غزل یې د تصنیف به یې وایه. چې د موسیقۍ دغې ډول ته یې غزل ویل کېده.

غزل د مغولو په دربار کې رامنځته او بیا د هند په ډېرو لرو برخو کې وغځېدو چې نن غزل د هند او افغانستان د موسیقۍ له ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهمو برخو څخه شمېرل کېږي. او د مشهور غزل لیکوونکو څخه مهدي حسني، غلام علي، جګجیت سنګ او انواب جهوتا د یادونې وړ دي.

۲ – د شعر نویو وزنونو رامنځته کېدل:

ځکه ځینو شاعرانو د شعر ویلو لپاره ساحه تنګه ولیده په دې برخه کې میرزا عبدالقادر بېدل بدعتونه لري.

۳ – د نوي فلسفې رامنځته کېدل چې د جلال الدین اکبر هڅونې دي دا نوې فلسفه د الهي فلسفې په نوم مشهور ه ده.

هغه کسان چې د دې فلسفې وړاندې کوونکي دي په دې باور لري چې د ټولو انسانانو د عاګانې یوازې په یوې نقطې پورې اړه لري چې د پاک الله (ج) ذات دی، نو پر دې اساس باید د بېلابېلو مذاهبو ترمنځ څ توپیر نه وي، ځکه ټول مذاهب بلاخره یوه پایله لري. جلال الدین اکبر چې د دې فلسفې پلوی و، خپله مفکوره یې په عمل کې پلې کړه، د هغه په دربار کې هندوان، مسلمانان، او عیسویان څنګ تر څنګ کښېناستل.

۴ – له هندي میناتورۍ سره د پارسي میناتورۍ یوځای کول چې بلاخره یوه نوې نقاشي میناتوري منځته راوړه چې د مغول میناتورۍ په نامه یادېږي.

۵ – له اسلامي معمارۍ سره هندي معماري یوځای کول چې بلاخره لویې ودانۍ منځته راغلې لکه شاهي مسجد، شالیمار باغ، تاج محل او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مغلو مشهور امپراطور جلال الدین اکبر د هنر په دودولو کې نسبت نورو ته ډېره برخه واخیسته، دا ځکه چې ده په خپله ډېر شوق درلود چې د هنر لوړولو پوړیو ته ځان ورسوي، د هغه په زمانه کې د هند مسلمانان او هندوان یوځای د هند په اساسي اداراتو کې په کارونو بوخت وو، چې د مشهورو وزیرانو نه یوتن چې ډېر پوه سړی و اوبریل نومېده په خپله پوه وتوانېد چې د وزیرانو ستر مقام تر لاسه کړي او په لږه موده کې د دربار له نژدې کسانو څخه وشمېرل شو.

د جلال الدین اکبر د ډېرې پاملرنې له امله چې هنر ته یې درلوده هندوانو د پارسي ژبې زده کړې پیل کړې او په پارسي ژبه یې شعرونه او دیوانونه ولیکل. اکبر لیکوالان او هنرمندان په یو گوټ کې را ایسار کړي و او له دې گوټ نه یې په کلکه پلوي کوله او دا یې نه پرېښوده چې خوک دې دین او په نورو نومونو د لیکوالانو او هنرمندانو مخه ونیسي.

د اکبر په زمانه کې د اسلام ، عیسویت او هندو مذهب استازي سره کښېناستل خبرې او مذاکرات یې وکړل ددوی حقیقت موندلو لپاره یې خپلې هلې ځلې وکړې. اکبر خان د خپل عمر ډېره برخه په زده کړه کې تېره کړه. او د هغه د مخه درناوی یې پوهې او زده کړې ته یې درلود د ډېرو نورو شاعرانو د راتگ لامل شو، دوی د ډېرو لرو سیمو نه لکه کندهار ، کابل، تبریز، اصفهان، سند ، لاهور او بنگال څخه هند ته راغلل. له اکبر نه وروسته د دې کورنۍ نورو حاکمانو هم د پارسي ژبې د پرمختگ په برخه کې زیار وایست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په دې وخت کې ځمکې پر مخ جنت و تا به ویل د دې ټاټوبي ټول حاکمان مکلف دي چې دا لوی هېواد د پرمختیا په لور بوځي، آن شېرشاه سوري چې د اکبر خان امپراطور سره یې ورانه وه په دې فکر کې و چې پېښور نه تر بنګاله پورې لویه لاره جوړه کړي دا لویه لاره تر اوسه جوړه او د موټرو د تګ راتګ لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي. شېرشاه سوري غوښتل چې د هند شمالي پرخې د کمربند په شکل وتړي. او ځان د اکبرخان پر وړاندې چمتو کړي. د دې کار له امله ډېر خلک وتوانېدل چې په اسانۍ سره سفرونه وکړي او ډېر لرو سیمو ته نه لکه بنګال نه پېښور ته لاړشي، دې لویې لارې نه یوازې سوداګرو او وزیرانو سره مرسته وکړه بلکې شاعران او لیکوالان هم په اسانۍ سره یو ځای نه بل ځای تلل راتلل چې د دوی پر ذهنونو یې اغېزه درلوده هند د دوه اویا ولسه وګړي په بڼه د شاعرانو د ذهن پر پیاوړتیا اغېز وکړ. هر ډلې او ولسونو خپلې تجربې د نورو ولسونو او ډلو سره شریکولې او د بومي شاعرانو پر پوهه یې خپل اغېز وکړ او د نورو ولسونو له تجربو سره آشنا شول. د هند لویه وچه څه ناڅه خوندي هېواد و او دا ارمتیا د خپل شاهي دربار ته د لرو سیمو نه د هنرمندانو د تګ او راتګ لامل شوه.او د نورو تر اغېز لاندې یې روزنه ولیدله. مخکې تر دې زمونږ هنرمندانو د عربو تر اغېز لاندې اسلامي هنرونه یې روزل خو اوس یې دا وضعه چې د فارس یعنې د هنر زمونږ هنر سره ګډه پوله لري ځکه د دې ولسونو مذهبي لرغونتیا د عربو له راتګ نه دمخه وه خو عربو دوه آریایي ولسونه سره بېل کړل. نو ویلی شو چې د بومي ژبې هندي سبک شعر نه دی بلکې له هغه سره د عربو، حکمت د پارس تخیل ، د هند عرفان ګډ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم دا تعریف بشپړ نه دی نو ښه به وي چې وو ایو په دې سبک کې د دوه اویا ولسه فکري خوند دی چې د سرو زرو وړانګې د سفر په پلوشو کې خورولي دي.

د مغولو امپراتوري په حقیقت کې د هغه د انعطاف نقطه هم وه ځکه له هغه وروسته امپراتوري مخ په ځوړ روانه شوه او ونه توانېدل چې خپله امپراتوري بیا جوړه کړي. د مغولو ستر امپراتور اورنګزیب سره له دې چې خپلو فتوحاتو ته یې د هند په ځلورو لارو کې پراختیا ورکړه خو ددې امپراتورۍ لړۍ هم وتړله. دی په ډېر تعصب سره پرمخ ته او د سرتیري په جامو کې یې د اسلام توره په لاس ونیوله او د نورو ادیانو له پیروانو سره یې جنګ ته ملا وتړله او خلک یې اسلام دین ته رابلل او د سوله ییز ژوند اصل چې اکبر په واسطه منځته راغلی و له منځه یوړ. هندو لیکوال او شاعران یې له دربار وشړل. هندي روحانیون سپک شول. اورنګزیب په دې هم بسنه ونه کړه او امر یې وکړ چې له هندوانو دې جزیه واخیستل شي او اورنګزېب په دې نامه چې خپل اسلامي رسالت یې تر سره کړی وي د ډېرو کسانو سرونه یې پرې کړل. نو هندو هنرمندان د متعصب حاکم له درباره وشړل شول او د پارسي ژبې ګلیم ددې په نوم چې د مسلمانو ژبه ده د هند له درباره ټول شو او هندوانو ځانونه یې د مسلمانانو پر وړاندې ولیدل.

که چېرې د اکبر تګلاره تعقیب شوې وای پارسي ژبه به د هند په هر برخه کې غځېدلې وه او نن به ښایي په زرګونه ستر شاعران لکه چندر بهان لاهوري غوندې هندي سبک ته مخه کړې وه. که د اورنګزېب او نورو مسلمانانو حاکمانو تعصب له حده نه وای وتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـن بـه پارسـي ژبـه د هنـد د رسـمي ژبـې پـه توگـه پـاتې وه. او وتلـي شاعران لکه ټاگور بـه خپـل کتـاب گینـا انجلي پـه پارسي ژبـه لیکلی وای خو اورنگزېب نه د مقالو سرې و او نه هم پـه څه پوهېده. نوموړي د هغه پـه ډېرو برخو حملې وکړې او یـوازېنی کتـاب یعنـې قـرآن بـه تـل ورسره و چې هغه بـه یې پخپله او یا پـه بل کس تلاوت کاوه.

نڅـا، موسـیقي، نقاشـي، هنـر او آن شـعر دده پـر وړانـدې خپـل ارزښت لـه لاسه ورکـړی و، د وخت حـاکم دي ټولو هنرونو تـه پـه سپکه سترگه کتل او خلکو تـه یې بدعت معرفي کړی و.

د اورنگزېـب تعصـب یـوازې د هنـدو او مسـلمانو تـرمنځ ببلتـون رامنځتـه کـړ بلکـې د مسـلمانانو پـه مختلفـو ډلـو کـې هـم ببلتـون راوست، د شعیه او سني پـه نوم هم مسایل راپورته شول.

اورنگزېب د تـورې پـه زور پـه هند او گاونډیو هېوادونو حکومت وکړ خو کله چې مړ شو واکمني یې ورځ تـر بلې کمزورې شـوه. د هغـه تعصب د وگـړو پـه منـځ کـې ملي حس ژونـدی کـړ او خلکـو د مغولـو حاکمـانو پـر وړانـدې غبرگـون وښـود. هغـو مـذهبونو چـې د سـولې پـه اسـاس منځتـه راغلـي وو د مغـول واکمنـۍ پـر وړانـدې یـې خپـل حساسیت څرگند کړ. له هغو ډلو نـه سکان چې مخکښ یې گرونانـگ چـې سـوله مـل سـړی و لـه خپلـو پلویـانو یـې غوښـتل چـې خپـل حساسیت د مغولـو حاکمـانو پـر وړانـدې څرگنـد کـړي. د دوی دیـن لرغـونی نـه و د پیدا ایښـت یـې اپلـه څـو لسـیزې کېـدې. لـه اورنگزېـب وروسته د حاکمانو پر وړاندې یـوازې سـکانو نـه بلکـې مراتـه و جټـانو هـر یـوه غوښـتل چـې پـه امپراتـورۍ کـې ونډه واخلي. لـه بلې خـوا دا قومونه د خپل ځان نه پـه ډېرو لوړو واکمنیو کې راگیر پـاتې وو. هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمني چې غوښتل يې مغول امپوراتوري ته خاتمه ورکړي د نادرشاه د لښکرو لوی واک و خو دا ځلې نه د اسلام دین لپاره او نه هم د پارس فرهنګ د دودولو لپاره ، بلکې د مغولي امپراتورۍ د غنیمت د لاسته راوړنو لپاره چې اوازه یې په ټوله نړۍ کې خپره وه.

نادرافشار مغول پاچا محمد شاه ته په پاني پت کې په کال ۱۷۳۹ م کې ماته ورکړه او خپله بریا یې د دوه سوه زرو کسانو په وژلو ونمانځه. هغه دوې میاشتې وروسته هند پرېښود او ډېر غنایم لکه تاج طاووس ، کوه نور الماس او نورې ګاڼې، خطي نسخې، درې سوه فیلان، لس زره اسونه ، لس زره اوښان او پنځه لس زره کروره نغدې روپۍ تر لاسه کړې. نادر افشار نور هندوستان ته مخه ونه کړه او آن حیران شو چې مغولو ولې دا ټاټوبی خپله پلازمېنه ټاکلې ده.په داسې حال کې کولای شول لکه پخواني پاچاه ظهیرالدین بابر کابل خپله پلازمېنه وټاکي. لنډه دا چې نادر افشار د یوه غښتلي پوځي په توګه د هند فرهنګ نه شوای درک کولی ، افغان واکمن احمدشاه دراني هم د مغولو د دولت نه خپله برخه واخیسته. هغه اته ځلې پر هند بریدونه وکړل او په خپلو ټولو بریدونو کې یې د مغولو پاچا دې ته اړو بست چې افغانستان ته ډېر باج ورکړي او په خپل وروستي برید کې یې نوی مغولي پاچا د عالمګیر دوم په نوم پر تخت کښېناوه او په ۱۷۵۴م کې یې د پنجاب ، کشمیر، او سند سندونه تر لاسه کړل. مرهټیانو ، سکانو او جټانو پرله پسې خوځښتونه د نادر افشار او احمدشاه بابا او د واک و بش پر سره د مغولو شهزادګانو ترمنځ جګړې فرهنګ ته د کارکولو موقع له منځه یوړه او هغه اور چې اورنګزېب بل کړی و د هغه د اولادونو لمنې ته ورسېد ، د مغول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربار ليکوال او شاعران نورنو خوندي نه وو او هرې خواته لاړل.د دې ټولو ستونزو سره مغولي امپراتورۍ خپل وروستي حد ته نه و رسېدلی او د نورو قومونو مداخلې دولت کمزوری کړی و او اورنګزېب ته يې د راتلو زمينه برابره کړې وه. د انګرېزانو د امپراتورۍ پوځونه په خپل ټول واک سره د مغلو پر سر ..... او هغه يې له منځه يوړل. انګرېزانو د دې لپاره چې د مغلو امپراتوري بيا راژوندۍ نه شي پارسي ژبې ته يې په دې امپراتورۍ کې يې برخه درلوده ګوابن راپورته کړ او انګرېزي ژبه يې د هغه وخت رسمي ژبه وټاکله ، او مسلمانان چې د مغلو امپراتورۍ پوځونه وو. په مهمو کارونه ونه ګومارل او هغوی يې د هندوانو پر وړاندې سپکول، انګرېزانو هغه هندوان چې د تعصب په وخت کې له درباره اېستل شوي وو ، په ستر مقامونو کې وګومارل او هندوانو او مسلمانانو په منځ کې يې کرکه رامنځته کړه . که د اکبر سياست د اتحاد او دومخې جوړې پر اساس و ، خو انګرېزانو د قومونو ترمنځ تفرقه واچوله. ترڅو د پوځونو له اختلاف نه ګټه پورته کړي. هغه کمزوری کړي او له خپلو پوځونو سره يوځای کړي، هندوانو په ظاهري ډول پلويان موندلي و او ځينې چې د اورنګزېب د توري په زور مسلمان شوي وو بيا يې هم خپل خپل دين بدل کړ او عيسويت يې غوره وګاڼه ترڅو انګرېزانو ترنورو هم نږدې شي او مسلمانانو ته هم يوه لويه ضربه ورکړي. د مسلمانانو او هندوانو تر منځ لوی درځ رامنځته او په پايله کې دا هبواد په دريو هېوادونو ووېشل شو چې هغه هند ، پاکستان، او بنګله دېش دي. مسلمان له هندو او هندو له مسلمان سره جګړې وکړې په ميليونونو خلک ووژل شول، ډېرې ودانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسوځېدلې انځور ګرۍ او خطي بالرزښته اثار یا له منځه ولاړل او یا انګرېزانو تر لاسه کړل او انګرېزانو خپل موزیمونه پرې سینګار کړل. په دې توګه د مغولو امپراتوري له اورنګزېب نه وروسته مخ په ځوږ شوه. او له هغې سره د هندي سبک شعر او د هند پارس، ترک، عرب، او ماورانهر هېوادونو بېلابېل هنرونه ورو ورو له منځه لاړل، د انګرېزانو له مداخلو نه وروسته د ولسونو په منځ کې خپلمنځي اړیکې ډېرې شوې او شاعران ددې اړیکو قرباني شول. د مغولو شاعرانو اړیکې له پارسي ژبو سره پرې شوې او په پایله کې هغه څه چې مور. د هندي سبک په نامه په ایران او سیمه کې پېژندو له هغه سبک سره چې د هند په مغولي دربار کې و، توپیر درلود او د هغې ډلې نه د میزا غالب شعري سبک په ایران کې پردی وګڼل شو. د ایران او هند شاعرانو اړیکې یو له بل سره پرې شوې.د مغولو دربار شاعران نور نو خوندي نه وو، نو ځکه ځینو یې ایران او ځینو نورو یې افغانستان ته مخه وکړه. احمد شاه دراني سره له دې چې د مغولي دولت په کمزوري کولو کې یې ونډه درلوده، خو خپله یې شعري طبعیت درلود او یو دیوان هم ترې پاتې دی. ده او زوی یې تېمور شاه په خپل دربار کې ډېر شاعران راغونډ کړي وو، واقف، ابن قاضي او الفت هم د مغول له دربار نه راپاڅېدل او افغانستان شاهي دربار ته راغلل خو دا دوره هم ډېره لنډه وه، ځکه انګرېزانو کله چې خپلو بریدونو ته پراختیا ورکړه او کابل یې ونیو، نو د شاعرانو لپاره کابل هم خوندي ځای نه و، ځینو افغان شهزادګانو د خپل ادبي ذوق له مخې ځو تنه شاعران خپلو فرهنګي حوزو کې سره را ټول کړل. او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل يې د دوی په ورو فرهنگي کارونو شعري نړۍ ته خدمت وکړي.

خو دوی په يو ځای کې نه و او د ژوند ډيره برخه يې په جگړو او تيښته تيره له نو دا گډوډي هندي سبک ته د نورو شاعرانو د نه راتگ لامل شو، نور نو کوچني دربارونه هم ددي شاعرانو ذهنونه نه روزل او د عصر شاعرانو يوازې په دې بسنه وکړه چې يوازې په خپلو شعرونو کې د هندي سبک د شاعرانو د شعرونو هرکلي وکړي او تضمين يې کړي. په دې توگه د هندي سبک شعر په افغانستان او ايران کې ضربه وليده او له پرمختگ نه پاتې شو، چې کولای شو دا حالت په درېيو برخو کې وځيړو:

۱- د مغلو په زمانه کې پارسي ژبې ته ډيره پاملرنه کيده ترهغه چې انگريزانو خپله پښه هند ته د ننه کړه او په خپلو دسيسو يې هندي ولس ته داسې وښوده چې گني دا پردۍ ژبه ده او د هغو خلکو ژبه ده چې د ډېرو هندوانو د وژلو لامل شوي دي. په دې توگه پارسي ژبې ته لږه پاملرنه ددې ژبې د شاعرانو د کميدو لامل شوه.

۲- د هندي سبک ځينې شاعرانو کابل ته راغلل او د شاهي دربار له خوند يتوب نه يې گټه پورته کړه. دوی دلته خپله شاعري کوله خو له بده مرغه د دې خوندي توب موده لنډه وه ځکه د انگريزانو يرغل پر کابل شروع شو.

۳- د مغولو د واکمنۍ پر مهال د هند او ايران ترمنځ اړيکې خرابې شوې، په ايران کې داسې ويل کيدل چې هندي سبک د پرديو شاعرانو آن که چيرې ووايو د دې سبک بنسټ ايښودونکی امير

(c) ketabton.com: The Digital Library

خسرو بلخي دی. دا شاعر په هند کې زیږېدلی، عمر یې په هند کې تیرشوی او په هند هیواد پورې اړه لري.

د هغه ضدیت له مخې چې ایران او هندي حاکمانو یو له بل سره درلود، د ایران حاکمانو له هندي سبک سره طبع نه لګېده او په ورستیو کلونو کې د هندي سبک ستر شاعران لکه میرزا عبدالقادر بیدل او میرزا غالب د موجودیت نه سترګې پټوي، خو په دې کلونو کې د بېدل اشعاروته ډېره پاملرنه شوې ده. د مذهب بېلوالی هم په دې خپلمنځي اړیکو کې ډېر رول درلوده، ځکه فعل دربار هندي سبک شاعران سني مذهبه وو او د ایران په شیعه مذهبې ټولنې کې دویځای نه شول.(و ېب: آریایي)

## ۲–۳ د هندي سبک مهمې ځانګړنې څه دي؟

هندي سبک د نورو سبکونو په پرتله یو شمېر متمایزې ځانګړنې لري. ښاغلی هېوادمل د دغه سبک مهمې ځانګړنې داسې را پېژني:
((۱–د دغه سبک تابع اثار زیاتره ابهام او پېچلتیا لري.

۲–د دغه سبک خاوندانو د خپلو پخوانیو شعري عنعنو په پرتله نویو مضامینو او د تازه فکر د پیدا کولو خوا ته توجه کړې ده.

۳–ایجاز د دغه سبک بل خصوصیت دی، د دغه سبک شاعران زیاتې خبرې په لږو الفاظو کې بیانولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – دقيقو تشبيهاتو او ځانګړو استعاراتو په دې شعرونو کې ځانګړې وده موندلې ده.

۵ – د دې سبک په شعرونو کې متلونه، عامې محاورې او محلي اصطلاحات ډېر استعمال شوي دي.

۶ – د هندي سبک پيرو شاعران د خپلو اشعارو د هر شعر په مسريو کې الفت او تناسب ساتي، د تقابل او مراعات النظير، مدعا ومثل او حسن تعليل ادبي صنايعو په پاللو کې ډېر پياوړي دي.

۷ – د دې سبک اشعار د يوه خاص آهنګ او لحن (غاړې) لرونکي دي.

۸ – د دې سبک غزلې زياتره د مينې پر محور چورلي، حال دا چې تر دې سبک د دمخنيو شاعرانو په غزلو کې متنوع موضوعات بيان شوي دي. د دې سبک غزلې ځينې موضوعي تشتت لري او هماهنګي هم په کې نه ليدل کېږي.

۹ – د هندي سبک پيرو شاعران زياتره د نکته سنجۍ او مضمون تراشۍ په فکر کې وي او د شعر د معمولو قواعدو چندان خيال نه ساتي. د غزلونو د بيتونو زياتوالی او د قافيې د تورو تکرار او نور، د هندي سبک په پيروۍ ايجاد شويو شعرونو کې ليدل کېږي.

۱۰ – افراط او تفريط، اغراق او مبالغه د هندي سبک په تابع اشعارو کې زيات ليدل کېږي.)) (۲۸ : ۲۱۲ – ۲۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان ښاغلي محی الدین هاشمي هم د دغه سبک مهمې ځانګړنې دا سې را لنډې کړې دي: ((

۱-د نویو او بکرو خبرو لپاره هڅه، ۲-مضمون افریني، ۳-د لفظي او معنوي صنعتونو په زیات استعمال سره د وینا پېچلتیا او کږکیچ،۴-په مبالغه کې غلو او افراط، ۵-د مضمون او تشبیه د رامنځ ته کولو لپاره له چاپېریال او شاوخوا څخه استفاده، ۶-د ارسال المثل صنعت زیاته کارونه، ۷-د تخیل زیاته ژورتیا.)))(۳۲: ۹۲)

همدا شان ځینې نورې ځانګړنې هم شته، چې د هندي سبک په تبارز کې مهمه ونډه لري، لکه:

۲-۴ ژبه:

شعر ته د بېلابېلو طبقو مخه کول د دې لامل شو، چې د کوڅې او بازار ژبه هم شعر ته لار وکړي او د شعر د ویيونو دايره پراخه شي او ډېر پخواني ادبي لغتونه له شعر څخه مخه ښه وکړي، تر دې حده چې ویلی شو د هغې دروې شعري ژبه نوې فارسي ده او د خراساني سبک د ځانګړنو څرک ورکې نه شته.

د دې سبک ژبه باید رښتینپاله ژبه وبولو، ځکه د هغې دروې د خلکو حقیقي ژبه ده.

۲-۵ فکر:

هندي شعر معناپال شعر دی نه جوله پال. شاعران یې مانا ته ډېره پاملرنه کوي نه ژبې ته. هغوی د عالم په طبیعت کې د مضمون

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړونې پـه فکر کې وي او لـه همدې ډېره ګټنه کوي. د هندي سبک ادبيـات ميناتوري ادبيـات دي او د مانـا طـول او عـرض او همد اشـان تحسين او اعجاب يې له يوه بيت نه ډېرېږي.

د هندي سبک د شاعرانو کار د تېرو پوهانو د غنـايي، عرفـاني او فلسفي مطالبو ترجمه ده، چې د هندي سبک پـه کالب کې يې کوي. پـه همدې دوره کې د هندوانو د دودونـو، مذاهبو او ادابـو کلمې او افکار هم شعر ته لار پيدا کړې ده.

۲ – ۲ ادبيات:

پـه هنـدي سـبک کـې بـديع او بيـان تـه چنـدان پاملرنـه نـه کېـږي. ((البتـه تشـبيه د دغـه سـبک بنسـټ جوړوي، خو نور ادبي صنايع پـه کـې لـه تصـادف پرتـه نـه کـارول کېـږي، ځکـه د هنـدي سـبک شـعر حيرانـوونکي مضـامين او عجيبـې او غريبـې رابطـې لـري.)) (۱۸: ۱۹۸)

د هندي سبک د شعر ژبه لـه کنايو، تشبيه او استعارو ډکه ده، خو تر ډېره په کې تلميح ته پاملرنه کېږي، ځکه چې تلميح پـه مضـمون جوړونـه کـې ډېـر رول لـري او مضـمون جوړونـه د هنـدي سـبک بنسـټ جوړوي.

مسلط شعري کالب غزل دی، داسې غـزل چې حد او حدود نـه لـري او حتـا څلوېښـتونو بيتونـو تـه هم ورسېږي، ځکـه شـاعران يې يـو يـو بيت جوړوي او که کوم بيت ترې کم و زيات هم شي د غـزل پـر بيتونـو اغېزه نه کوي، او د قافيې تکرار په کې عادي خبره ده، ځکـه شـاعر پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې يو بيتيز سبک کې بيتونه د قافيې او رديف په تار سره تړي او دا قافيه که تکرار هم شي کومه خبره نه ده.

په دې سبک کې اوږده رديفونه هم دود لري، بيتونه د ارسال المثل بڼه لري، بيتونه خوله په خوله پاته کېږي او د شاعر نوم هېرېږي، په دې توګه ويلی شو چې د بيت مشهورتيا او د شاعر د نوم مجهولتيا د هندي سبک د شاعرۍ يوه مهمه ځانګړنه ده.

دا او دې ته ورته ځينې نورې ځانګړنې لکه د مينې د اروا پوهنې بيانول، ښکلا پنځونه، د ژوندانه په اړه ژورې خبرې، نادر الفاظ او ترکيبونه، د معنا نازکي او نزاکت، مينې او حسن ته ډېره ترجيح ورکول او په دې برخه کې مبالغه، غلو او ان اغراق، د مينې د وصل، هجران او بېلتون دردونه بيانول، د انساني ژوندانه د هيلو او هوسونو واقعي تمثيل او بيان، انتقادي، ټولنيزو او اخلاقي مسايلو انځور او دې ته ورته نور هغه څه دي، چې د هندي سبک شاعري له نورو سبکونو څخه ورباندې توپيرېږي.

د دغه سبک په پيروانو کې دغه نومونه ډېر مشهور دي: کليم کوشاني، نظيري نيشابوري، عرفي شيرازي، عبدالقادر بيدل دهلوي، صايب تبريزي، غني کشميري، وحيد قزويني، طالب آملي، صابر کرماني، تاثير تبريزي، قاسم مشهدي، مسيح کاشاني، سليم تهراني، واعظ قزويني، رفيع مشهدي، حزيني لاهيجي، قدسي مشهدي، دانش مشهدي، ظفرخان حسين، محمدعلي شيرازی، نجيب کاشانی، ميرنجات اصفهاني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلتـه بـه د هنـدي سـبک د شـاعرۍ پـر ځینـو لفظـي او مفهـومي ځانګړنو هم لړه رڼا واچوو او په سر کې به د دغه سبک پر مهم فکتور یانې مدعا مثل خبرې وکړو:

۲ - ۷ مدعا مثل

مـدعا مثـل د هنـدي سبک مهمـه ځانګړنـه بالـه شي. مـدعا مثـل د ادبي او معنوي ښايستونو له ډلې هغه صنعت دی، چې پـه شعر کې د يـوې ادعـا لپـاره مثـل يـا يـو کـره دليـل راوړل شـي. ښـاغلی اسـدالله غضـنفر وايـي، ((مـدعامثل د هنـدي شـاعرۍ خـورا مهـم خصوصـيت دی. دلته د مرکبې تشبيه غوندې ځو مشـبه او مشـبه بـه موندلای شـو، خو له مرکبې تشبيه يې فرق دا دی چې په مـدعا مثـل کې شاعر هم يـو ذهنـي مفهـوم عينـي کـوي او هـم د مشـابه مثـال پـه راوړلـو سـره د يـوې ادعا ثابتول او توجيه کول غواړي)).

همداشان نوموړی زياتوي: ((د مـدعامثل بنيـاد پـه تشـبيه ولاړ دی. په هغه بيت کې چې مدعا مثل وي، معمولا پـه يـوه مصرعه کې شـاعر يـوه ادعـا وکـړي او پـه بلـه مصـرعه کـې د ادعـا د ثـابتولو لپـاره مثـال راوړي. د نولسمې پېړۍ شاعر ميرزا حنان بارکزی وايي:

په کثرت د اسباب نه شي مطلبونه
په دوو ژبو دوې خبرې نه کړي مار

شـاعر پـه لـومړۍ مصـرعه کـې ادعـا کـړې ده چـې هـدف تـه رسـېدل خامخـا پـه دې پـورې غوټـه نـه دي چـې کـافي وسـايل او امکانـات دې ولرو. دی په دويمه مصرعه کې همدا خبـره د يـوه مثـال پـه ذريعـه زمـوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترگو ته دروي او وايي چې مار که څه هم د يوې په ځای دوې ژبې لري خو خبرې نه شي کولای. په دې بيت کې تشبيهي رابطې وينو: د لومړۍ مصرعې ( مطلبونه ) د دويمې مصرعې له ( دوو خبرو ) سره او د لومړۍ مصرعې د ( اسبابو کثرت ) د دويمې هغې له ( دوو ژبو ) سره تشبيه شوې دي. مدعا مثل د تشبيه د کورنۍ يو صنعت دی خو له عادي تشبيه يې توپير په دې کې دی چې:

(۱) په مدعا مثل کې د مثال راوړلو له لارې د يوې ادعا د ثابتولو هڅه روانه وي مگر په عادي تشبيه کې ممکن دغسې هڅه نه وي.

(۲) په مدعا مثل کې معمولاً مشبه او مشبه به تريوه زيات وي.

(۳) په مدعا مثل کې د تشبيه توري ( لکه، هسې ، په شان... ) نه وي.

(۴) په مدعا مثل کې دا امکان زيات دی چې د تشبيه وجه بيان نه شي.

همدا شان ښاغلي مجيب الرحمن اميري په دې اړه ليکي: (( په مدعا مثل کې د ادعا او د ادعا د اثبات او تقويت لپاره د مثل په راوړلو کې ډېر دقت په کار دی، مانا دا چې مثل يا دليل بايد د ادعا مطابق راوړل شي، داسې نه چې ادعا يو څه وي او مثل بل څه راوړل شي، يانې د ادعا او د مثل ترمنځ د مفهوم د نژدېوالي او ذاتي همرنگۍ او مشخصاتو شتون اړين دی.

په شعرونو کې يې د راوړلو گټه داده، چې شاعر خپله ادعا او خبره وربانديې ثابته او کره کوي، يانې که شاعر يوه ادعا وکړي، ممکن ډېر خلک يې ورسره ونه مني، خو که خپلې ادعا ته يو کره

ثبوت وړاندې کړي، ممکن ډېر خلک يې ومنې. همداشان مدعامثل د کلام د ښايست لامل هم کېږي. کله چې يوه خبره وشي او بيا ورته مثل او بېلګه هم راوړل شي، نو ډېره پخېږي او د کلام ښکلا ورسره يو پر دوه کېږي. دلته به مو د ښاغلي پسرلي له شاعرۍ د مدعامثل يوه بېلګه را واخلو، چې په ښومره فنکارۍ يې کارولې دی:

د فساد چاره په پاک او قوي لاس شي
د کمزوري جراح لاس کې نشتر ربړدي
د زلمو وينو جذبو ته به ښوک ټينګ
شـــــــــــــــــي
چې بخار د ځمکې وخوځي غر ربړدي
که کيسې مې يوه له غره وي يوه له سمې
هېمشه په ماته خوله کې خبر ربړدي

په پورتنيو بيتونو کې د مدعامثل صنعت راوړل شوی دی. د دريو واړو بيتونو په لومړنيو مسرو کې يوه ادعا شوې او بيا د ادعا د پوخوالي لپاره يو مثال ورکړل شوی دی.

په مدعا مثل کې د ادعا او د مثل ترمنځ هماهنګي او تشبېهي اړخ ډېر مهم دی. پورتني بيتونه له همدغه اهميته برخمن دي، ځکه د هرې ادعا لپاره مثل په موزونه او قوي تشبېهي توګه راوړل شوی دی. په لومړي بيت کې د قوي عظم خبره مطلب ده، خو قوي عظم هم د قوي او پاک ځواک زېږنده دی، چې ځواک او قوي عظم پاک نه وي، قاطع نه وي، رښتونی نه وي، هغه داسې مثال لري، لکه د کمزوري جراح په لاس کې نشتر. ځکه کمزوری جراح له هره اړخه کمزوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، د وس ژبـه يـې پـرې وي، زړه نـازړه وي، قـاطع نـه وي او نـه شـي کولي چې په پوره ډاډ او باور سره اقدام وکړي.

په دويم بيت کې کله چې د زلميو جذبې وېښې شي، دا مانا لري، چې هېڅوک ورته بيا د ټينګې نه وي. دلتـه هم د همدې ادعا لپاره يو تشبيهي مثال راوړل شوي دی. هغه دا چې وېښې جذبې د ځمکې لـه بخار سره تشبيه شوي. د ځمکې بخار چې وخوځېږي، دومره زور او قوت لري، چې لوی لوی غرونه او ځمکه رېږدولی شي. د ځمکپوهنې د علم له نظره ځمکرېږد يا زلزله د ځمکې د بخار د خوځېدو لـه امله منځ ته راځي. د دغه حالت او د زلميو د وېښو جذبو ترمنځ تشبيه راغلې ده. يانې په لومړۍ مسره کې يو مطلب ذکر شوی او بيا د هغه لپاره په بهر چاپېريال کې يو په زړه پورې مثال وړاندې شوی دی او ذکر شوی مطلب ورباندې قوي او کره شوی دی.

په درېيم بيت کې هم يو مطلب ذکر شوی او بيا د مطلب د ادعا د بنسټ او قويتوب لپاره يو غوره مثال وړاندې شوی دی. که د يوه چا خبرې سر نه سره خوري، يوه له يوه او بله له بل څه کوي، نو دا داسې مثال لري، لکه ماته شوې خوله، چې همېشه په کې خبره رېږدي. ))
(۳: ۱۲۰)

استاد مجاور احمد زيار ليکي: ((مدعا مثل د هندي شاعرۍ خورا مهم خصوصيت دی. دلته د مرکبې تشبيه غوندې)) څو مشبه او مشبه به موندلای شو خو له مرکبې تشبيه يې فرق دا دی چې په مدعا مثل کې شاعر هم يو ذهني مفهوم عيني کوي او هم د مشابه مثال په راوړلو سره د يوې ادعا ثابتول او توجيه کول غواړي. دغه تخنيک په کلاسيکو استادانو کې تر هرچا ډېر د شيدا په شاعرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې وینو. په اوسنو کې ښاغلی جلان یو داسې څوک دی چې له مدعا مثل سره یې جوړه ده. مثال:

وخت څومره ساده دی چې تېپي مو په رسۍ تړي

چا پر(په) شګو ربګو د دریاب مخه نیولې ده

په اوله مسره کې شاعر یوه ادعا وکړه. په دویمه مسره کې یې د هغې د اثبات لپاره تصویري مثال راوړ. دلته هم د مرکبې تشبیه غوندې د مشبه او مشبه به ارتباط وینو.(چا ) د وخت،(تېپي ) د دریاب او(رسۍ ) د شګو ربګو معادل دی.

## ۲–۸ تخیل او تفکر

تخیل او تفکر د شعر هغه مهم توکي دي، چې شعر او شعریت ورنه جوړېږي. هر هغه فکر، چې د تخیل جامه واغوندي او د په ښکلو تصویرونو کې وړاندې شي، نو شعر شي. ځکه شعر مخیل کلام دی، که فکر هم وي، د تخیل په جامه کې به راځي. د شعر په نړۍ کې تخیل او تفکر نه بېلېدونکي توکونه دي، یانې په شعر کې فکر له تخیل پرته شاعرانه کېدای نه شي او تش تخیل هم څه مانا نه لري، نو ځکه فکر او تخیل چې دواړه سره یو ځای شي، نو شعر شي او شاعرانه پیغام او مفهوم د شعریت په انداز کې لېږدوي. مصطفی سالک تخیل د فطرت د تصوراتو ترکیب بللی او وایي(( زما په خیال تخیل په خپل انتهایي منزل کې د فطرت د تصوراتو ترتیب او ترکیب دی، هر څو که د فطرت اجزا او دغه تصورات له مختلفو مرحلو نه تېرېږي، خو اصل څیز فطرت دی، که فطرت نه وای تصورات به یې هم نه وو، نو فطرت پېژندل هم ضروري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فطرت څه شی دی؟

د دې سوال لپاره پوهانو ډېر ځوابونه ورکړي دي، خو زه به دلته یوازې د رونلډ ډبلیو هیپ برن تعریف ذکر کړم. نوموړی وایي: ( په عامه ژبه کې له فطرت نه زه ټول هغه شیان مراد اخلم، چې په هغو کې د انساني صنعتگرۍ لاس نه وي، زه دلته ټول ممکن اختلافات نظر انداز کوم، چې خلک یې د فطري شیانو په هکله لري.

دلته د یوې خبرې وضاحت ضروري دی، چې فطرت ته د خدای ج صنعت ویل شوی دی ( او دی هم ) لېکن د تخیل مراد یوازې فطرت نه دی، د انسان د لاس جوړ شوی صنعت هم د تخیل لپاره په کار را تلای شي، یانې هر هغه څیزونه، چې د انسان د پنځو حواسو په دام کې را تلای شي، تصورات یې د تخیل مواد دي. بغیر له دې پنځو حسونو نه یو بل حس هم شته، چې د جمالیاتو عالمانو یې ذکر کړی دی. لکه سیسرو چې وایي: ( حس څه داسې تنزیهي څیز نه دی، چې د تصور په دام کې راځي، حسن که د حواسو په گرفت کې را هم نه شي، بیا هم زړه د دې ادراک کولی شي. )

د سیسرو دا خبره خو سمه ده، چې زړه د حس ادارک کوي، خو دا خبره یې چې حسن څه داسې تنزیهي څیز نه دی، چې د تصور په دام کې راځي، سمه نه ده، ځکه چې که زړه هم د ښکلا ادراک وکړي، په انساني ذهن کې یې تصور قایمېدای شي او عجیبه خبره خو دا ده، چې نوموړي له ادارک سره تړلې خبره کړې ده او که تصور نه وي، نو بیا هغه ادارک نه بلکې احساس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیر را به شو اصلي موضوع ته، لکه وړاندې چې مې وویل: فطرت او نور محسوسات د احساس، ادراک، شعور، حافظې قوه امتیاز له مرحلو نه تېرېږي، دغه تصورات یو ځای کېږي او یو نوی انځور منځ ته راځي. دغه قوه چې تصوراتو ته ترکیب ورکوي، تخیل دی.)) (۱۲: ۷۵-۷۶)

خو دا هم ویل کېږي، چې تخیل د زمان او مکان په قید کې نه شي را تلی. په همدې هکله قیصر اپریدی لیکي: ((د تخیل لپاره ضروري ده، چې هغه دې د زمان او مکان له قید نه ازاد وي، ولې چې که په مقید صورت کې تخیل په یوه مکان کې کار کولو، نو بیا زمان (ماضي، مستقبل) ته به یې لاس نه رسي.

... تخیل د زمان او مکان له حدبندیو نه ازاد یو داسې خپلواک قوت دی، چې ماضي حال ته راوړلی شي او حال مستقبل ته رسولی شي، په ذره کې جهان پیدا کولی شي او جهان ته له ذرې سره نسبت ورکولی شي، اسمان ځمکې ته را کوزولی شي او ځمکه اسمان ته خېژولی شي.)) (۱: ۱۲-۱۳)

باید ووایو چې په شعر کې تر تفکر تخیل د ارزښت وړ دی، ځکه د شعر په اړه ډېری پوهانو دا هم ویلي، چې شعر د تخیل زېږنده دی او یا شعر یو مخیله کلام دی، نو له دې ښکاري چې شعر تر ډېره بریده د تخیل پر پایه ولاړ دی او له تخیل پرته شعر هډو جوړېدلی هم نه شي او تفکر هم له تخیله پرته په شعر کې ښکلا ییز اړخ نه لري، ځکه هر تفکر چې مخیل شي، نو شعر ترې جوړ شي او په دې توګه په شعر کې تخیل له تفکر پرته او تفکر له تخیله پرته ښکلا ییز جاج او رنګ نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفیسور ربنواز مایل هم تخیل په شعر کې تر هرڅه ارزښتمن توک ګڼي او وايي: ((له شاعرۍ سره د تخیل ذکر چې شاعري له تخیل نه وي ډېر وي، لا ډېر په ویلو او لیکلو کې راځي، لکه حمزه صاحب چې د پښتو د یوه ډېر ساده بیان او ډېر معروف شاعر په تپوس چې په غزل کې څه شی وي، ده ورته ویلي وو چې په غزل کې تخیل وي.))

په دې توګه ویلی شو، چې په شعر کې تخیل ډېر لوړ مقام لري او هر تفکر چې په شعر کې وړاندې کېږي، نو باید تخیل په جامه پوښل شوی وي او له تخیله پرته تفکر شاعرانه خوند او رنګ نه لري.

((هر هغه فکر چې مخیل شي نو شعر شي، خو کله کله تشې خبرې هم مخیلې کېږي، موزونې کېږي او شعري کالب ته لوېږي، خو په اصل کې هغو ته شعر نه ویل کېږي. شعر هغه دی، چې یو فکر او پیغام په خواږه او له نازه ډک انداز کې تر لوستوال یا اورېدونکي پورې ورسوي. ځکه پخوا د شعر په اړه دا نظر و، چې شعر د شعر لپاره دی. شاعرانو به ځان ته شعرونه ویل او مانا یې هم له ځانه سره ساتله. خو اوس شعر د خلکو لپاره دی او خلکو ته ویل کېږي. شاعر د خپل مادي او معنوي چاپېریال ترخې او خوږې، مثبتې او منفي خواوې د تخیل په وسیله انځوروي، شعریت په کې اچوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي.

لوړ خیال او لوړ تفکر د شعر په ښکلا او خوږلنۍ کې لوړ ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لويو شاعرانو کمال هم دا دی، چې په شعر کې يې د تخيل تر څنګ د تفکر هم ډېر خيال ساتې. شعر هم تر ډېره بريده په تخيل سره ښکلی کېږي، تش تفکر هومره خوږلني نه لري، خو د تخيل خوا ږه ورسره يو ځای شي، نو ښه ترا خوږلني په کې پيدا شي. په تخيل کې تر ډېره بريده له مبالغې هم کار اخيستل کېږي، خو مبالغه هم بايد موزونه او متناسبه وي، دومره هم نه وي، چې د شعر تخيل قوت ته زيان ورسوي. ډېر ځله دا سې هم کېږي، چې د يوه شاعر په شعر کې تفکر تر تخيل غښتلی وي، يا تخيل تر تفکر غښتلی وي، يا يوه ته يې فکري شعر ويل کېږي او بل ته يې تخيلي شعر. خو زما په اند که چېرې تخيل او تفکر دواړه سره متناسب راوړل شي، شعر ته زيا ته ښکلا ورپه برخه کوي.

تفکر او تخيل په شعر کې انځورول او بيا يې په شعريت سمبالول ساده خبره نه ده. دا کار د شاعر مشاهداتي، اداراکي، تخيل او تفکري قوت پورې تړلې خبره ده او ښاغلی پسرلی په دې کار لاسبری او بريالی غزلبول دی. نوموړي په ډېر لوړ انداز تخيل او تفکر ته په خپلو غزلونو کې ځای ورکړی او تر ډېره بريده يې د دواړو ترمنځ متناسب توازن هم ساتلی دی. که څه هم په شعريت په اصولو کې د شعري توکو ترمنځ انډول او تناسب ساتل تل ممکن نه وي، ځکه کله تخيل پر تفکر قوي، کله تفکر پر تخيل قوي، که احساس او عاطفه کمزورې او کله قوي، کله وزم او آهنګ نا منظم او کله منظم، کله د الفاظو ښکلا تته او کله ځلانده، په هره توګه که د مهمو شعري توکو ترمنځ تناسب موجود وي، د شعر په رنګينۍ او ښکلا کې ډېر رول لري.)) (۳ : ۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲ – ۹ خیال آفریني او مضمون افریني

(( خیال افریني او مضمون افریني د هندي سبک د شاعرۍ ډېره مهمه ځانګړنه ده. حتا تر دې چې په شعر کې خیال نه وي، شعر يې نه شو بللی او د شعر يو تعريف هم دا دی، چې مخيل کلام دی. نو له دې ښکاري، چې په شعر کې خيال افريني ډېر ستر ارزښت لري.

خيال افريني او مضمون افريني تر يوه بريده سره تړلي مفاهيم دي، ځکه که چېرې په شعر کې مضمون پنځول کېږي، نو اړينه ده، چې د خيال پر چينه به لمبول کېږي، که نه نو تش مضمون شاعرانه او غزليز رنګ نه لري او که خيال هم پنځول کېږي، نو په وزرونو کې يې يو فکر او يو مضمون نغښتی وي. په دې توګه دواړه توکي يو له بله سره ذاتي او معنوي رابطه هم لري.

په هندي سبک شاعري هم تر ډېره بريده د خيال آفرينۍ او مضمون آفرينۍ يو متناسب او موزون امتزاج دی. ځکه که د ده هر غزل ولوستل شي، نو سړي ته جوتېږي، چې د نوي خيال، نوي فکر او مضمون رنګ په کې غالب دی.

د غزليزې شاعرۍ يوه ځانګړنه دا هم ده، چې هر غزل نوی خيال، نوی فکر، نوې کلمې او الفاظ، نوی مضمون، نوي ترکيبونه او نوی انداز لري. ځکه دا کار هم پراخې مطالعې ته اړتيا لري او هغه څوک چې په ادب او فنونو کې پراخه او هر اړخيزه مطالعه ونه لري، نو د نوي مضمون او نوي خيال د پنځولو ځواک او توان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک هم هغه شاعري خوښوي، چې له تنوع ډکه وي، د فکر او خيال تکرار په کې زيات نه وي او لوستونکي ته نوي نوي فکرونه او نوي خواږه ورکړي.

دلته به مورد د بېلگې په توگه د هندي سبک د معاصر شاعر استاد پسرلي يو غزل راوړو او وبه گورو، چې تر څومره بريده په دغه لوی هنر او فنکارۍ کې بريالی دی.

سر چې نه پاتېږي څه نشه به سر کې پاتـه شي
خاپي د فکرونو په زاړه دفتر کې پاتـه شي
ښار د حقيقت ته ستړی فکر د ماضي بشر
گرد د رهروانو شي په نيم سفر کې پاتـه شي
هر سړي يوه لنډه منډه کړې په شهرت پسې
شوق د ځلېدلو بس په مړه شرر کې پاتـه شي
اور چې لگېدلی وي ټول لاس ټيټوو وژنو يې
ظلم نه دی څه دی که شرير په شر کې پاتـه شي
يو الوتل غواړم که هر څه وي د سپرغۍ په څېر
دا حسرت مې مه غواړه چې بال و پر کې پاتـه شي
بلـه ستا د لاس ښبه به کومه زه محشر ته وړم؟
پرې يې ږده چې غشی مې په خوږين ځيگر کې پاتـه شي
مه درسره وړه پسرليه هغلته مادي غوښتې
دا زړې پېښې بايد د ناز په در کې پاتـه شي

په پورتـه غـزل کې د فکر، خيال او مضمون د تنوع ښه څرک لگېدای شي. د غزل له سره تر پايه يو فکر او يو خيال نه دی راوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی، بلکې څو فکرونه او خيالونه سره غوټه شوي او يو نوی له رنگينيو او خوږلنيو ډک غزل يې پنځولی دی. حتا دا هم بايد ووايو چې په دغه غزل کې تر ډېره د کلمو، عبارتونو او ترکيبونو نوی والی او په خپل منځ کې د هغوی ذاتي اړيکې په داسې انداز او بدل شوي، چې د هر لوستونکي پر زړه او ذهن اغېزه کوي او هغه تر خپل جادويي تاثير لاندې راولي. که څه هم په دغه غزل کې د ابهام رنگ هم يو څه جوت دی، خو ابهام په خپله يو هنر دی او دا هنر د هندي سبک د شاعرۍ يوه ځانگړنه هم ده. ډېر ځله لوستونکي له هنري ابهام څخه هم خوند اخيستی شي، ياني که ورباندې پوهېږي نه، خو خوند ورکوي.

نن ورځ غزل يوازې په يوې ځانگړې موضوع پورې نه شي محصور بېدلی، بلکې د غزل هر بيت او ان هره مسره يې يوه موضوع او يو فکر انځورولی شي. په غزل کې د تفکر، تخيل او مضمون افرينۍ له اړخه مهم معيار د تفکر يا مضمون او تخيل ترمنځ د توازن او تناسب ساتل دي. که موږ پورتني غزل ته پاملرنه وکړو، دغه اصل په ښه توگه په کې په پام کې نيول شوی دی. د دغه معيار ښه والی په دې کې دی، چې لوستونکی پر موضوع له شک او مغشوشتيا ساتي او دا کار د شعر د ذاتي قوت لامل کېږي.)) (۳: ۲۴ – ۲۲)

### ۲ – ۱۰ انځور جوړونه

انځور جوړونه په شعر کې لوی کار دی، هغه شعرونه چې فکر او خيال په کې په ښه توگه انځور شوی وي، د شعر په ښکلا کې لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رول لري. که موږ وګورو نو له تخیل نه تصویر جوړېږي او له تصویر نه شعر جوړېږي، خو شاعرانه تصویرونه هم باید تش تصویرونه نه وي. که څه هم تش تصویرونه شعر ته داخلېدای شي، خو د شعر په شعریت او ښکلا کې بیا رول نه لري او نه هم کوم فکر او مانا لېږدوي. شاعرانه تصویر هغه دی، چې هم تصویر وي او هم یو فکر او پیغام ورسولی شي او همداشان د فطرت درک شوي تصورات په ذهني بڼه داسې سره و اوبي، چې د انسان د وجدان د افاقي فضا د منلو وړ وي. داسې تصویرونه نه وي، چې هغه د عقل او منطق له ساحې وتلي او د منلو وړ نه وي.

په شعر کې هم لکه مخکې مو چې وویل تخیل تر انځورجوړونې مقدم دی، یانې لومړی تخیل منځ ته راځي او بیا هماغه تخیل د الفاظو په وسیله انځوریز کېږي.

کېدای شي لوستونکو ته دا پوښتنه پیدا شي، چې انځور څه ګټه لري؟ په دې اړه باید ووایو، چې انځور د شعر مهم توک دی، هر هغه شعر چې انځوریز وي، د خلکو فکر او پاملرنه ځان ته اړولی شي، ځکه انځور پېښې او حالتونه په حرکت او خوځښت راولي، شور په کې پیدا کوي او د لوستوالو پام ځان ته ور اړوي (۳ : ۲۹). لال پاچا ازمون هم په همدې تړاو لیکلي: ((د انځور یوه ګټه هم دا ده، چې لوستونکي یا اورېدونکي ته پیغام د خوند په جامه کې ورکوي. هغه نظمونه چې انځوریز وي او د بېلګې په توګه که ماشوم ته په کې څه وړاندې شوې وي، هغه تر بل هر څه ښه یادوي. عکس متحرک نه ساکن وي، خو تصویر یا انځور د الفاظو یوه داسې اوډنه ده، چې خوځنده وي، رنګونه په کې په حرکت کې وي، چې څوک یې ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا یې لولي، هغه هم په حرکت راولي، دغه حرکت په ذهن کې بېرته د تصور له لارې پیدا کېږي. )) (۲: ۴۵)

نو ځکه ویلی شو، چې انځور په شعر کې ډېر مهم ارزښت لري. د بېلګې په توګه که ووایو (یار مې را روان دی!) دومره خوږه نه لګېږي، خو که ووایو (لمرمخی یار مې را روان دی!) دا جمله خوږه لګېږي، ځکه د تشبېه پر مټ انځور په کې را پیدا شو او انځوریزه شوه.

په شعر کې د انځورونو جوړښت او ترکیب او بیا په منطقي ډول د هغو مسجم کول څه ساده خبره نه ده. زموږ یو شمېر شاعران د انځور په جوړونه کې د انځور جوړونې ارونو ته پاملرنه نه کوي او حتا د یو شمېر شاعرانو په شعرونو کې داسې انځورونه وینو، چې د جوړښت له مخې د فطرت د تصور او تخیل ترمنځ د منطقي تړاو څرک په کې نه لګېږي او دا کار د شعر معنوي جوړښت ته ستر زیان رسولی شي.

دلته بیا هم د هندي سبک د معاصر شاعر استاد پسرلي یو غزل رواړو، چې څنګه یې عیني او ذهني انځور کړي او د انځور جوړونې پر ټولو اصولو یې برابر کړي او همدشان یې د خیال او تصویر ترمنځ یو ښه تناسب او توزان هم ساتلی دی:

خدایه زړه مې کړې د حسن د باغ زړی
چې هر ځای یې ږدم او مینه ترې ټوکېږي
ربه روح مې د ښکلا د ډنډ پري کړې
چې د حسن په جلوو کې دې پټېږي
هر نفس ته مې د نور وزرې غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــې در وړي مــې ســتا د يــادو تــر درشــله
هــر نظــر مــې د لمــر ســپينه پلوشــه كــړې
چـــې جـــا ربږي دې د حســـن لـــه بورجلـــه
(۴:۱ــ

( ۲

په پورتني شعر كې كه موږ وګورو نو ، د حسـن د باغ زړى، د مينې تو كېدل، د ښكلا د ډنډ پري، د حسـن پـه جلـو و كـې پټېدل، نفس تـه د نـور وزرې غوښـتل، د لمـر سـپينه پلوشـه او د حســن بورجـل، هغـه انځورونه دي، چې شاعر پـه ډېر كمـال سره را وړي. ځكه د هر انځـور او خيال ترمنځ ښه توازن ساتل شوى دى. شاعر خپـل زړه د حسـن د بـاغ له زړه سره ورته كول غواړي ترڅو پـه هر ځـاى كې يې چې ږدي، مينـه ترې وتو كېږي. دلته د حسـن بـاغ او د مينې تو كېدل د تخيـل او انځـور ترمنځ ښه توازن مـنځ تـه راغلـى، دا تـوازن د تخيـل پـر معيـار برابـر دى او لـه همدې امله دغـه انځـور د شعر پـه خوږلنـي او شعريت كې ښـه ونډه لرلې ده.

په دويم بيت كې هم د ښكلا ډنډ او د حسـن جلوې، ډېر ښـكلي او پـر ځـاى انځورونـه دي. دلتـه روح د ښـكلا د ډنـډ پـرې كېـدل او بيـا د حسـن پـه جلـو و كـې د هغـه پټېـدل، د يـادو انځورونـو او تخيـل تـرمنځ مناسـب تـوازن ښـيي. ډېـر ځلـه شـاعران پـه شـعرونو كـې د تخيـل او انځور ترمنځ تـوازن تـه پـام نـه كـوي، او همـدا لامـل وي، چې شعر يې هومره خوند او رنګ نه لري.

همدا شان په دريم او څلورم بيتونو كې د نـور وزرې، د لمر سـپينه پلوشــه، د يــادو درشــل، د حســن بورجــل هــم پــر ځــاى او مناســب

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځورونه دي او د يادو انځورونو او تخيل ترمنځ توازن او تناسب ته هم ښه پاملرنه شوې ده.

همدا شان په پورته شعر کې باغ، روح، پري، نور، نفس، لمر، بورجل او درشل، هغه قراردادي سمبولونه دي، چې پسرلي په نوي انداز سره کارولي دي. سمبولونه هم د ترکيب او بلاخره د انځور په جوړولو کې ښه جلوه کولی شي. په ځينو حالاتو کې د تخيل د انځورونې لپاره سمبول ډېره خوږلني رامنځ ته کوي، لکه په پورته بيتونو کې چې د تخيل د انځورونې لپاره په مناسب انداز کې کارول شوي دي. ( ۳ : ۷۰–۷۱ )

ډاکتر لطيف بهاند د انځور جوړونې په روهي وېبانه کې هکله ليکي: ((د انځور جوړولو لومړنی اصل دا دی چې شاعر له خپلو ازميښتونو او ذهني انځورونو څخه په ګټې اخستنې، د هغه ادراک په مقابل کې چې دی يې له يوه ټولنيز ذهني او عام ثيز څخه لري، يو جزيي، عيني او ځانګړی ثيز رډي. په بله وينا شاعر د خپل خام فکر د روزلو په بهير کې هڅه کوي نوي وسايل پيدا کړي او د هغو له لارې خپل فکر نورو ته ورسوي؛ نو له دې کبله شعر د انځورونو په درلودلو سره، له يو پياوړي تمثيلي(سمبوليک ) اړخ څخه برخمن دی. دا له دې کبله چې په شعر کې هر ويی(لغت ) ، هر عبارت او هره جمله د يوه ټولنيز، ذهني او عام ثيز برخه ګرځېدلې او ځانګړې شوې ښه يې ده، چې د هغې ښکارندويي کوي او شاعر بيا په دې بهير کې ځانګړی رول لري. په عادي مفاهيمو او له طبيعت سره د انسان د ژوند په اړيکو کې، يا له طبيعت سره د طبيعت په اړيکو کې د شاعر د ذهن تصرف له اره د دغو اړيکو پر وړاندې د ده د وينښېدو پايله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، او د شاعر ذهن یوازېنی ذهن دی چې کولای شي د دغو اړیکو د احساساتو په وخت کې راویښ شي، تر ډېرو لرو ځایونو پورې رسېدلای شي او دا اړیکې ډېرې پراخېدلای شي؛ حتا د طبیعت په کچه او د بشري فرهنګ په کچه.

د انسان د ژوند هره برخه د طبیعت له یوې برخې سره په څو ډوله پیوند او اړیکې لري او له دغو پیوندونو او اړیکو څخه کله کله شاعر یو پیوند او یوه اړیکه احساسوي او د هغې پر وړاندې را ویښېږي، هڅه کوي او د خپل ویښوالي پایله مورته د انځورونو په مرسته راښيي.شعر د شاعر د همدغو هاندونو او هڅو پایله ګڼل کېږي، چې د انځورونو یو غونډ یې هم بللای شو.

... انځور داسې یو تولنیز او هر اړخیز ویی دی، چې د هر ډول تشبېه، هر ډول استعارې، هر ډول سمبول او هر ډول اسطورې مفهوم رسولای شي. په لنډ ډول ویلای شو چې تشبېه او استعاره دواړه انځورونه دي. تشبېه او استعاره په شعر کې ډېر ارزښت لري، ان تر دې چې له تشبېه او استعارې څخه پرته، شعر، شعر نه دی.))

دا د هندي سبک یو اصل دی، چې استعارې او تشبېه ګانې په یو شمېر سمبولونو باندې مزینوي او د شعر ښکلا لا پسې ښکلې کوي. د نوموړي په شاعرۍ کې د سېمبولو مسئله به د سېمبولونو په بحث کې وڅېړو.

انځور یا تصویر په شعر کې په ځانګړې توګه د هندي سبک په شاعرۍ کې ډېره مهمه نقطه ده، ځکه د هندي سبک شاعري پر استعارو، تشبېه ګانو، مدعامثل، حسن تعلیل، مراعات النظیر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمبولونو او دې ته ورته ښکليو صنايعو باندې را څرخي او انځور يا تصوير هم د همدې توکو په مرسته جوړېږي. قيصر اپريدي هم په شعر کې د انځور يا تصوير جوړلو په برخه کې چاپېريال هم د انځور په تشکيل کې مهم بولي او وايي: ((د شاعر په لفظي تصوير کې يوازې تصوير نه وي، بلکې تصوير سره يو محيط او ماحول هم موجود وي. د ماحول د را جوتولو عمل مصور هم ترسره کولی شي، خو د مصور په تصوراتي ماحول کې د لمحاتو تبادله نه کېږي، يا ډېره محدوده وي. د دې برعکس شاعر سره په شعر کې په يوه وخت تصوير، د تصوير چاپېرچل او په دې چاپېرچل کې د بدلېدونکو لمحاتو يو زماني تصور هم د محسوساتو په دايره کې راځي، بلکې د شاعر په تصوير کې کله کله له يوه نه زيات تصويرونه او د هغې په مناسبت د لمحاتو د تبادلې سره سره مختلف مناظر هم متعارف شي، خو په دې کې مهمه او د يادولو وړ خبره دا وي، چې دا تش مناظر او خوځنده عکسونه نه وي، چې د لوستونکو په حواسو مازې د حظ او لذت پېرزوينه کوي، بلکې په دې ټولو تصاويرو کې تر يوه فني ربط لاندې د يوه مفهوم په لور فکري ترغيب هم موجود وي.)) (۳: ۷۴)

د تصوير په جوړښت کې د تشبيه او استعارې رول ډېر جوت دی، قصر اپريدي بيا هم دې مسئلې ته اشاره کړې او ليکي: ((هر کله چې موږ په دې خبره غور کوو، چې يو شاعر په شعر کې پيکر سازي او انځورگري ولې کوي، نو د دې په جواب کې سردست سوال مخې ته راځي، چې يو شاعر تشبيه او استعارې ولې اختراع کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اگر چې د دې تاکلي او موثر جواب د تشبېه او استعارې د تعریف په سلسله کې د بیان علم په تفصیلاتو کې موجود دی، خو دلته یې په اضافي صورت کې اختصاراً دومره قدرې ذکر کوو، چې کله د یوه شاعر په ذهن کې خیال یا تصور په مجرد حیثیت کې موجود وي او دی پوهېږي، چې په خارج کې د دستیاب او مروجه الفاظو او اصطلاحاتو په ذریعه د دې نېغ په نېغه او هوبهو اظهار د امکان له حد نه بهر یا کم نه کم گران دی، نو شاعر د داسې مادي وسیلې لټون را واخلي، کومه چې د خپل خارجي شباهت په طفیل د شاعر د عقلي یا باطني تصور خارجي نماینده گي وکړي، یا شاعر په خارج کې د یوه مادي څیز مشاهده وکړي او له هغې څخه دې د ده په باطن کې څه مخصوص خیالات او جذبات را وپارېږي. په دواړو صورتونو کې شاعر له خپل باطن سره د خارج یا له خارج سره د داخل د تعلق او رابطې پیدا کولو او بیا د هغې د ثرگندولو لپاره د تشبېه او استعارې دریافت او اختراع ته مجبوروي. همدغه شان شاعر له عقلي تجربې سره عقلي او حسیاتي مشاهدې سره د حسیاتي اشیاوو مطابقت هم د تشبېه او استعارې په مدد د مشبه به کره وره د لوستونکي په حواسو په داسې ډول منکشف کړي، څنگه چې شاعر خپله لیدلي او محسوس کړي وي. ) ) (۱: ۲۵)

د پورتني اقتباس له مخې ویلی شو، چې شاعر د خپل شاعرنه فکر او تصور د وړاندې کولو لپاره د استعارو او تشبېه گانو راوړلو ته اړ دی. هغه څه چې په مادي چاپېریال کې شتون لري، د ذهني چاپېریال سره یې د تړاو لپاره استعارې او تشبېه ته اړتیا شته او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته له دې د شاعرانه خيال انځورول خپل لذت او شعريت له لاسه ورکوي.

په شعر کې د تصويرجوړونې په برخه کې سمبولونه تر استعارو او تشبيه گانو وروسته مقام لري، ځکه داسې سمبولونه هم ډېر شته، چې سرې ونه هېڅ مانا نه شي اخيستلی. خو انځور يا تصوير بايد مانا ولري او هغه که له استعارو، تشبيه گانو او که له سمبولونو جوړ شوی وي، مانا په کې شرط ده. خو دا مانا هم بېرته بايد د استعارو، تشبيه گانو، سمبولونو په وسيله انځور شي. حنيف خليل هم همدې موضوع ته اشاره کوي او ليکي: ((په ساده ټکو کې د اميج تعريف داسې کېدای شي، چې دا د لفظونو له نقش و نگار او آرايش نه جوړ شوی يو ښکلی تصوير وي. د يوه اسم، صفت، تشبيه يا استعارې نه اميج پيدا کېږي، بلکې داسې هم کېدای شي، چې د يوې جملې ترکيب يا عبارت په شکل کې د لفظونو په مرسته تصويرونه ساز شي.)) (۸: ۱۷۹)

د انځور جوړولو په برخه کې بايد شاعر د مادي شيزونو د کيفيت ادراک وکړي او بيا په شعر کې انځور کړي. يو انځورگر شاعر چې شعر جوړوي، نو بايد ټول خدوخال يې ځرگند کړي او که دا کار ونه کړي، نو د انځور خلقت به يې نامتناسب او حتا د خلکو د خندا به شي، ځکه اصل او تصوير بايد توپير ونه لري او که توپير يې ومومند، نو سم نه دی.

په همدې تړاو حنيف خليل ليکي: ((شاعرانه تصوير موږ ته د هرې واقعې، هر خيال، هر کيفيت بيانولی شي. شاعر که د تصوير په پېښ کولو کې د اصل شيز ډېر ضرورتونه نظر انداز هم کړي. خو ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم د خپل تصویر په ذریعه هغه تاثر ورکولی شي، چې په اصل څیز کې وي، بلکې ځینې شاعران خو داسې هم وي، چې د تصویر په ذریعه د تاثر په ښکلا او لطافت کې دومره اضافه وکړي، چې د اصل څیز په لیدو به هم نه کېږي. ))(۹:۹۲)

دا او دې ته ورته نورې هغه ځانګړنې دي، چې په هندي سبک شاعرۍ کې یې تبارز له ورایه ښکاري او په همدې سره د غه سبک له نورو سبکونو بېل شوی هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳ - پښتو شاعري او هندي سبک

## ۳-۱ په پښتو کې د هندي سبک پيل او د پښتو شاعرۍ لنډ جاج

د هندي سبک اغېزې د کوشنۍ اسيا ، ايران او هند په شمول په افغانستان کې هم محسوسې دي او ډېرى شاعرانو د دغه سبک پر مزاج برابره شاعري کړې ده. دغه سبک په افغانستان کې هم لومړى په پارسي ژبه کې دود شوى او له پارسي ژبې څخه يې پښتو ته مخه کړې او پښتو ته ننوتلى دى. په پارسي ژبه کې د دغه سبک نومتي پيروان، عرفي شيرازي، ميرزا عبدالقادر بيدل، صايب تبرېزي، ميرزا اسدالله غالب او نور دي، خو په پښتو کې د دغه سبک بنسټګر حميد بابا دى او کاظم شيدا خپل اوج ته رسولى دى. په همدې هکله ښاغلى حنيف خليل ليکي: (( هندي سبک په شاعرۍ کې له بلند خيالۍ او فکري ژوروالي سره منسوب ګڼلى شي. د دې سبک شاعران له فني هنرمندۍ نه ښه واقف وي او معنوي پېچيده ګي د دقيقو او نادرو تشبېهاتو استعمال د دې سبک د شاعرۍ خصوصيات دي.

د دې سبک ابتدا د بابا افغاني نومي شاعر سره منسوب ګڼلى شي، کوم شاعران چې له ايران نه هندوستان ته راغلي وو او د هندوستان اب و هوا ، حالاتو او ماحول د مشاهدې په وجه چې د دې شاعرانو په شاعرۍ کې کوم بدلون راغلى و او کومې لفظي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنوي استادۍ چې د ې شاعرانو په شاعرۍ کې پيدا کړي دي، د ې ته د هندي سبک نوم ورکړی شو.

کله تولنيز جريانونه او انقلابونه د دې لامل کېږي چې سبکونه بدلون وکړي. هندي سبک چې د يوولسمې پېړۍ له لومړيو او د دوولسمې پېړۍ ترمنځنيو کلونو پورې د يو سلو پنځوسو کلونو په موده سره په هند او منځنۍ اسيا کې معمول و، د همدې تولنيزو انقلابونو په پايله کې رامنځ ته شو.

د هندي سبک د مکاني او زماني حوزې په پراختيا سره، په دغه سبک کې تنوع ګانې پيدا شوې او دا د دې لامل شوې چې په منځنۍ اسيا او هند کې د هندي سبک د شاعرانو په شعرونو کې توپيرونه راڅرګند شي. يو شمېر پوهانو د ايراني شاعرانو د دغې دورې متداول سبک ته اصفهاني سبک وو ايه او هندي سبک د هند سيمې پر شاعرانو وتپل شو. د يوه بل وېش له مخې د دې دورې د شعر سبک صفوي سبک بلل شوی چې دوې څانګې ورته منسوبې شوې، يوه يې ايراني صفوي سبک او بله هندي سبک. د دې سبک په هندي څانګه کې په هند کې د فارسي د نه بومي توب او د هغه ځای د کولتوري چاپېريال له امله د شعر ژبه پېچلې او حتا کله کله سنتي شوې هم ده. دا هم د يادونې ده که څه هم په ايران کې په په دولسمه هجري پېړۍ کې د هندي سبک او د هغه د انحطاط پر وړاندې غبرګون ښکاره شو، خو د دغه سبک نفوذ په افغانستان، پاکستان، تاجکستان کې تر ډېره دوام درلود.

هندي سبک په حقيقت کې د پارسي شاعرۍ خاصه ده، خو وروسته يې اثرات پښتو ته هم رانتوتل. پارسي د دې سبک ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعران میرزا کلیم، نمسي، کشمیري، شوکت بخارایي او غیره گڼلی شي. پښتو شاعرۍ کې د دې سبک امام عبدالحمید مومند گڼلی شي، چې د دغو شاعرانو په تتبع کې یې د یوه نوي سبک تعارف وکړ. حمید بابا نه علاوه د دې سبک پښتانه شاعران کاظم خان شیدا ، حنان بارکزی او تر څه حده علی خان گڼلی شو، خو په صحیح معنا د دې سبک شاعران پښتو کې صرف حمید بابا او کاظم شیدا دي.)) (۱۰: ۱۷۰ – ۱۷۱)

د ښاغلي ډاکتر حنیف په عقیده البته په پارسي کې د دغه سبک ابتدا د بابا افغانی په نامه شاعر کړې ده او په پښتو کې د دغه سبک شاعرۍ پیلامه حمید بابا کړې ده، چې د هندي سبک پیروانو پارسي ژبو شاعرانو له شعر څخه په اغېزمنتیا کې یې دغه سبک په پښتو کې هم دود کړ. ښاغلي حنیف په زغرده دا خبره کړې، چې په صحیح توگه د دغه سبک پښتانه شاعران یوازې حمید بابا او کاظم خان شیدا دي. خو په حقیقت کې په دې برخه کې د نوموړي ادعا تر یوه ځایه سمه ده، ځکه په پښتو کې د دغه سبک پیل او بیا یې وده په حمید بابا او کاظم خان شیدا پورې اړه مومي، خو په حقیقت کې د دوی د شعر له مطالعې او د هندي سبک په پیروۍ یو شمېر نورو پښتنو شاعرانو هم شعرونه ویلي او د هندي سبک پر مزاج برابره شاعري یې کړې ده.

ښاغلی نورالحبیب هم نثار د هندي سبک په اړه لیکي: ((هندي سبک د لسمې هجري پېړۍ له پیله د دولسمې هجري پېړۍ تر نیمایي پورې فارسي شاعرۍ کې عام وو. مگر، په پښتو کې له حمید بابا سره د دغې ژبې ادب ته راغی. یعنې، کله چې په فارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د دغه سبک زوال پیلېږ ه، په پښتو کې یې پیروي پیل شوه چې تر ننه پورې هم ځینې لاروي لري. خو داسې هېڅکله نه دي شوي چې د یوې خاصې زمانې مسلط سبک دې وو.

محمد کاظم خان شیدا چې د دغه سبک اوج ته ورساوه، هغه په هند کې اوسېده او هلته د دې سبک بازار تود وو. دا چې وایو د هندي سبک د عروج زمانه د دولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې وه، وجه یې دا ده چې په ایران کې یې تر دې وخته ډېر پیروان لرل. خو په پښتو کې د هندي سبک د ایجاد عوامل هغه نه وو چې په فارسي کې وو. دلته نه د دربار خبره وه- نه پخوانی سبک داسې برید باندې درېدلی وو چې نور څه دې ورباندې زیات نه شي. او نه مو د اصفهان په شان ښار درلود چې منځنۍ طبقه دې په کې پیاوړې وي او شعر دې د خواصو له کړیو څخه عام ولس ته ورولېږدوي. په پښتو کې یوازې له دې کبله هندي سبک ته مخه وشوه چې پښتنو شاعرانو هسې نه هم د فارسي شعر پیروي کوله. په پښتو کې د دې سبک د نه تسلسل وجه دا وه چې نه ورته سیاسي- اجتماعي شرایط کله د فارسي په شان برابر شول او نه ورته ادبي- هنري شرایط. دلته یوازې د شاعر شخصي انتخاب او فردي سلیقې نقش درلود.

د ژبې په لحاظ د هندي سبک تر ټولو لوی خصوصیت دا دی چې عامیانه ژبې ته په کې هم توجه وشوه. تر دې وړاندې په فارسي کې د سعدي او حافظ ژبه د شعر ژبه وه چې له عامیانه او بازاري کلمو څخه په کې استفاده ښه نه ګڼل کېده. له ښه مرغه، پښتو کې د عوامو او خواصو ژبه ډېر تفاوت نه سره لري. بلکې بېخي یې نه لري. د ژبې په لحاظ د دې سبک د شاعرانو بل مهم خصوصیت دا دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکیب جوړولو ته زیاته توجه کوي. د ناویلیو مفاهیمو د بیان له پاره ناویلې ژبې ته اړتیا وي او ناویلې ژبه هم دغه د نویو کلمو او ترکیبونو ژبه ده.

د بیان په لحاظ د هندي سبک لویه ځانګړتیا دا ده چې مدعا مثل ته ډېر پام کوي او دا د دوی تر ټولو مهم صفت دی. له پخواني شعر سره یې د موضوع له پلوه توپیر دا دی چې هغه کې به عشق و عرفان، اخلاقي نصیحتونه، مدح و هجو اصلي موضوعات وو. خو دوی د ژوند د کابو ټولو اړخونو د بیان له پاره له شعره استفاده وکړه. په دې سبک کې نوی مضمون ډېر اهمیت لري. د پخوانیو سبکونو او د دې سبک په تخیل او نوښت کې توپیر دا دی چې هغوی به مکرر مضامین (مکرر تشبیهات او استعارات) رااخیستل. خو کمال به یې دې ته وایه چې په نوي انداز، نوي وزن او نوې جمله کې یې وکاروي. مگر، دوی د خیال نویوالی اصل وګاڼه. یعنې، یا به یې بالکل نوې تشبیه جوړه کړه او یا به یې زړه تشبیه کې وجه نوې کړه. د ژانر په لحاظ، هندی سبک تر ډېره حده د غزل شاعري ده. ځکه چې د دې سبک شاعر خپله اصلي خبره معمولاً د مدعا مثل په بڼه کوي او مدعا مثل معمولاً د یوه بیت شاعري ده چې تپه هم دغه ځانګړنه لري.

په پښتو او فارسي کې د هندي سبک یو لوی توپیر دا دی چې فارسي د ترکیب جوړونې له پاره ډېره برابره ده. یوازې "نکره کسره" کافي ده چې ترکیب دې ورسره جوړ شي. خو په پښتو کې دغه کار ګران دی. زیاتره د اضافت کلمه غواړي چې د ترکیب فصاحت ورسره زیانمنېږي. بل توپیر یې دا دی چې پښتنو باندې د موضوعاتو لمن د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارسیوانو هومره تنگه نه شوه چې گونگې او مبهمې خبرې دې وکړي. پښتو فقط دا استاد پسرلي په شان د یوه محسن او پرستار پامته داره وه چې په زرونو نوي نوزي خیالونه او مضمونونه په کې بیان کړي او بې له ابهامه یې په کې بیان کړي. یو بل جالب توپیر یې دا دی چې په فارسي کې د هندي سبک له راتلو سره ژبه کمزورې شوه. خو په پښتو کې داسې چا د دغه سبک بنیاد کېښود چې تر بل هر شاعر یې د ژبې قوت او انسجام زیات و. په دې سبک کې د ژبې د کمزورۍ یو بله وجه دا وه چې هندیانو په دوهمه ژبه کې شاعري کوله. خو زموږ استاد په خپلې مورنۍ او پلرنۍ ژبې کې شاعري کوي چې پر حمید مومند سربېره، د خوشحال بابا د ژبې په قوت او انسجام هم آراسته ده. )) (وېب: تاند )

په ټوله کې ویلی شو چې پر پښتو د دغه سبک اغېزې تقریباً د دوولسمې هجري پېړۍ له لومړیو څخه پیلېږي. دا هغه وخت دی، چې حمید بابا په پښتو کې شاعري پیلوي او د هندي سبک لار غوره کوي او په دې سره پښتو غزل یو بل نوی رنگ ځان ته غوره کوي او په نوي انداز، له نویو خوږلنیو سره حمید مومند د پښتو غزل په ډکر سر را پورته کوي.

حمید مومند ته (موشگاف ) لقب هم ورکړل شوی دی. نوموړي پښتو غزل ته بل رنگ ورکړ او نوې نوې خوږلنۍ یې په کې داخلې کړې.

نوموړی لومړنی شخص دی، چې په پښتو کې یې د هندي سبک د شاعرۍ بنسټ کېښود. د هندي سبک شاعري نازکه، لطیفه او څه ناڅه پېچلې شاعري ده. پېچلې ځکه ده، چې د رمزونو، کنایو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعارو، تشبیهاتو او نورو بدیعي ښکلاوو په جامو کې نغښتې شاعري ده، نو ځکه له غور او سوچ پرته سړی وربانديې ژر نه پوهېږي.

حمید بابا هم پر پښتو غزل ډېر ځه ولورول او ډېر عشقي او اخلاقي مسایل یې په نوي رنګ په خپل غزل کې ځای کړل. د خیال افرینۍ او نازکخیالۍ په برخه کې یې لوړ منزلت حاصل کړ. د حمید بابا پر غزلونو د ایران د شاعرانو اغېزه جوته ده، ځکه ایراني شاعران هم په شعر کې امردپرستي کوي او حمید بابا هم دا کار کړی، یانې د ښځینه محبوب پر ځای یې د نارینه محبوب ذکر ډېر راغلی دی. د ده په غزلونو او شعرونو کې هم د مجازي مینې، پت، عزت، پښتونولۍ، اخلاقو او ښکلا ذکر ډېر راغلی دی، خو په غزل کې نازکخیالۍ، رومانویت، مضمون افرینۍ، نوښت او انځورګرۍ ده ته په شاعرۍ کې ډېر لوړ مقام ورکړی دی.

تر حمید بابا وروسته کاظم خان شیدا هغه لوړ شاعر ګڼل کېږي، چې پر پښتو غزل او شاعرۍ یې ډېر ځه لورولي دي. کاظم خان شیدا په پښتو کې د حمید بابا له خوا رامنځ ته شوي هندي سبک شاعرۍ ته ډېره زیاته وده ورکړه او دغه سبک یې په پښتو کې عام کړ او یو شمېر شاعرانو، لکه پیرمحمد کاکړ، حنان بارکزي، علي خان او نورو یې لمنه ونیوله.

د کاظم خان په غزلونو کې هم تر ډېره د مینې، اخلاقو، انساني‌پالنې، حسن پالنې د بیان ترڅنګ، د ژوندانه ځینې نور مسایل راغلي دي. شیدا چې په پښتو کې هندي سبک ته د ودې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوونکي شاعر په توګه پېژندل کېږي، په شعرونو کې يې د دغه سبک ځانګړې ښې څرګندې دي.

په مجموع کې د حميد بابا او د هغه د پيروانو پر شاعرۍ د فارسي اغېزه زياته ده، لامل يې هم دا دی، چې هغه وخت چې دوی په پښتو غزل کې د هندي سبک خوړلنۍ ځايولې، نو دوی اړ و، چې د هندي سبک پر ځانګړو او شاعرۍ باندې پوه وي او په سيمه کې د هندي سبک شاعري په فارسي ژبه کې ښه دود وه، نو ځکه دوی د فارسي ژبې له شاعرانو او د هغوی له شعرونو څخه اغېزمن شوي او د هغوی اغېزې د دوی په پښتو غزلونو کې هم جوتې دي.

تر حميد بابا او د هغه تر يو شمېر پيروانو وروسته پښتو غزل له خپله برمه لوېږي او خپله وده دروي. دا هغه وخت دی، چې په سيمه کې انګرېزي ښکېلاک او زبېښاک واکمنېږي او اغېزې يې نه يوازې په سيمه کې پر شعري ځواک، بلکې د ژوندانه په ټولو چاورو باندې جوتې دي. تر شلمې پېړۍ پورې دا حالت دوام مومي. غزليزه شاعري د خلکو له پامه لوېږي، يوازې ولسي شاعري او سندرې په دې موده کې ژوندۍ پاتېږي، خو غزل ته له سره څوک ارزښت هم نه ورکوي او نه هم غزل هغه برم او شوکت لري، لکه پخوا يې چې درلوده. په حقيقت کې د پښتو غزل په پرمختيايي بهير کې دا دوره د غزل د ودې لپاره ډېره زيان رسوونکې دوره ده، چې په هېڅ ډول په کې غزل نه يوازې وده نه ده کړې، بلکې د ودې مخه يې هم ډپ شوې ده.

په شلمه پېړۍ کې يو ځل بيا پښتو غزل د عروج ساه اخلي او د پښتو ادب او شاعرۍ پر اسمان داسې يو روڼ لمر راخېژي، چې پلوشې يې ټولې نړۍ ته رسېږي او د پښتو له برمه او شوکته لوېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـزل يـو ځـل بيـا د عـروج لـوړو پوړيـو تـه خېـژوي. دا عظـيم شـاعر او غزلبول، د غزل بابا اميرحمـزه شـينواری دی. د مزاحمتـي ادب پيـل هم له همدغه وخته کېږي، ځکه د پښـتنو پـر وطـن د انگرېزي ښـکېلاک د ناخوالو سيوری پـروت و او پښـتانه هم نور دې تـه اړ و، چـې د ځـان د بقـا او خپـل وقـار او عظمـت د خونـدي سـاتلو لپـاره د ښـکېلاک د مقـابلې لپـاره را پورتـه شـي او دا کـار د يـوه لـوی اوښـتون لامـل شـو. طـاير ځلانـد د همـدې مزاحمتـي تحريـک پـه هکلـه ليکـي: ((دغـه مزاحمتي تحريک په پښتو ادب کې يو انقلاب راوست او يـو ځـل بيـا وربانـدې د ځـوانۍ د پسـرلي بادونـه ولگېـدل. پـه دې وخـت کـې د قوميـت جـذبې او عـالمي حـالاتو پښـتو غـزل پـه فطـري توگـه ډېـر مضبوط کړ او له فارسي غزل نه يې په بشـپړه توگـه پـه بدلـه جامـه کې ځان ښکاره کړ. پـه دغـه وخت کې چې کوم شـاعران او ليکـوال پښـتو ادب تـه را دننـه شـول، ډېـری يـې لوسـتي او تعلـيم يافتـه وو، چـې د انگرېزي، فارسي، عربي، اردو ادب مطالعـه يې ښـه پـه ژور نظـر کـړې وه. د دې مطـالعې پـه رڼـا کـې چـې دغـو ښـاغلو ليکـوال پـه پښـتو ادب کې کومې تجربې وکړې، د دې بدلون نښـې نښـانې د شـلمې (ع) پېـړۍ په پښتو ادب کې روښانه دي. خو دغـه بدلونونـه پـه خصوصـي توگـه د شلمې عيسوي پېړۍ په پښتو غـزل کـې ډېر ښـکاره او روښـانه دي. پـه پښـتو ادب کـې د دغـو بـدلونونو او انقـلاب پگـړۍ خـدای بښـلي اميرحمـزه خـان شـينواري تـه ور پـه سـر ده، چـې زه ورتـه د بـدلونونو موجد وايم.

ستا پـه اننگـو کـې د حمـزه د وينـو سـره دي
تـه شـوې د پښـتو غزلـه ځـوان زه دې بابـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــړم

د حمزه بابا غږ چې د خيبر له مردم خېزې سيمې نه را اوچت شو، لکه د برېښـنا پـرق پـر درسـته پښـتونخوا خپـور شـو او د يـوه پراخـه سبک بنيـاد يـې کېښـود او درې سوه کالـه وروسـته يـې يـو ځل بيـا پـه خپلو صلاحيتونو پښتو ادب ته (بابا) پيدا کړه.

پـه دې خبـره کـې څـه شـک او شـبه نشـته، چـې حمـزه شـينواری د پښتو د جديد غزل امام دی، ولـې چـې حمـزه بابـا پښـتو غـزل پـه خپلـو پښو ودراوه او د ژوندي پـاتې کېـدو اوبـه يـې ورکـړې، پـه داسـې حـال کـې چـې پښـتو غـزل د تنـزل کـوهي تـه غـورځېـدلی و، د هغـه بيـا خپـل معيـار تـه رسـول لـه شـواخون نـه خـالي نـه و، خـو حمـزه بابـا دا کـار پـه داسې هنرکاری سره وکړ، چې عمرونـه عمرونـه بـه ژونـدی وي.)) (۱۲: ۹۷ – ۹۸)

د حمزه بابا پـه غـزل او شـاعرۍ کـې ګـڼ مضـامين شـته، چـې يـو يـې هـم پښـتو او پښـتونولي ده، نومـوړي کـه تصـوفي شـاعري کـړې، کـه اخلاقـي، کـه عشـقي، کـه نـوره او نـوره، د پښـتو او پښـتونولۍ رنـګ يې په کې جوت ساتلی دی.

ما ټيـټ ورتـه لېمـه کړه زمـا سر نـه ټيټېـده  
شـايد چـې پـه الفـت کـې هـم افغـان پـاتې  
کېــــــــــــــــــــــــــــــــدم

د نومـوړي د شـاعرۍ مضـامين ډېـر دي، پـه هـره برخـه کـې يـې شـاعري کـړې ده، د ده شـعر يـو د مينـې، حسـن او اخلاقـو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتونولۍ سمندر دی او په دې سمندر کې هر رنګ ملغلرې موندلی کېدای شي. نوموړي د غزل لمنه ډېره پراخه کړه او د غزل نژدې ټولې غوښتنې یې پر ځای کړې. په همدې هکله حنیف خلیل لیکي: ((حمزه صاحب د غزل لمن دومره پراخه کړې ده، چې اوس څوک هم په غزل دا الزام نه شي لګولی، چې د غزل قافیه تنګه ده، یا دا چې غزل فقط د ګل، او بلبل، شمعې او پروانه، د هجر و وصال، د حسن د ستاینې یا ذهني عیاشۍ پورې محدود دی او خصوصاً په پښتو شاعرانو کې حمزه صاحب یو داسې شاعر دی، چې د غزل یې پوره پوره حق ادا کړی دی. نه صرف دا بلکې موږ ډېر په فخر سره د حمزه صاحب د نورو ژبو او ځتو غزلګو شاعرانو د غزلیاتو په مقابله کې کښېنو دی شو.

حمزه د غزل په جامه کې د حسن و عشق ترانې هم ویلې دي او سخت قسم فلسفیانه مضامین یې هم په غزل کې بیان کړي دي او په داسې انداز کې یې بیان کړي دي، چې له دې نه ښه په نثر کې هم د دې بیان اسانه نه و. د تصوف سنجیده موضوعات او د وحدت الوجود دقیقې مسئلې د غزل په جامه کې بیانول ډېر د کړون او زړه چاودون کار دی، خو دغه قسم سخت مضامین هم حمزه صاحب ډېر په مهارت او استاذۍ سره بیان کړي دي.

د غزل د شاعرۍ لپاره له ټولو نه ضروري شی، تخیل او قلبي ریاضت دی. تخیل چې څومره اوچت وي او څومره لطیف وي، هغومره د غزل معیار هم اوچت وي. د حمزه صاحب د تخیل ژورې یقیني سخن خیزې دي او د فکر وږمې یې د ادب په ګلستان کې خورې ورې دي.)) (۱۱: ۱۲ - ۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمزه بابا پښتو غزل تر ډېره بریده د تغزل او شعریت جوګه کړی هم ده او هغه څه چې د شعریت او تغزل خواږه ورنه زېږي، په غزل کې یې ځای پر ځای کړي. په همدې هکله پروفیسور راج ولي شاه خټک د حمزه بابا پر کلیاتو د خپلې سریزې په یوه برخه کې وایي: (( حمزه صاحب د اعجاز تر حده دا کمال کړی دی، چې سوچه خالصه پښتو یې د تغزل جوګه کړې ده. پښتو چې یوه سخته ژبه ګڼل کېده، ټکي لغتونه به یې د تغزل د فن په باریکه ملا بار خیال کېده، حمزه ورته اول مضمون پیدا کړو، بیا یې د پښتنې ښایست معیار ته جواز جوړ کړو او بیا یې دا طریقه او صلیقه عیانه کړه، چې پښتون ښایست یې د پښتو ژبې له سوچه اصطلاحاتو نه په بل رنګ نشي ښکاره کېدای او دا د فني او ادبي تشخیص په ضمن کې یوه ډېره ستره فني کارنامه ده.

د حمزه صاحب غزل پښتو غزل دی، د شعر د فن پښتون صورت دی، په دې کې د تصوف د فلسفې باریکۍ هم بیان شوې دي، د جمال د مشاهدې د اظهار بیان هم دی، په دې کې د پښتني اخلاقیاتو فلسفه هم ده، د پښتون د نفسیاتو، د پښتونولۍ د روایتونو، رسمونو، دودونو ضابطې هم دي او د عالمي ادب په علمي او فني پنګه کې د پښتانه برخه د خپل قامي تشخص او شناخت سره هم ده. )) ( ۲ : ۱۰ )

په دې توګه باید ووایو، چې غزل د حمزه بابا په وخت کې ځوان شو، تاند شو، پښتون شو، ملي شو او بلاخره د پښتو غزل ټولې غوښتنې پر ځان واخیستې او حمزه د داسې یوه غزلبول انقلاب سرلاری شو، چې رنګونه او اغېزې یې تر ننه پورې په پښتو غزل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته، ژوندي دي او ژوندي به وي. خو دا خبره باید وکړو چې حمزه بابا په پښتو کې خپله ځانته سبک درلود، یانې د هندي سبک اغېزې د ده په شعرونو کې ډېرې نه لیدل کېږي او په دې توګه مونږ نو موږی د هندي سبک په پیروو شاعرانو کې نه شو راوستلی، خو د پښتو غزل په دنیا کې د یو ستر انقلاب سرلاری یې بللی شو. د غزل په دغه نوي دور کې د حمزه بابا ترڅنګ او یا تر هغه لږ را وروسته غني خان، عبدالرحیم مجذوب، اجمل ختک، ډاکتر محمد اعظم اعظم، هاشم بابر، راج ولي شاه ختک او ځینې نور د یادونې دي، چې پر پښتو غزل یې ډېر څه لورولي دي.

تر حمزه بابا را وروسته په پښتو غزل کې یو بل نوم هم ډېر د قدر او ستاینې وړ دی او هغه محمدصدیق پسرلی دی، چې د نوي او معاصر دور د غزل پلار او د غزل سرلاری شاعر ګڼل کېږي. د حمید بابا له خوا په پښتو کې رامنځ ته شوی هندي سبک، چې کاظم شیدا ورته وده ورکړې او تر شیدا وروسته دغه سبک په پښتو کې له منځه تللی و، محمدصدیق پسرلي ببرته را ژوندی کړ. که څه هم حمید بابا او کاظم شیدا په پښتو کې دغه سبک رامنځ ته او وده یې ورکړه، خو پر شعر او غزل یې د فارسي اثرات زښت زیات وو، خو محمدصدیق پسرلي دغه سبک د پښتو په رنګ په پښتو غزل کې منعکس کړ او په ډېر مهارت او فنکارۍ یې د هندي سبک ټولې خوږلنې او ښکلاوې په پښتو غزل کې ځای پر ځای کړې.

حبیب الله رفیع محمدصدق پسرلی په بره پښتونخوا کې د نوي غزل موجد بولي او لیکي: ((ما چې څومره مطالعه کړې په بره پښتونخوا کې د نوي غزل موجه او موجد محترم پسرلی صاحب دی، ځکه ده غزل له خپلو ټولو فني او هنري ښکلاوو سره د عصر په غوښتنو سنبال او له ژوند مالامال کړ، پسرلي صاحب غزل کې ګڼې خوبۍ راغونډې کړې دي، دی د هندي سبک د پښتو او دري

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعرۍ ژوره مطالعه لري او ددې سبک تولې نازکۍ او باریکۍ یې په غزل کې ځای کړې دي. ده کلیوال ژوند کړی او په طبیعي ښکلا او بیدیایي ګلانو مالامال چاپېرکې اوسېدلی دی، د اولسي ژوند انځوروونکی، ښکلې اورنګینې په زړهاوو لنډۍ یې اورېدلې او د لنډیو د واقعي انځورونو او واقعیتونو ښکلا ته تم شوی، چې د واقعیت او طبیعت ښکلاوې یې له دې لارې خپلو غزلو ته لېږلې. د خوشال بابا حماسه او له حادثو ډکه شاعري یې ژوره لوستې او د خپل پښتون طبیعت له مخې یې دې ځانګړونو هم په غزلو کې مناسب ځای نیولی او په دې توګه ګڼې ښکلاوې او د مضمون غناوې د پسرلي صاحب د غزل شکل او منځپانګه ده.)) (۱۳ : ۴۲ )

کله چې سړی په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک پر اثراتو بحث کوي، نو ورته ښکاري چې په پښتو کې د دغه سبک په پیروۍ شاعري په پښتونخوا کې پیل شوه او په هند کې اوسېدلو ځینو پښتنو شاعرانو معراج ته ورسوله او په کندهار کې یې وده وکړه او اغېزو یې تر معاصرې دروې پورې دوام وموند.

عبدالحمید مومند به لا ژوندی و چې په پښتونخوا کې د هندي سبک خوښوونکي پښتانه شاعران نور هم پیدا شول، چې ځینو د حمید او په نهایت کې د هندي سبک پیروي کړې ده. په دوولسمه او دیارلسمه پېړۍ کې د پښتونخوا ډېرو شاعرانو په دې سبک وېناوې وکړې چې مشهور کسان یې په لاندې ډول دي. (۲۸ : ۲۱۲ – ۲۱۷ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴ - په پښتو کې د هندي سبک مخکښ شاعران

دا چې تر دې مخکې مو په پښتو کې د هندي سبک پر پيل، پرمختګ او وجود مو تفصيلي خبرې وکړې، نو اوس به دلته هغه شاعران او شاعري يې په لنډه توګه معرفي کړو چې د هندي سبک پر مزاج برابره شاعري يې کړې يا په بله مانا د هندي سبک پيرو شاعران ګڼل کېږي.

څرنګه چې حميد بابا په پښتو شاعرانو کې لومړی ځل په دا سې سبک پيل وکړ چې د خپلو خصوصياتو له پلوه په هندي ادبي ښوونځي پورې اړه لري، د ده د وينا ډول د ده د زمانې او وروستيو پېړيو شاعرانو خوښ کړ او د ده دوينا په سبک يې ويل وکړه چې زموږ په ادبي تحقيقاتو کې دغه خلک د حميد د سبک پيروان بلل کېږي، او دا خلک ټول بيا د هندي ادبي ښوونځي شاګردان بلل کېږي. خو که چېرې سړی اوس د تازه مدارکو پر بنياد د حميد د سبک پلويان ښيي نو بايد دا ووايي چې کاظم شيدا د هندي ادبي ښوونځي له هغو ډېرو سرسختو پيروانو څخه دی، چې د دغه ښوونځي خصوصيات د ده په شاعرۍ کې په ډېر حاد شکل ځلېږي. حال دا چې زموږ ادبي محققين حميد د هندي ادبي ښوونځي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

معتدلو پیروانو کې د استاد په حیث معرفي کوي، نو په دې اساس د دې دواړو شاعرانو د هنر په څرنګوالي کې هم د لفظ او هم د مانا په لحاظ څرګند او واضیح تو پیر لیدل کېږي. البته دا خبره هم موږ له یاده نه باسو چې شیدا دې هم له حمیده استفاده نه وي کړې، بلکې دا کار یې په پراخه پیمانه کړی. سربېره پر دې دغه لاندې کسان د حمید د سبک په پیروانو کې شاملېږي: کامګار ختک، قلندثاني، کاظم، خانګل خلیل، بیدل، محمدي صاحبزاده، احمدي صاحب زاده، میرزاحنان، صمد ، عبدالله محزون، محمد بیاض، ملامحمد اکرم او یو شمېر نور. ( ۲۵ : ۵۷ – ۵۸ )

اوس به په پښتو کې د هندي سبک مشهور شاعران په لنډه توګه معرفي کړو او پیل یې هم په پښتو کې د دغه سبک له بنسټګر حمید بابا څخه کوو:

## ۴ –۱ عبدالحمید مومند

د نازک خیاله او موشګاف شاعر عبدالحمید بابا د شاعرۍ د اوج زمانه ۱۱۳۰ هـ ښودل شوې؛ ځکه چې دغه وخت د محمد شاه مغل د سلطنت دوره وه چې حمید بابا په خپل شعر کې هم همدا ذکر کړی دی او دې نېټې ته تقویت بښي او اخر کار دغه ستر موشګاف نازک خیاله شاعر د راوړتې د وینا مطابق چې په ۱۱۴۸هـ کې یې سترګې له دې فاني نړۍ نه پټې کړې او وفات شو. خو د حمید بابا ژوند تر دغې ذکر شوې نېټې پورې د (شرعة الاسلام) د ژباړې له وجې څرګند دی ځکه چې دغه ژباړه په دغه کال کې بشپړه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حمید بابا د طبع ازمایې میدان زیاتره غزل دی او د غزل په ځمکه هم خپله بادشاهي کوي. ځانته رنګ او ځانته سبک لري که څه هم چې د دوی په وړاندې د خوشحال خان ختټک ا و صوفي شاعر حضرت عبدالرحمن بابا مومند رنګونه پراته وه خو حمید بابا د چا د رنګ په ځای او د چا د سبک په ځای ځانته ځانګړی مکتب او رنګ قایم کړ او د خپل ځانګړي او بېل سبک او مکتب خاوند او بنسټ ایښودونکی و.

حمید بابا د تشبیهاتو، استعارو او اشارو کنایو استعمال ډېر زیات او په کثرت سره کړی دی او په دې فن کې د استازۍ تر پولې رسیدلی دی. او په کلام کې یې خوږوالی، نزاکت او لطافت موجود دی.

د حمید بابا دا شعر داسې سره لولو:

نور عالم که په کیمیا زر کوي خاورې
ما زر خاورې کړه د مینې په کیمیا کې

نازک خیالي، استازي او موشګافي دومره چې د حمید بابا د غزل یو بیت څومره ژور او څومره درد لري څومره پیغام او څومره ژوروالی، چې وایي:

زه د شمعې په څېر اور په تندي بل کړم
تــه د صبح پـه څېر خاندې لـه غـروره

څنګه چې حمید بابا په پښتنو شاعرانو کې په لومړي ځل داسې سبک جوړ کړ، چې د خپلو ځانګړنو له مخې هندي ادبي ښوونځي پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حمید د وینا دود د ده د مهال شاعرانو او وروسته تر ده نورو شاعرانو خوښ کړ، چې په همهغه لار یې ویل پیل کړل، لر او بر او حتا د هند په ځمکو کې ډېرو شاعرانو د ده لار نیولې ده او خپل شعري سبکونه یې د حمید د شاعرۍ په پیروي عیار کړي دي. چې د پښتو ادب څېړونکي یې د حمید د سبک پیروان یا لارویان بولي اودا ټول بیا د هندي ادبي ښوونځي شاگردان بلل کیږي.

په پښتو ادب کې د دغه سبک په پیروۍ شاعري په پښتونخوا کې پیل شوه، په هند کې او سېدونکو ځینو شاعرانو معراج ته ورسوله، په کندهار کې یې وده وکړه او اغېز یې تر اوسمهالې (معاصرې) دورې پورې پاینښت وموند.

ښاغلی رفیع الله ستانکزی د حمید بابا د شاعرۍ او سبک په اړه لیکي:
((تر خوشحال خان او رحمان بابا وروسته پښتو ادب ته څښتن تعالی یو داسې شاعر ورکړ، چې مبتکره او نوښتگره قریحه یې درلوده، نه یې غوښتل چې د بل چا پیروي وکړي، بلکې په خپله یې یو نوی سبک جوړ کړ او نور خلک یې خپلې پیروۍ ته راوبلل. په خپل قوي تخیل او فکري استعداد یې د پښتو ژبې په شاعرانه نړۍ او شاعرۍ کې داسې سبک ایجاد کړ، چې په هغه کې د ادبي فنونو ښکلي صنعتونه، لوړ خیالونه، په نادرو تشبه گانو، استعارو، کنایو او شعري تلازماتو کې د ښکلو، لطیفوو جملاتو او اصطلاحاتو په واسطه راوړل شوي دي، که څه هم د حمید سبک د کلماتو او جملاتو له مخې مغلق او پېچلی دی او هم د رحمان بابا د سبک سادگي او د خوشحال خان د سبک ارتوالی نه لري، خو سره له دې اغراقه هم دا سبک دومره خوږ دی، چې لوستونکي که څه هم د رحمان بابا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحال خان د سبکونو متخصص وي، چې د حمید اشعار ولولي، هغه ترې هېروي.

د پښتو څېړونکو او سبکپوهانو د عبدالحمید مومند سبک د پښتو هندي سبک بللی، ځکه، چې د هندي ادبي ښوونځي ټولې ځانګړنې او نښې د ده په اشعارو کې ځلیږي...

د عبدالحمید مومند د شاعرانه سبک ځانګړنې:

۱- د دې ښوونځي د پیروو شاعرانو په کلام کې ډېرښت (افراط) او کمښت (تفریط) ډېر لیدل کیږي.

۲- د حمید د سبک اشعار د یو ځانګړي آهنګ او غاړې (لحن) لرونکي دي.

۳- د ادبي صنایعو (ښکلاوو) په پاللو کې دا سبک ډېر غني او پیاوړی دی.

۴- اغراق او مبالغه د حمید بابا د سبک له ځانګړنو څخه ده.

۵- ایجاز او لنډون یې بله ځانګړنه ده، چې په لږو ښایسته الفاظو کې ډېر څه بیانوي.

۶- د ځانګړو او دقیقو تشبیهاتو او استعارو فن په دې اشعارو کې په ځانګړې توګه خپل ځان ښکاره کوي.

۷- د غه سبک د نادرو تشبیهاتو او استعارو په راوړلو سره ډېر پارسي اصطلاحات او کلمات هم په پښتو ژبه کې ګډ کړل.

۸- نویو مضامینو او تازه فکر موندلو ته په کې ډېره پاملرنه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- د فولکلوري توکيو (متلونو، ګړنو، محلي اصطلاحاتو او .... ) کارونه په کې ډېره ده.

۱۰- د حميد غزليزه شاعري ډېری د مينې پر چورليځ چورلي او موضوعي تيت او پرکتيا په کې ډېره تر سترګو کيږي.

۱۱- د دې ښوونځي ډېری شاعران په لفظي نزاکت، باريکۍ او مضمون پنځونې پسې ګرځي او د شعر د دوديزو آرونو څه ډېره پروا نه ساتي. ) ) ( وېب: روهي )

تر حميد بابا وروسته د هغه د مکتب په شاعرانو کې کامګار ختک، کاظم خان شيدا، حنان بارکزی، بېدل، خانګل خليل، محمدي صاحبزاده، احمدي صاحبزاده، ميرزا خان انصاري، صمد، عبدالله محزون، محمد بياض، ملامحمد اکرم، عبدالله، عبدالغفار بريالی او نور هم په خپل خپل ځای اهميت لري. خو کاظم خان شيدا، چې د غه سبک کې کوم مقام او پوړ ته ځان رسولی د، د هغه له اعترافه سترګې نه شو پټولای او بايد ډېر ډېر وستايل شي، همېش خليل د حميد او شيدا شاعري د ښکلو نازکو وربښمو د يوې حسينې او ښايسته پنجرې سره، فکر او مقصد يې د حسين مارغه سره ورته کړی، د ده په وينا د حميد د فکر مارغه که له هره اړخه وکتل شي رونړ مالوميږي او د شيدا د زښتې ډېرې نازکخيالۍ او ډېرې رنګين بيانۍ په دغه پنجره کې د شيدا فکري مارغه تت او د حقيقت غوندې نه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴-۲ کاظم خان شیدا:

د راورټي له قوله کاظم خان شیدا د (**۱۱۳۵**-۱۱۴۰) کلونو ترمنځ د افضل خان په کور کې زېږېدلی دی.

شیدا په ځوانۍ کې د مهاجرت ځپېږه پرمخ وخوړه او د هندوستان مهاجر شو او د همدې مهاجرت پر اساس یې په شعر کې سوز او گداز پیدا شو، ښايي کاظم خان شیدا د خپل پښتني چاپېریال څخه دلرې والي او په هند کې د اوسېدلو له امله د فارسي ادب تر تاثیر لاندې- چې په هند کې درباري، دفتري او علمي ژبه وه- راغلي وي، ځکه یې په شعر کې فارسي کلمات دومره ډېر دي، چې کله یې پښتنی رنگ بدل کړی دی.

شیدا هندي سبک خپل اوج ته ورساوه او په ټولو مانا وو یې د هندي سبک ځانگړنې خپلې کړې، حتا تردې پورې، چې کله خپل پښتني قالب تر هندي سبک ځاروي.

شیدا د دیوان څښتن دی، چې په دیوان کې یې ډېری غزلې دي، نورې برخې هم شته؛ لکه: بوللې، پنځه بیزې، څلوریزې، دوبیزې، او نور شعري ډولونه هم د شیدا په دیوان کې تر سترگو کیږي.

همداشان استاد اسدالله غضنفر د کاظم شیدا په اړه وايي: ((دا خبره مې له خپل پلاره اورېدلې ده چې په پښتو کې هغه شاعر چې کابو ټول تشبیهات او تصویرونه یې نوي او خپل دي، کاظم خان شیدا دی. پلار مې د شیدا د کلام د عیبونو په اړه وایي چې یو یې په غزلونو کې تغزل کم دی او بل یې د فارسي کلمو په راوړلو کې افراط کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروفیسر محمد نواز طایر په ( روهي ادب ) کې لیکي:( د شیدا په کلام کې د عربي او فارسي ژبو اصطلاحات بې کچه زیات دي. خصوصا فارسي استعارې، تشبیهات، تلمیحات او اشارې کنایې پکې دومره زیاتې دي چې تر څو پورې په فارسي ادب او شاعرۍ د چا پوره عبور نه وي هغه د شیدا د کلام نه خاطر خواه استفاده نه شي کولای. شېدا د پښتو ژبې غالب یا بېدل دی. )

دا سمه ده چې شیدا فارسي کلمې تر نورو زیاتې استعمالوي مګر که دغه کلمې معنا هم شي، ځینو ته به د هغه په شعر پوهېدل مشکل وي ځکه دی په داسې نوې تشبیه، نوي مدعا مثل، نوي تناسب ،نوي حسنِ تعلیل او نوي مضمون پسې ګرځي چې نه په پښتو او نه په فارسي کې پخوا بل چا راوړي وي. د شیدا د شعرونو د پېچلتیا بله وجه دا ده چې په جملو کې یې کلمې کله کله په هغه ځای کې نه وینو چې د ژبې د ګرامر غوښتنه ده. مثلاً د دې بیت په دویمه مصرعه کې یې د ( څوک ) او ( چا ) ځایونه سره بدل شوي دي:

د بېکس په ماتم کله چا نعــرې کــړې
څوک په مرګ د شمعې ولیدل غمګین چا

په جمله کې د کلمو د ځای نامناسبې بدلېدا ته ضعفِ تالیف وایي. په فارسي ادب کې هم د هندي سبک په ګڼو شاعرانو نیوکه شوې ده چې کلام یې لفظي تعقید او ضعف تالیف لري او وجه یې دا ښودل کېږي چې د دې سبک شاعر غواړي خامخا نوې خبره وکړي او کله چې نوې خبره د بیت په محدود چوکاټ کې په اسانه ځای نه شي، بیا دا امکان شته چې د کلمو طبیعي ترتیب صدمه ووینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ختیځپوه راوتي د معلوماتو په اساس شیدا د خوشحال خټک تر وفات څو د پرش کاله وروسته دنیا ته راغی. دی د خوشحال خټک غوندې د سرای او سېدونکی دی او یو مشهور نظر دا دی چې د هغه د لمسي، افضل خان، زوی به وي. شیدا له وروره د خوابدي په وجه یا بل علت هند ته تللی او هورې په رامپور کې په ۱۱۹۴ قمري هجري کې په غالب گومان تر زړبودن لږ دمخه وفات شوی دی.

ډاکتر حنیف خلیل چې د شیدا د دیوان په څلورم چاپ یې په ۲۰۰۵ کال کې سریزه کښلې ده، لیکي: (... زه دلته د کاظم خان شیدا دور ته د ښخي نژدې د هندوستان د تذکره نگار مولوي قدرت الله شوق رامپوري هغه الفاظ رانقل کوم چې هغه په خپله تذکره تکلمة الشعرا کې د شیدا د وفات نه لږه موده وروسته لیکلي دي او پکې یې د شیدا د شخصیت لنډه شان خاکه وړاندې کړې ده. دا الفاظ په دې وجه هم اهمیت لري چې ممکنه ده رامپوري مرحوم کاظم خان شیدا په خپله لیدلی کتلی وي. هغه لیکي: (خان عالی شان کاظم خان شیدا رییس قوم افاغنه خټک یعنې انسان متمثل به صورت ملک، زاهد، متورع، عابد، متشرع، بسیار عالی حوصله وخوش سلیقه، نازک دماغ، صاحب تمکنت، نهایت بردبار، کوه تحمل و وقار، موصوف به جمیع صفات انسانی، مجمع هنر و قابلیت و سخندانی، صاحب فضل و کمال، شاعر خوش مقال نازک خیال، معنی یاب تازه نزاکت هند، متلاشی مضامین دلپسند و بلند، تا حال در قوم افاغنه روه چنین شخص خوش فکر و خوش گو پیدا نه شده و نه خواهد شد.)

که څه هم د فارسي په اکثرو پخوانو تذکرو کې د کلام د ظاهري ښکلا په خاطر له معنا سره بې انصافي کېږي او د کلیشه شویو عبارتونو، مبالغو او مبهمو اصطلاحاتو بیروبار پکې وي، خو د کاظم خان شیدا په باره کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي شوق رامپوري قضاوت ځکه بې بنیاده نه ښکاري چې دواړه د یوه عصر کسان وو او لا مهمه دا چې د کاظم خان شیدا خپل دیوان هم د دغسې قضاوت پخلی کوي. د رامپوري په تبصره کې لولو چې شیدا د هندي سبک شاعر دی، په نویو شعري مضامینو پسې ګرځي، په ادبیاتو ښه پوهېږي، نازک خویه دی او د غرور او تمکین څښتن دی.

کاظم خان شیدا چې بل ته سر نه ټیټوي او د آدابو ډېر پروادار ښکاري، د هاغسې خبرو کولو ته چندان مایل نه دی چې مورېې تغزل ګڼو. د ده په شعر کې د معشوق په مقابل کې انفعالي حالت نشته. د ختکو دغه خانزاده د خپل خیال او خپلې خودداری له لوړه برجه د معشوقې ننداره کوي او دې ته تیار نه ښکاري چې له برجه راکوز شي، په معشوقې پسې روان شي، زاری ورته وکړي او هغه ورته د حقارت په نظر وګوري.

خو له دغه حالت سره سره، د شیدا په دیوان کې د معشوقې د حسن داسې نوي او روښان انځورونه موندلای شو چې ګومان کوم د خوشحال له دیوانه پرته د پښتو په بل هیڅ کلاسیک دیوان کې ساری نه لري. دا د شیدا بیتونه دي:

راشه ګوره د کاکل سیه مستی ته
یو قدم په لاره تلی نه شي بې دوشه
پس له شامه ګوره رنګ د شعله رویو
په شپه ګرم وي د شمعې بازارونه
چې هېمش لکه مجنون په صحرا ګرځي
بوی د چا د زلفو درغی شماله
د دانې په عوض ګل لري په دام کې
په رخسار یې توري زلفې بلبل ګېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورې سترګې دې شوې ترې په خندا کې
که هندوګې د هند لامبي په ګنګا کې

زموږ ګڼ کلاسيک شاعران هند ته تللي او هورې او سېدلي دي خو له خوشحال خټک پرته بل يو هم د شيدا په اندازه هندي حسن ته ځير شوی نه دی.

شيدا په خپلو ګڼو بيتونو کې د هند سبزانې يادوي. هندۍ چې د روه ( پښتونخوا ) تر جينکو تورې دي، سبزې بلل کېږي. په پخواني تصور کې رنګونه يا تت دي يا روښان. زېړ، سور او سپين روښان رنګونه دي او زرغون د تور غوندې په تتو رنګونو کې حساب دی. سور او زېړ چې د يوې کورنۍ رنګونه دي، زموږ په تصور کې د يو بل په ځای راځي. موږ طلا ، چې زېړه ده، سره زر بولو او په ځنګل پوښلی غر ممکن تور غر وبولو. د زلمکو په شونډو راټوکېدلي وېښته ( خط ) هم تور بلل کېږي او هم شنه. شيدا وايي:

په سبزه کې يې د خط و لب جلوه ده
که موجونه دي د ميو په مينا کې

مينا د شيشې بوتل ته وايي چې شين رنګ يې مشهور دی او په همدې وجه د اسمان ګونبزې ته ګنبدِ مينايي او شنه رنګ ته مينا فام ويل شوي دي. شيدا چې د هندي نجونو تور بخون مخ انځوروي، سبزه يې بولي او سرې شونډې او تور خط داسې ورښکاري لکه د زرغونه بوتل سره شراب.

شيدا په يوه بل بيت کې وايي چې هندۍ نازکې دومره سبزې دي چې که يې مينا وبولې، خوا بدوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازکان د هندوستان سبز رنگونه
مکدر شي د مینا په انتساب

هغه نجلۍ چې هم یو څه توره وي او هم یې څېره جذابه وي، سکانه بلل کېږي. شیدا ته د هند سکانې د سپوږمۍ په زېړه رڼا کې د ریحان د شنو پاڼو غوندې ښکاري:

د هند په ملک کې عجبه سکانې دي
ناز و ادا لري کله ناجانې دي
چې یې نظر کړې و طرفه حسن ته
شپه د مهتاب کې د ریحان پاڼې دي

ریحان چې ببری او کشمالی هم ورته وایو، معمولاً چوناییي (بنفش) رنګ لري او پاڼې یې توربخونې ښکاري. په پښتو کې د (توره ببریه) وصفي عبارت مشهور دی. په دېوانونو کې ریحان له ځینو نورو جهتونو هم یاد شوی دی: ریحان په مات کودي کې کرل کېږي (ځکه ریښې یې ژورې نه دي او رابوټېدلو ته یې لږه خاوره بس ده.)، پاڼې یې خوشبویه دي او ګویا د مار ورنه بد راځي. شمشوبی، نعنا او ویلنی د ریحان د کورنۍ خوشبویه نباتات دي. پښتو متل دی، وايي: مار له شمشوبي بد منل د غار په خوله کې یې شین شو.

... شیدا د غرونو له وطنه په نوې ځوانۍ کې وتلی او پاتې عمر یې په پردېسۍ کې تیر کړی دی. دی په ۱۱۸۱ قمري هجري کې (۱۷۶۷ میلادي) د خپل دیوان په سریزه کې لیکي چې (په عنفوان د شباب مې استراحت د حضر په محنت د سفر مبدل شه او الی آن مې په شام د غربت صبح د وطن مالوفه طالع نه دی.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

میجر راوټي چې د شیدا د دیوان د ترتیب تر کال کابو یوه پیړۍ وروسته یې د پښتو شعر د منتخباتو کتاب (سلیکشن فرام دي پویټري آف دي افغانز) تالیف کړی دی ، د ده په باره کې لیکي چې د خپل ورور د سخت چلند په وجه یې وطن او پوله پټی هغه ته پرېښودل؛ څو کاله په کشمیر کې و ، هورې یې ډېر علم حاصل کړ ، بیا سرهند او ورپسې د هند د شمال افغان ریاست (رامپور) ته لاړ. د راوټي په قول شیدا ژوند په مسافرۍ او بوازیتوب کې تېر کړ ، واده یې ونه کړ. راوټي دا هم لیکي چې مشر ورور هغه ته چې لا کمکی و ، د تره لور په نوم کړې وه خو دی له هغې سره واده کولو ته تیار نه و. که دا خبره همداسې وي نو شاید دا وجه به هم وه چې شیدا هیڅوخت وطن ته راستون نه شو او دا خاطره یې دومره ترخه وه چې بیا یې هیڅوخت واده ته زړه ښه نه کړ.

د راوټي په نظر د شیدا شعرونه د میرزا خان انصاري د شعرونو غوندې ډېر عرفاني رنګ لري. خو زما په نظر شیدا د ځمکې په مخ د نویو خبرو په موندلو پسې دومره سرګردان دی چې آسمان ته یې لږ پام شوی دی. شیدا د پښتو په هغو دیواني شاعرانو کې حسابولای شو چې عرفاني مضامینو ته یې زیاته توجه نه ده کړې. شیدا چې د کومو فارسي شاعرانو ډېره ستاینه کوي او استادان ورته ښکاري ، لکه ، صایب ، غني او شوکت ، هغوی هم د عرفان شاعران نه بلل کېږي. په دې برخه کې چې استاد زلمي هېوادمل په خپل یوه کتاب (په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه) کې څه لیکلي دي ، لا دقیق ښکاري: (د عرفان چاشني هم د شیدا په دېوان کې پیدا کېږي. که څوک وغواړي له دې جهته دا دېوان ارزیابي کړي نو به یې هاند و هڅه بې ګټې لاړه نه شي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شعر او فلسفې يو توپير دا دی چې له فيلسوفه د فکر د سستم غوښتنه کېږي او شاعران له قيد وبنده بې پروا وي. د فلسفي متفاوتې خبرې بايد د يو بل بشپړوونکي او تاييدوونکې وي خو په شاعر دغه پابندي نشته. د هندي سبک شاعران چې همېشه د نويو خبرو لېوال دي، ممکن لا زياتې متناقضې خبرې وکړي، ولې شيدا له دې سره سره چې همېشه د نويو خبرو د موندلو کوښښ کوي، د پښتو تر اکثرو نورو شاعرانو راټول او منسجم اخلاقي او فکري نظام لري چې اډانه يې په متانت ولاړه ده. همدې انسجام پروفيسر نواز طاير هڅولی دی چې وليکي: (شيدا شاعر هم و او فلسفي هم.) شيدا د عزت د ژوند د لرلو لپاره په سلګونو سپارښتنې کړې دي. زما په ذهن کې د ختکو دغه مسافر خانزاده د خړو خاورو د غېږې روانو، روڼو اوبو ته ورته دی. دا تشبيه د ده خپله ده، دی وايي:

د اوبو په شان روان په هسې لار شه
چې دا سپينه لمن وساتې له ګرده ))

شيدا په کال (۱۱۹۴) ه ق کې په رامپور کې مړ دی او په هم هغه ځای کې خښ شوی دی.

## ۴-۳ علي خان

((دنړۍ د هر ادب دا بد قسمتي ده چې د ادب لويې نامې يا د هغوی د ژوند په هکله د تاريخ پاڼې اکثر چوپ پاتې شوې دي.خو دغه خلکو د خپل فن په ذريعه ځان ژوندی ساتلی.لکه د نړۍ په رنګ د پښتو ادب سره هم دا المیه ده چې د ادب لويې نامې يا خو زموږ نه ورکې دي او که تر موږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رارسېدلې دي، نو بس د هغوی د شعرونو تر حده ـ د اشنغر په ادبي خاوره زېږېدلی علي خان بابا هم په دغه ورکو شاعرانو کې یو دی د چا په هکله چې پښتنو څېړنکارانو دهغه د دیوان په بنسټ خپلې خپلې نظریې بیان کړې دي.

د علي خان بابا نوم او تخلص: د علي خان بابا سره یوه مسئله دا هم ده چې د هغه له استوګنې سره سره د هغه په نوم کې هم اختلاف دی ـ استاذ حبیبي او استاذ صدیق الله رښتین یې د خوشحال بابا کړوسی، د افضل خان زوی او د کاظم خان شېدا وروړ ګڼي.د کاظم خان شیدا د دغه وروړ نوم حسن علي خان و.

سید تقویم الحق کاکاخېل یې نوم احمد علي خان یادوي.له تقویم الحق کاکا خېل سره سره عبد الکافي او قاضي عبد الحلیم اثر یې هم علي احمد خان ګڼي.خو د هغه نوم عقاب خټک علي خان ثابت کړی دی.

معــما مې ده اووه سوه د اســــم

لا یو کم دی که دوه واره ورله لام لاړ

له دې شعر نه د علي خان د نوم حروف ابجد ۷۲۱ راځي که علي احمد وي نو بیا به ۱۲۳ مجموعه جوړېده.ځکه موږ ویلی شو چې د علي خان نوم او تخلص د هغه د شعر په بنسټ علي خان دی.

د استوګنې په هکله یې ښاغلی حبیب الله رفیع وایي: "علي خان د اشـــنغر په سمسوره او ادب خېزه وادۍ کې پېدا شوی دی ـ او د جیندي د بهاند او څپاند سیند په غاړه د یو ښکلي کلي استوګن و ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله سيد تقويم الحق کاکاخېل وايي: "د علي خان اصلي نوم علي احمد خان و. د جيندي خوړ په غاړه په يوې وړې غندې بانډه کې پېدا شوی او د دغې خوړ په صفا اوبو لوی شوی دی. جيندي د اشنغر په علاقه بهېږي او د تنګي چارسدې خوا وشا واړه واړه کلي پرې اباد دي. د دغې وجې د علي خان ژبه او لهجه خالصه اشنغرۍ ده".

د استوګنې په هکله خو اکثر محققين يوه خوله دي چې علي خان بابا په اشنغر کښې اوسېدلو ځکه چې د هغه په شعرونو کې د اشنغر ذکر ډېر راغلی دی.

مسئله ټوله د علي خان بابا په قوميت کې ده چې محققين پکې اختلاف لري. حبيبي صېب او رښتين صېب يې خټک ګڼي. اجمل خټک بابا هم د دوي تائيد کړی دی او هغه هم علي خان خټک ګڼي. دوی دا هم وايي چې علي خان د سعدالله خان د لاسه جلاوطن شوی و. سعدالله خان د افضل خان خټک زوی او د کاظم خان شېدا وررو دی. سعدالله خان د خپل پلار نه پس د اکوړي حاکم شوی و او د خپل حکومت د مضبوطوالي لپاره يې پخپلو ورونړو زور زياتي کول، چې له کبله يې کاظم خان شېدا وطن پرېښودلی و. دا رنګه دوی علي خان د سعدالله خان او کاظم خان شېدا ورور او د افضل خان خټک زوی ګڼي.

د دوی د نظريې مرسته او مخالفت دواړه شوي دي. په مرسته کې يې ښاغلی سرفراز خان عقاب خټک صېب هم شامل دی چا چې د علي خان په ديوان کې څه الفاظ را وايستل او د هغې په بنسټ يې علي خان ته خټک وو ايو. هغه وايي: "که يو سړی خو وسېږي په اشنغر کې، کوم چې د محمدزيو مرکز دی خو پخپل ديوان کې د خټکو لهجه ليکي نو ددې

شهادت ددي بغېره بل څه نتيجه نه شي کېدله چې هغه سړی خټک وو.(قند مردان اکتوبر ۱۹۷۱ـ ص -۴۲ )

خو د عقاب خټک راغونډ شوي زيات تر لفظونه هغه و کوم چې د ټولې پښتونخوا شريک لفظونه وو ځکه په د غه مقاله په يو وخت قلندر صېب ، عبدالکافي اديب صېب ، عبدالرحيم مجذوب صېب او ښاغلي همېش خليل صېب اعتراضات کړي دي.

کله چې موږ ته د علي خان بابا د ژوند په هکله څه خارجي سندونه او قطعي دليلونه په لاس نه راځي نو بايد چې موږ د هغه کلام ته ځير شو کومه چې د تحقيق او تنقيد د اصولو مطابق خبره هم ده.

علي خان بابا پخپل کلام کښې اشنغر ته خپل وطن وايي.او داسې کله هم نه شي کېدلی چې يو بنده په اصل کې خو وي د يو ځای خو بل ځای ته خپل وطن وايي:

چې يار نه وينم دلې په اشنغر کې

پټووم به له وطنه پسې سر مخ

يا د جيندي ذکر هم کوي لکه چې وايي:

نه پوهېږم زه د چا په زړه څه له غولاوه شم

ځښلې مې ساده صافې او به دي د جيندي

لنډه دا چې که موږ د علي خان بابا د استوګنې او يا قوميت په هکله څه هم ليکو ، نو بايد چې د هغه د ديوان شعرونه ، لهجې ته ځير شو کومه چې خالصه اشنغرۍ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی همېش خلیل وایي چې اشنــغر کښې ممن زي اباد دي کوم چې ځان ته محمدزي وایي خو په اصل کې دا محمدزي نه بلکې ممن زي دي. نو موږ په کلکه دعوا سره دا ویلی شو چې علـــي خان بابا د اشنـــــغر په سیمه زېږېدلی او د جیندي په صفا اوبو لوی شوی دی. او په قام ممن زی دی.

د علي خان بابا د استوګنې او قومیت په شان د هغه د عهد تعین هم د اختلافو ښکار دی. د علي خان بابا پخپل کلام کې هم د ده د دور څه ښې نښانې په نظر نه راځي. صرف په یوه قطعه کې یې ۱۳ ذي الحجه ۱۱۸۰ هجري تاریخ شته او دا ترې ثابتېږي چې تر ۱۱۸۰ هجري پورې علي خان بابا ژوندی و. اوس هم دغه قطعه څوک د علي خان بابا پېدا ایښت ګڼي او څوک یې د دغه قطعې د لیکلو تاریخ.

ختمې د عــاشق چـــې لا اخښلـــې ملایکو
غم یې لکه بوس هسې ورګډ کړو په خمیر کې
سن د هـــجري غـــر وه سر د کاڼي ترې کمتر وو
ورځ د دیـــارلسمه ذوالحجه وه په تحریر کې

عبدالکافي ادیب صېب وایي چې د خادم محمد اکبر مرحوم د لټون مطابق د علي خان د زېږېدون کال ۱۳ ذي الحجه ۱۱۸۰ هجري دی او د ثبوت په توګه یې هم دغه قطعه وړاندې کړې ده.

"غر " په ابجدو کې د ۱۲۰۰ برابر دی او چې د کاڼي سر یعنې "ک " ترې کم تر شي نو ۱۱۸۰ ترې جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید تقویم الحق کاکا خېل وايي چې دا دعلي خان د وړومبي دور غـزل دی ځکه چې د هغه د آخري دور د غزلو په مقطع کې مذهبي اشاره ضرور وه. تقویم الحق کاکاخېل ۱۱۸۰ هجري د دې غزل د لیک تاریخ ګڼي.

اروابناد قلندر مومند د ۱۲۰۰ سره ۲۰ جمع کوي او ۱۲۲۰ یعنې د صاحبزاده محمـدي د مرګ کال ترې جوړوي. خو ځنګه چې دیارلسم هجري تاریخ د سند سره نه دی ثابت کړی شوی، بل دا چې دا غـزل د اول نه تر اخیره پوره په روماني رنګ کې رنګ دی ځکه د مرثیې د امکان نه ډېر لرې ښکاري.

هر څه چې دي هر محقق پرې د خپل علم او تحقیق په بنسټ خپـل نظر وړاندې کړی دی. موږ د ټولو قدر کوو، خو د علي خان بابا د دور په هکله دومره ویلی شو چې علي خان بابا تر ۱۱۸۰ هجري ژوندی و.

علـــي خان بابا د خپل دور د پښتو روماني او رنګین شاعر په حیث خپل ځان او خپل زور پخپل دیوان کې ښودلی دی او د حمید بابا او کاظم خان شیدا نه پس د پښتو ادب د هندي سبک دریم استاذ دی.)) (وېب: عمرانیات)

## ۴-۴ کامګار خان خټک:

کامګار خان خټک د نامدار خان زوی د اشرف خان لمسی دی، د زېږېدو جوته نېټه یې نه ده څرګنده، خو دومره معلومېږي، چې په (۱۱۲۵) کال کې مړ دی. په پښتو او فارسي ژبه یې شعرونه ویلي دي، یو نازکخیاله شاعر دی، د هندي سبک د نورو شاعرانو په څېر یې خپل ټول ادبي ژوند د خط او خال ستایلو ته ځانګړی کړی دی، د شعر دیوان لري، چې د شعر نمونه یې په دې ډول ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خاطره مې عشق یوړ تدبیر ورو ورو
دیوانه شوم سزاوار د ځنځیر ورو ورو
صورتګر چې ستا صورت په سترګو ولید
له خجلته یې کړ څیرې تصویر ورو ورو

## ۴-۵ خانګل خلیل:

د پښتونخوا په سیمو کې او سېدلی شاعر دی چې ژوند یې تر ۱۱۵۰ پورې یقیني ښکاري. د خانګل خلیل دیوان ورک دی، خو څه شعرونه یې په یوه ځانګړې مجموعه کې چې (د خانګل خلیل څو شعرونه) نومي، په ۱۳۶۰ ه ش کال په کابل کې پښتو ټولنې چاپ کړي دي.

دی د هندي سبک پیرو شاعر دی، په شعر کې یې مضمون افریني او د هندي سبک ښکلاوې لیدل کېږي. دا یې یوه ښکلې رباعي:

بلبل هر چا ته دا خبرونه کا
وخت د بهار شو غوټۍ ګلونه کا
پسرلی د هغو چې یار ترڅنګ لري
هېوادبېل شوي لا ارمانونه کا

(۲۸ : ۲۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ – ۶ محمد بیاض گدون:

د عبدالحمید مومند پیرو دی. په پښتو کې ترې یو رنګین دیوان پاتې دی، چې په پېښور کې چاپ شوی هم دی. د ده د دیوان له مطالعې ښکاري چې دی د خمکنو د میاعمر (رح) مرید هم و او په خپل دیوان کې یې د حمید د غزلونو او نورو اشعارو په پیروۍ شعرونه ویلي دي. بیاض په اصل کې د پښتونخوا د (زیده) نومي کلي اوسېدونکی و، بیا پېښور ته راغی او له دې ځایه دکن ته لاړ او د ژوند تر پایه په دکن کې اوسېدلی دی. د ژوند زمانه یې د دوولسمې پېړۍ او اخر ته کل کېږي.

ده هم لکه بیدل هشنغري غوندې د حمید مشهور ترکیب بند استقبال کړی دی او د دغه ترکیب بند په پیروۍ یې یو ترکیب بند جوړ کړی دی، چې یو بند یې دلته رااخلو:

نن به شپه زما د یار په کوم مقام وي
لکه میاشت به راښکاره په کوم یو بام وي
تماشګر به یې ومخ ته خاص و عام وي
خوب خندا له ستومانۍ به پرې حرام وي
ولې نه چوې زما زړه له ډېره غمه
چې لا بیل ګرځې له خپله همدمه

(۲۸ : ۲۲۲)

## ۴ – ۷ قلندر مومند:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلندر مومند (زېږېدنه:۱ د سپتمبر ، ۱۹۳۰ز. - مړینه: ۴ د فبروري، ۲۰۰۳ ز. ) د پښتونخوا يو شاعر، کره کتونکی، ليکوال، اديب او خبريال و. نوموړي په سيند کښني کې هم نوم درلود او د درياب په نامه د يوه پښتو سيند ليکلو امتياز هم ور په برخه دی. نوموړی په سياسي چارو کې هم ښکېل ؤ او د پاکستان د کمونېست گوند غړی هم و. دا چې نوموړی څه نا څه يو هر اړخيزه شخصيت ؤ خو د نوموړي د ژوند په وروستيو وختونو کې کله چې قلندر مومند د پټې خزانې د جعلي ثبوتولو په موخه يو کتاب، پټه خزانه في الميزان وليکه نو په دې توگه يې د پښتو په ادب کې يوه ناندريزه بحث ته لمن ووهله.

د قلندر مومند اصلي نوم صاحبزاده حبيب الرحمن قلندر مومند و او د پېښور د صاحبزاده مومند په کلي کې نړۍ ته راغلی و.

قلندر مومند د پېښور گڼو رسنيو سره دندې ترسره کړې. نوموړی په ۱۹۲۲ز. کال کې د اردو ورځپاڼې انجام د خبري څانگې ايډيټر پاتې شوی. همدا راز يې د بانگ حرم، خيبر مېل او د پښتو اوونيزې رهبر سره خبرياليي کارونه سر ته رسولي. قلندر مومند د اردو ورځپاڼو آج او د مشرق ورځپاڼې لپاره مسلسل کالمونه ليکلي او د پېښور د پرېس کلب بنسټ اېښودونکی هم پاتې شوی.

د قلندر د هندي سبک پيرو دی، يو کوچنی ښکلی ديوان لري.

قلندر د پښتو او فارسي ژبې شاعرانو پر خلاف يو معلوم محبوب لري، چې د قلندر محبوب ميرا دی، دی په ميرا باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاشق دی او دا هغه سوو ځونکي او ریښتیني مینه ده، چې د ده له مرگ وروسته یې داستان د فولکلور لمنې ته لویږي.

د قلندر د سوځنده شعري نړۍ د یو شعر څو بیتونه:

چې را یاد یې سپین غاښونه سره لبان کړم
دَر د اوښکو یې نثار تر گریبان کړم
توري زلفې چې یې وربځې کړم په زړه کې
توی د اوښکو له چشمانو پرې باران کړم

## ۴ – ۸ پیرمحمد کاکړ:

ښاغلی قاسم ابدال د پیرمحمد کاکړ په هکله لیکي: ((د پیر محمد کاکړ دیوان دوهم چاپ د صحاف نشراتي مؤسسې -کوټې له خوا په کال (۱۳۸۲) لمریز کې چاپ شوی دی ، پر دغه دیوان لیکل شوې سریزې د استاد حبیب الله رفیع او استاد بینوا صاحب دي. رفیع صاحب پیر محمد کاکړ څنگه را پیژني؟ رفیع صاحب لیکلي دي: پیرمحمد کاکړ په ځته پښتون او د کاکړو له لوی ټبر څخه و ، خو پیر محمد کاکړ په خپلو اشعارو کې د ځان سره د کاکړ کلمه نه ده راوړې خو شمس الدین کاکړ د پیر محمد کاکړ پیرو او لاروی و ، چې خپل بشپړ دیوان لري د پیر محمد کاکړ د نامه سره د کاکړ کلمه راوړې او وایي:

پیر محمد کاکړ په شعر کې نامدار و
یو وړ قبر لره ده ارمان د شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې وروسته د پښتو ټولو محققینو ، تذکره لیکوونکو او ادب څېړونکو د پیر محمد له نامه سره د کاکړ کلمه کښلې او راوړې ده. استاد بېنوا صاحب په خپله سریزه کې لیکلي دي: پیر محمد کاکړ د پښتو ادب نومیالی شاعر په قوم کاکړ او اصلي ځای یې ږوب و ، چې مخصوص د کاکړانو پښتنو د استوګنې سیمه ده. د پیرمحمد زیږېده په همدې علاقه کې چې د پلار او نیکه ټاټوبی یې بلل کیږي واقع شوی دی مګر د زیږېدو نېټه یې په یقیني توګه څرګنده نه ده، د اټکل او تخمین له رویه د ده زیږېدنه باید د (۱۱۲۰ هـ،ق) کال په حدودو کې وي ځکه چې دی د احمد شاه بابا معاصر و او د احمد شاه بابا په وختونو کې یې شعر وایه او په خپله د احمد شاه بابا د زوی شهزاده سلیمان استاد او معلم و. څنګه چې له یوې خوا احمد شاه بابا په(۱۱۶۱هـ،ق) کال پر تخت کښېناستلی دی او له بلې خوا د پیر محمد کاکړ د اشعارو په استناد په دې وخت کې پیر محمد کاکړ سپین ږیری و ، نو د ده د زیږېدو لپاره به پورتنۍ نېټه ناوړه او له حقیقته ډېره لیرې نه وي. ) ) ( وېب: لروبر )

مرحوم استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د پیرمحمد کاکړ د سبک او مکتب ځانګړنې داسې بیانوي:

۱- د عشق خورا نري احساسات پکې شته ، د دې سبک د شاعر کار له زړه سره دی،لکه د رحمان بابا لسان الغیب نه دی چې له عالم قدس څخه وغږېږي او نه وچ کلک ناسوتي دی؛بلکې د هغو تودو احساساتو څخه الهام اخلي چې آرټ او صنعت زېږوي.

۲- په دې سبک کې تشبیهات او استعارات طبعي رنګ لري، د ظاهري ښکلیتوب او مادي جمال بیان کوي او په دې ښېګڼه کې د خوشال خان سبک ته ورته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- الفاظ او عبارات يې پرېولي او روان دي، ژبه يې جذابه ده.

۴- د معاني او احساساتو په تجسم او تصوير کې د ژبې خاص بلاغت استعمالوي، مطلب سپېځلی او روښانه راوړي، تعقيد او ابهام نه خوښوي.

۵- د اخلاقو تلقين او مواعظه يې لاهوتي نه ده، حتی المقدور د اجتماع او انساني معاشرت له خنډه نه وځي. د پير محمد کاکړ سبک په دغو مميزاتو او خواصو د خوشال او رحمان بابا د سبکونو ترمنځ يو فاصل خط دی او دا سبک د آرت له پلوه غوره او ډېر ښه دی. ( ۲۳ : ۵۳ )

د پير محمد سبک په سادګۍ، سلاست او متانت کې د خوشال او رحمان بابا مکتب ته ورته دی او په مضمون افرينۍ او نزاکت کې او اديبانه تلازماتو او استعاراتو کې د حميد او شيدا د مکتب ښکڼې لري، ځکه نو د ده ويناوې خورا خوږې او له خونده ډکې دي او د ده ادبي مکتب د پښتو ادب يو غوره سبک منځ ته را ايستلی دی چې پخوا تر ده نه و.

دی سره له دې چې خپل کلام د شعر و شاعرۍ په ټولو بديعي مزاياوو او محسناتو ښايسته کوي؛ مګر سره له دې د روانۍ، سلاست او سادګۍ ملونې هم له لاسه نه ورکوي او دا يو اځې د ده خاصه ده. ( ۲۳ : ۲۷۷ )

د پښتو په کلاسيکو شاعرانو کې د لوړ مقام څښتن دی، دا چې د چا زوی او د کوم ځای دی موږ په تياره کې پرېږدي او تر اوسه پورې هيڅ معلومات د دې خوږ ژبي شاعر په اړه نه لرو.

د پير محمد کاکړ له اشعارو څخه جوتيږي، چې د حميد د سبک لاروی دی او د مضمون له مخې يې د حميد په تعقيب او پيروۍ د خط ډېره ستاينه کوي او ډېر ځای يې د حميد پر مضمون شعر ويلی دی. لکه دا شعر:

ویمې ماته ستا دغاښو تعریف څه دی

وې ژلۍ دي په لاله کې چې ویلیږي

او دا یې هم د شعر څو بیتونه د نمونې په ډول:

باریک خط پر کښلي مخ سو د جانان ګډ

لور په لور شوه په عسلو مُرچګان ګډ

پاس پرشونډو یې خال نه دی چې نمایږي

شین مګس دی په چشمه کې د حیوان ګډ

## ۴ – ۹ محمدي صاحبزاده:

محمدي صاحبزاده د خمکنو د میا عمر زوی دی، په پښتو کې د ښکلي دیوان څښتن دی او د المستغاث په نامه منظوم پښتو کتاب لري، د برهان الاصول او مقاصد الفقه په نامه دوه عربي کتابونه یې هم لیدل شوي او محمدي صاحبزاده په کال (۱۲۲۰) ه ق کې مړ شوی.

محمدي صاحبزاده خپله ټوله پاملرنه د غزل خواته اړولې ده او د پښتو ژبې د ادب د دغې اشنا برخې په سینګارولو کې یې خپل ادا کړی دی، خپل ټول شعرونه یې د جانان د جمال په ستایلو او غماز په غندلو کې ویلي دي. د شعر بېلګه یې داده:

چې بې تا ګرځم په سیل د نوبهار کې

سره لمبه وینم د اور په لاله زار کې

محمدي د یار د مخ آیینې ته ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دې سرو اوبو ویشتلی یم په نار کې

استاد اسدالله غضنفر د محمدي په اړه په خپله یوه مقاله کې لیکلي: (( د محمدي صاحبزاده په وفات څه باندې دوه سوه کاله تېرېږي خو دیوان یې ډېر وروسته په ۱۹۸۵ کې چاپ شو. د ده د دیوان د ترتیب او تصحیح کار اروابناد قلندر مومند تر سره کړی دی. نامتو محقق زلمی هېواد مل لیکي چې محمدي صاحبزاده په دیوان سربېره د یو بل پښتو منظوم اثر او دوو عربي کتابونو مولف دی. د استاد هېوادمل په نظر محمدي صاحبزاده د هندي سبک شاعر دی.

موږ په دې لیکنه کې د پښور د سیمې د دې شاعر په دیوان کې د هندي سبک د ځانګړنو ننداره کوو.

د هندي سبک شاعران مدعا مثل ته ډېر پام کوي. مُدعا مَثَل دې ته وایي چې شاعر په لوستونکي باندې د خپلې خبرې د منلو او د خپلې ادعا د ثابتولو لپاره یو مثال راوړي. محمدي صاحبزاده د خپلې دې ادعا د ثابتولو لپاره چې باهمته بنیادم په عین بېوزلۍ کې بډای دی، د څاڅکو او سین مثال ورکوي. څاڅکي د سین په نسبت ډېر بېوسه دي خو دا د باران څاڅکي دي چې د خپل سخي او همتناک طبیعت په برکت له سین سره مرسته کوي او اوبه وربښي. د صاحبزاده په قول:

همت ناک سړی که خوار وي دولتمن وي

څاڅکي ګوره نه کوي له دریا طمعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې بيت کې همت ناک سړی له څاڅکو ، په سين کې د څاڅکو تويېدل له سخاوت او بې همته لالچي بنيادم له سين سره تشبيه کېږي خو دا تشبيه ګانې پټې دي. د مُدعا مثل بنياد که څه هم په تشبيه ولاړ دی مګر د تشبيه توري مثلا : لکه، غوندې، په شان، په دود... پکې نه وي او بله دا چې هر مدعا مثل په اصل کې له دوو يا دريو تشبيه ګانو جوړ شوی وي. د محمدي صاحبزاده په ديوان کې د مدعا مثل له تخنيک او صنعته نسبتا ډېره استفاده شوې ده. محمدي صاحبزاده تر مدعا مثل هم د حُسن تعليل صنعت ته زيات پام کړی دی. دی وايي:

په لوګي کې مې د زلفو سا خپه وه

ځکه نه راته يوه ګړۍ بېګا خوب

دلته د ساډوبي لپاره شاعرانه او غيرواقعي دليل راوړل شوی دی.دغسې غيرواقعي خو ښکلي دلايل چې حسن تعليل يې بولي، د محمدي صاحبزاده په ديوان کې ډېر پيدا کولای شو. د ځينو ادبپوهانو په قول د هندي سبک شاعران حسن تعليل ته هم ډېر پام کوي. د محمدي صاحبزاده په ديوان کې د حسن تعليل څو نور مثالونه:

ستا د سترګو ښو نبغ نبغ دی وهلی

د بادام جامه اوس ځکه سوزني ده

ماتوي پرې د کجکو زلفو مينه

لېوني چې ډېر وهي په ځولانه لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښا پېرۍ ځکه مخ پټ په پلو ګرځي
چې څېره يې ده تر تا پورې بدرنګه

پـه ټـول پښـتـو اني شـعـر پـه تېـره بيـا هـنـدي سـبک کـې د تناسـب تخنيک ته ډېره توجه شوې ده. په دې صنعت کې د بيت ځينې کلمې د يوه کُل جزوي. مثلا محمدي صاحبزاده وايي:

انتظار مې ملا کږه تر نوې مياشت کړه
اې زما ماهِ تمامه راشه راشه

دلته ماهِ تمام يعنې څورلسۍ او نوې مياشت، دواړه، د سپوږمۍ د کـل اجـزاَ دي. شـاعر معشـوقه ځکـه څورلسـۍ بللـې چـې لـه نـوې مياشت سره تناسب رامنځ ته شي. د محمدي صاحبزاده پـه دېوان کې د تناسب صنعت زيات وينو. يو بل مثال:

د آهو په دود ترهېږم چې څوک وينم
سوي غم د بېلتانه کړ مجنون هسې

دلتـه مجنـون، غـم، بېلتـون، آهـو او ترهېـدل لـه يـو بـل سره تناسب لـري. دوی ټـول د لـيلا و مجنـون د کيسـې پـه تـار لـه يـو بـل سـره پېيـل شوي او د يوه کُل اجزا دي.

د هنـدي سـبک پـه بـاب ويـل شـوي چـې نويـو تصـويرونو تـه پکـې زيات پام کېږي او د زړو تشـبيهاتو ، اسـتعارو او انځورونـو تکـرارول پکـې عيـب بالـه شـي. لـه دې اړخـه هـم کـه د محمـدي صـاحبزاده د ديوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغیرو ، د هندي سبک اغېز به پکې ووینو. دی تر اکثرو دیواني شاعرانو نوي تصویرونه نسبتا زیات لري.

هینداره یو هغه شی دی چې د پخوانو او اوسنو شاعرانو توجه یې ډېره جلب کړې ده. په دې باره کې د نوي څه ویلو چانس ډېر کم دی خو محمدي صاحب زاده آیینه له سړو اوبو سره تشبیه کړې ده چې دا نهایت نوی تصویر دی. دی وایي:

محمدي د یار د مخ آیینې ته گوره

دې سړو اوبو ویشتلی یم په نار کې

د نویو تصویرونو د موندلو لپاره شاعر په چاپېریال کې سترگې غړوي او نوي مواد پیدا کوي. محمدي د دې خبرې د کولو لپاره چې د مینې کاروبار د ده د اوښکو په برکت روان شوی دی، د تیرا او پېښور مثال ورکوي. باران په تېرا اوري خو برکت یې پېښور ته رسېږي او په اوبو یې دا وروستی ځای اباد دی. محمدي صاحبزاده وایي:

محمدي ژړا مې کار د مینې ساز کړ

ابادي د پېښور په دې تیرا شي

سرگړی د پښتني چاپېریال بوټی دی چې دروند اور لري، تنور ښه تودوي او د جوماتونو د فرش لپاره هم ورنه استفاده کېږي. محمدي د خپل ماحول همدې بوټي ته کتلي او ویلي یې دي:

د سرگړي په څېر ځکه سره لمبه شوم

د ساقي د لاس پیاله کې و شربت اور

(c) ketabton.com: The Digital Library

... د تصویرونو او تشبیهاتو د تازه کولو یوه ډېره کامیابه لاره دا ده چې شاعر په زاړه او سولېدلي انځور کې نوي ارتباطات پیدا کړي. د محمدي صاحبزاده په دېوان کې د دغسې هڅې کامیابې بېلګې ډېرې موندلای شو. مثلا پخوانو شاعرانو خپل کلام له لعلو او دُرو سره تشبیه کړی دی. دا زَړَه خبره ده خو محمدي صاحبزاده د هغې د تازه کولو لپاره تشبیه په مدعا مثل بدله کړې، نوي ارتباطات یې پکې موندلي دي:

ښکلي نه درنوي غوږ په لعل و درو

محمدي نه رېدي څوک ستا په انشا غوږ

د کورکمن په شان زېړېدل په لنډیو او نورو شعرونو کې ډېر لولو. دا یو مکرر او سولېدلی انځور دی خو محمدي صاحبزاده له همدې تصویر او تشبیه سره یوه بله خبره یو ځای کړې او خورا نوې څه یې ویلي دي:

دا د چا کتهوې رنګ راباندې ښه شه

چې غمونو زېړ په شان د کورکمن کړم

... د هندي سبک شاعري نه یوازې په نویو تصویرونو بلکې په دې هم مشهوره ده چې شاعران یې په نویو فکرونو پسې ګرځي. د محمدي صاحبزاده په دېوان کې داسې خبرې موندلی شو چې د شعر د دنیا د منل شویو خبرو خلاف دي. مثلا په شعرونو کې له معشوقې څخه د فدا کېدو خبره همېشه شوې ده خو محمدي صاحبزاده بل څه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له ښکليو سره نه د رومې په لارې

څه حاصل که ځان يې خاورې د تلي کړې

په پښتو ادب کې د هندي سبک تر ګردو لوی پلوی کاظم خان شيدا بلل کېږي. کاظم خان شيدا چې تر محمدي صاحبزاده څلورويشت کاله پخوا وفات شوی ، په خپل ژوند يې په هند کې د يوان ترتيب کړی او له هغه ځايه يې محمدي صاحبزاده ته را استولی و. هندي سبک ته د محمدي صاحبزاده په راغب کېدو کې غالبا د شيدا لاس هم شته. په دې باره کې لا پوره څېړنه نه ده شوې چې محمدي صاحبزاده له شيدا څومره متاثر دی خو د تاثير په اخيستلو کې يې شک نشته. مثلا د شيدا دا بيت چې وايي:

چې اواز يې د تېښې به کهسار نشته

د شيرينې په طلب لاړې فرهاده

محمدي صاحبزاده را رنګه راا خيستی دی:

چې په غره کې اواز ستا د ترنځ نشته

په شيرينې پسې ورک لاړې فرهاده

اروانباد پروفيسر قلندر مومند د محمدي صاحبزاده د ديوان په سريزه کې ليکلي دي چې د هغه په شعر باندې د خوشال ختټک ، رحمان بابا ، قادر ختټک او حميد مومند اغيز ليدل کېږي.

دا چې د محمدي صاحبزاده شاعري په کومو شاعرانو باندې اغيز کړی، يو بل ناڅېړل شوی بحث دی. موږ په لويو شاعرانو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

علي خان يادولای شو چې د محمدي اثر وربانـدې پروت دی. ده محمدي ته د خپل پير او مرشد په سترگه کتل. ) ) (وېب: تاند )

## ۴–۱۰ شمس الدين کاکړ

شمس الدين کاکړ لکه څنگه چې ځان د لعل په څېر په ايرو کې پټ گڼي، همدا سې د لعل په شان نړۍ ته پټ راغلی دی، ځکه چې د پلار، زېږنځی او مړينې په اړه يې هېڅ معلومات نه لرو، البته عبدالباري جهاني د مشکو کاروان په ادبي تذکره کې ليکي دي، چې: ((د نولسمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې يې د کندهار د کلچ آباد په کلي کې ژوند کاوه ) ). لکه چې په خپله وايي:

لکه لعل په ايرو کې دی بې قدره

هسې پروت دی شمس الدين په کلچ آباد

شمس الدين د حميد ماشوخېلي ډېره ښه پيروي کړې ده او حتا په ځينو ځايونو کې يې نه يوازې د هغه د غزلونو په اقتضاء غزلې ويلي دي؛ بلکې مضمون يې هم کټ مټ راخيستی دی. د کلام بېلگه يې په لاندې ډول ده:

مايو جام کړ د ساقي له لاسه نوش

لاړ له سره زما دواړه عقل و هوش

ديار غم به يې فنا لکه حباب کړي

شمس الدين که له گفتاره سي خاموش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ – ۱۱ میرزا حنان بارکزی

میرزا "حنان" بارکزی د کندهار ښار جنوبي لور ته د "مرت کلا" په کلي کې زېږېدلی دی. په مرت کلا کې د حنان د زېږېدو په باب متواتر روایت شته خو د ده په دیوان کې مې د دې روایت ملاتړ و نه موند. د میرزا حنان د ژوند او کورنۍ په باب موږ ډېر معلومات نه لرو. تر کومې اندازې چې زه خبر یم په دې باره کې د پښتو ادبیاتو تاریخ "دریم ټوک" پښتو ادب تاریخ، پښتانه شعراء "دوهم ټوک"، افغانستان نومي کتاب د کندهار مشاهیر، اریانا دایرةالمعارف، د سره غره گلونه او د ده د چاپي دیوان په سریزه کې لږ و ډېر مواد موندلای شو چې تقریباً ټول یو شانته خبرې لري او لیکوالو له پښتانه شعراء څخه زیاته استفاده کړې ده. د ده په خپل، دیوان کې هم زه ډېر لږ پر داسې ځایونو پېښ شوی یم چې د ژوند زیات اړخونه دې یې پرې روښانه شي. یوازې مې دا څو مورده په سترگه شوي دي، هغه دا چې:

د پلار نوم یې محمد حسن و چې په " ۲۱۱۸ ه ق" کال مړ دی. حنان وایي:

زما پلار محمد حسن د دین پنجه

له هوښیاره مې د مرن پو ښتنه وکړه

خدای دې ور کړي په جنت کې سراچه

راتې و ویل تاریخ شو مرغی چه

د برهان په نامه یې یو ورور درلود چې د حنان په ژوند و فات شوی دی، دی وایي:

د برهان مرن مې پر زړه اور بلاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وفات تاریخ یې دا هاتفي و وې

په پوښتنه مې همه ځای لټاوه

له دا نیم برهانه مخ و گرزاوه

د کندهار او سېدنکی و. د ده خپله وینا دا ده:

په خپه به گلرخان د قندهار وي

چې په مرن ولاړ شي "حنان"رنگه بلبله

له حنانه قرار څه غواړې ناصحه

چې رسوا کړ دا ستا عشق په قندهار کې

له نامه سره یې "میرزا" هم کېښ. لکه په دا لاندې بیتو کې:

دا له غمه د کوم مخ "میرزا حنانه"

له ژړلو چې مې نه در بږي سترگي

د احمد شاهي کندهار د ښکاپر دروازې څخه د موټر او بگیو یوه لار مخ پر جنوب وتلې ده چې د کرز او ذاکر له کلیو څخه تېره او پای یې یوه کوچنې غره ته دربږي. د دې غره په شمالي لمن کې یوه هدیره شته چې پوخ دېوال پر تاو دی. د حاجي جمال خان بارکزي مقبره په همدې هدیره کې ده چې گومبته پر ولاړه ده. دا غر د حاجي جمال نیکه په نامه یادبږي. د غره لوېدیځ لور ته د یوه یا دوو کیلومترو په واټن یو کلی ودان دی چې مرت کلا نومېږي.

د مرت کلا په شا وخوا کلیو کې بارکزي میشته دي. دا کلي د ترنک رود پر شمالي او جنوبي غاړو پراته دي. په ځوانۍ یې شعر ویل شروع کړي دي. له دې لاندې بیته همدغه راز مطلب اخستل کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا له غمه نه یم څه یم چې دا هسې
لا د دېرشو کالو نه یم موی مې سپین شو

"دیوان – ۸۱۸ مخ"

عمر یې تر سپین ږیرتابه پورې رسېدلی و. دی وایي:

چې په سپینه ږیره نه اوړې د ښکلو
آفرین دې شه "حنانه"پر همت

"دیوان – ۱۹ مخ"

چې پیرۍ مې ږیره سپینه کړه خم قد
راته ښایي اوس عصا د سرو قد

"دیوان –۱۱ مخ"

د میرزا حنان د زېږېدو نېټه نه د ده پخپله وینا کې ښودل شوې ده، نه د ښاغلو څېړونکو په څېړنو کې.

د سردار مهردلخان مشرقي د مرثیې په استناد په )ادبي تذکرو – تاریخونو او نورو دې ته ورته آثارو کې یې ژوند تر "۲۱۲۲ ه ق" پورې یقیني بلل شوی دی(. دا سې روایت هم شته چې دیوان یې په همدې کال ترتیب کړی دی. د ده د خپلې وینا سره سم دغه وخت سپین ږیری دی. که یې مور د سپینږیرتوب عمر شپېته کلنی فرض کړو. نو به یې د زېږېدو نېټه د "۲۱۲۱ ه ق" شاوخوا یا په بله وینا د شاه زمان سدوزي، د پاچهۍ اوایل وي.

د میرزا حنان بارکزي د دیوان له لوستلو څخه له ورایه ښکاري چې ده د پښتو ژبې د کلاسیکو شاعرانو او متقدمینو دیوانونه او آثار کتلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مروج علوم یې هم پر ځنګ ور سره لوستي وو. خپل نکته سنج فکر یې د پښتو ژبې د نازکخیاله شاعر عبدالحمید مومند " ۱۲۱۸ ق ژوندی" له خیاله سره ورته موندلی او د هغه ادبي لار او سبک یې غوره کړی او پیروي یې کړې ده. زموږ د ادب تاریخ څېړونکي او ادبپوهان په دې باب په یوه خوله دي چې میرزا حنان د حمید د ادبي سبک ډېر ښه پیرو دی.

اروا ښاد استاد عبدالرووف بېنوا لیکي: د حنان شاعرانه تخیل ډېر لوړ او د نوو مضامینو میندونکی او بداعت خوښوونکی دی. دی هم لکه حمید نوي تلازمات او نوي استعارې او ښکلي تشبیهات څرګندوي... ده هغه ادبي سبک ته ترقي ورکړې ده چې حمید مهمند یې مؤسس دی... دی تر معنوي خوا ادبي ښېګړو ته اهمیت ورکوي... په دې لاره کې لوړې درجې ته هم رسېږي او د پښتو شاعرانو د لومړۍ ډلې او استادانو د ګدۍ په پای کې کښېني او د حمید بابا ګړندی او نامتو شاګرد ګڼل کېږي.

... د حمید د سبک د پیروۍ تصدیق موږ د حنان په خپله وینا کې هم په کراتو مراتو موندلای شو. دی وایي:

پیروي مې د "حمید" موشګاف وکړه
ما "حنان" د شعرلاس کړ د "رحمان" مات

"دیوان–۱۱ مخ"

د حمید د شعر بحر ته "حنانه"
یو څو څاځکي دي لوبدلي ستا ابیات

"دیوان–۱۱ مخ"

د حمید د خوش نظمۍ په زراعت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا "حنان" يې دئ د شعر خوش ه چين

"ديوان – ۹۳ مخ"

حنان په رښتيا سره د خپل عالي تخيل په واسطه د حميد سبک پر مخ بېولی دی، خو کله کله بيا د

حميد پر پله مستقيم گام هم ږدي. )) ( ۲۷ : ۱۸ –۲۴ )

حنان بارکزی چې کابو يوه نيمه پيړۍ پخوا په کندهار کې ژوند کړی دی. د ميرزا حنان بارکزي ټول شعرونه د وصال او هجران- خط او خال – حبيب او رقيب- موضوع جوړوي او دا تنگه موضوع يې په ډېر هنرمندانه ډول په ښکلو الفاظو کې ځای کړې ده، چې دی د دې موضوع د بيانولو لپاره ډېر رنگين او ښايسته کلمات او الفاظ لري. حنان ځان د حميد پيرو بولي، کله کله خو د الفاظو او کلماتو په استعمال او کارونه کې د هغه دومره پيروي کوي، چې شکل او متن يې په بشپړه توگه کاپي کوي، هغه تر جيح بند کې يې، چې د حميد په پيروۍ ليکلی دی، دا پيروي او کاپي په ښه ترا توگه جوتيږي. د شعر بېلگه يې:

د خوبانو خط و خال دی کان د مشکو

څه که کاندي هر سړی ارمان د مشکو

د حنان سينه نو خطو تور سکاره کړه

که سينه ده د حميد دوکان د مشکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ –۱۲ بېدل هشنغري

د بېدل هشنغري د حميد بل پيرو شاعر دی چې د شعر ديوان يې په ۱۹۵۸ ع کال په پېښور کې چاپ شوی دی، د تېمور شاه دراني (۱۱۸۲-۱۲۰۷) په زمانه کې يې د شعر هنگامه توده وه. (۲۸ : ۱۲۰ )

بېدل يو دردمند شاعر دی، چې په خپلو اشعارو کې يې د سوز او گداز په ملتيا پښتو ادب ته نوی روح پوک وهلی دی او که د نازکخيالۍ په فن کې ورته د استعارو، تشبهاتو او بديعي صنايعو استاد ووايو مبالغه به نه وي، د افکارو له مخې د بيدل شاعري عشقيه، او بزمي ده، خو کله کله مذهبي او اخلاقي او اجتماعي رنگ اخلي. داسې معلومېږي چې بيدل، حميد بابا، کاظم شيدا، عليخان او کامگار خان د يوه مکتب او فکر شاعران دي او ښايي همدغه وجه وي چې د دغو واړو شاعرانو په طرز، تجربو او سبک کې له خيال پرورۍ سره سره مبالغه او اغراق هم موجود وي او د ادبي تلازماتو له استعمال سره د تشبيهاتو او استعارو لړۍ يې هم د شاعرۍ حسن او ښايست يو په دوه کړی دی. د حميد بابا، شيدا او کامگار غوندې د بيدل په کلام کې هم د فصاحت او بلاغت ښکلا او ښايست شته او د تخيل لوړوالی هم دومره په کې ځلېږي، لکه د هغوی. ( ۲۵ : ۵۸ – ۵۹ )

بېدل د شعر ديوان لري او د حميد بابا د سبک پيرو شاعر دی، چې د حميد د ترکيب بند پيروي يې کړې ده؛ لکه چې وايي:

نن به شپه زما ديار په کوم منزل وي
جلوه گر به په کوم ځای په کوم بُرجل وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبــر نــه ورســره بــه ســاد کــه غــل وي
همراهــان بــه يــې شــيرين او کــه حنظــل وي
د رقيــب غمــاز پــدول بــه پــرې بــل بــل وي
پــه سپين مـخ بـه يې د غـم او ښـکې ول ول وي
پـه بې قـدرو کې بـه ناست لـه شـرمه غـل وي
لکــه ځــوک پــه کفرســتان کــې يرغمــل وي
چــې مــې زړه لــه دې ماتمــه کبــاب نــه دی
لــــه تــــولې د عاشــــقانو حســــاب نــــه دی

## ۴ – ۱۳ عبدالغفار بريالی

په کال نولس سوه نه اويا کې د مني په شپو ورځو کې د کندهار پـه هوايي ميدان کې د حاجيانو الوتکه پر مځکه کښېناستله او د خلقي رژيم پوليسو ځو تنه حاجيان، مخکې له هغه چې د خپلو خپلوان دی مخ وګوري، د معمول سره سم د عـادي پوښتنو او تحقيقـاتو پـه پلمـه ورسـره بوتلـل. پـه دغـو حاجيـانو کـې چې پوليسـو ورسـره بوتلـل، مولوی عبدالغفار بريالی هم شـامل و، چې بيـايې چـا مـخ کې لـه مرګـه مـخ او وروسـته لـه مرګـه قبـر ونـه ليـد. مولـوی عبـدالغفار بريـالی د کندهار د کلاسيک طرز د شعر د وروستي ځلانده ستوري پـه حيث د تل لپاره د آسمان څخه پرېوت.

عبدالغفار بريـالی د کندهار اوسېدونکی او د عمـر وروسـتي لـس دولـس کالـه يې د هلمنـد ولايت د ګرشـک پـه ولسـوالۍ کـې د دينـې علومـو پـه تـدريس تېـر کـړل. پـه پښـتو، فـارسي، عربـي او اردو ژبـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېده. ده خپلې لومړنۍ زده کړې له بېلا بېلو مذهبي علماوو څخه کړې او د لوړو مذهبي زده کړو لپاره د هند د ديوبند مدرسې ته ولاړه او له هغه ځايه په ممتازه درجه فارغ شو. عبدالغفار بريالي کابو خپل ټول شعرونه په کلاسيک سبک ليکلي دي او د شعرونو مضمون يې ډېری خط او خال، وصال او هجران، جانان او رقيب جوړوي، خو د همدغو محدودو مضامينو د آفادې لپاره يې په زرهاوو الفاظ او ترکيبات درلودل، که د مرګي څپېړې نه وی وهلی نو هرو مرو به يې د يو کاکړ شاعر په توګه د پيرمحمد کاکړ او شمس الدين کاکړ ادبي تشه ډکه کړې وای.

مولوي عبدالغفار بريالي د پښتو ژبې د نازکخيال او موشګاف شاعر عبدالحميد ماشوخېل په پيروي د حسن د ستايلو پر ميدان زلفو او خط ته تر هر څه ډېر متوجه شوی دی او په دې برخه کې يې د کندهار تر ټولو معاصرو شاعرانو هم د کيفيت له مخې او هم ډېر بيتونه ويلي دي.

د شعر بېلګه يې په لاندې ډول ده:

تورې زلفې دې اوږدې د مخ پر لوري
که هندو پښې غځولي دي قرآن ته
کج ګېسو دې پېچاپېچ سره ټولېږي
که فرعون سجده وکړله ځان ته
زاغ د خط دې کړې منګولې په مخه خښې
که شيطان و لاس يې واچوه ايمان ته
بېهوده تړمه عشق په تار د صبر
زمرى کله نيسي پزه و پېزوان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریالیــه خــال کــه گوښــه د کــړو وروځــو
دا کتــاب ضــرورت نــه لــري ښــان تــه

همداشان د ښاغلي بریالي په هکله ښاغلی قاسم ابدال لیکي: ((د مولوي عبدالغفار بریالي صاحب کتاب چې اهاړ نومیږي د دویم ځل لپاره په کال (۱۳۸۲ لمریز) کې د مکتبه قاسمیه کاسي روډ کوټې له خوا چاپ شو د کتاب سریزه ښاغلي محمد ناصر نصرت نیازي لیکلي ده. نوموړي د مولوي عبدالغفار بریالي صاحب په هکله لیکلي دي ښاغلی عبدالغفار بریالی ځلمی شاعر دی چې څه وخت مخکې یې د زخمي تخلص ځانته غوره کړی او اوس د بریالیتوب ډگر ته را وتلی دی دا شاعر (۱۸) کلن او په قوم کاکړ دی چې د کندهار د سرپوزی په گیلان نومي کلي کې پیدا شوی او د پلار یو زوی دی. د ده د روزنې او پالنې زیاتره برخه په ښار کې شوې ده. پلار یې تکړه عالم او مولوي اختر محمد صاحب نومیږي چې اوس هم ژوندی دی او د پنجوایي ولسوالۍ په یو مسجد کې امام دی، بریالی صاحب له کوچنیوالي تخمین څلور نیمو کلو را هیسې په خصوصي توگه په خپل درس شروع کړې او د لوست د ډیرې برخې زدکړه یې په خپل کور کې له خپل پلار څخه کړې ده ښاغلی بریالی فصیح اللسان د ښې قریحې او خوږې طبع خاوند او پوه ځلمی دی. په پښتو، فارسي او عربي علومو کې هم ښه مهارت لري چې تر ممکنې اندازې درس هم ورکولای شي. ښاغلی بریالی له ډیره وخته په شعر ویلو لاس پورې کړی او د (۱۳۲۲ لمریز) کال څخه یې د طلوع افغان په قلمي ملگرتیا کې برخه اخیستې او خپل لومړني ادبي اشعار یې د طلوع افغان پر صفحاتو د عبدالغفار زخمي په نامه خپاره کړي دي د دې شاعر د اشعارو زیاته برخه عشقي، اجتماعي او موږ ته د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعرانه سوز د ده د نشر سوو شعرونو څخه ښه څرګند او د دې عصر د پیر محمد کاکړ پیرو یې بللای شو.))

## ۴ – ۱۴ محمدصدیق پسرلی

محمدصدیق پسرلی په معاصرو پښتنو شاعرانو کې د هندي سبک سرلاری او مخکښ شاعر ګڼل کېږي. که څه هم یو شمېر نور شاعران هم په پښتو کې د هندي سبک پلیوني دي، خو د محمدصدیق پسرلي ټوله شاعري پر همدې سبک ولاړه او نوموړی د دغه سبک بشپړ استازی شاعر دی.

د هندي سبک شاعري شاعري په حقیقت کې د لوړ ذوق او لوړ تخیل پر بنسټ ولاړه شاعري ده او ښایي ځینې خلک د دغه سبک شاعرۍ ته له دې امله دومره ارزښت ورنه کړي، چې یو هېدل پرې یو څه ګران دي، لوړ فکر او لوړ درک ته اړتیا لري. نو په دې توګه زه دا ویلی شم، چې د محمدصدیق پسرلي شاعري له هره پلوه د هندي سبک پر مزاج برابره لوړه تخیلي او تفکري شاعري ده او پوهېدل هم ورباندې لوړ تخیلي او تفکري ځواک او ادراک ته اړتیا لري او هغه څوک چې د هندي سبک د شاعرۍ له مزاج او درک سره اشنا نه وي، نو دا ډول شاعري ورته ګونګه، مرموزه او پېچلې ښکاري. خو په حقیقت کې همدغه پېچلتیا او د لفظونو، ماناوو، خیالونو او فکرونو نغښتلتیا د هندي سبک د شاعرۍ ښکلا ییز ارزښت او هنریت جوړوي. هغه څوک چې د هندي سبک د شاعرۍ پر مزاج پوه شي او د دغه سبک شاعرۍ ژورو ته ورسېږي، نو به د شعر پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي ماهيت، اصالت، هنريت، خوږلنى او بلاخره د شعر پر روح پوه شي.

د دې لپاره چې په ښه توګه مو د ښاغلي پسرلي د شاعرانه سبک جاج اخيستى وي، نو لومړى به د سبک په اړه لنډه رڼا واچوو او بيا به د هندي سبک په اړه لنډې خبرې وکړو، ځانګړنې به يې په ګوته کړو او بلاخره به همدا ځانګړنې د ښاغلي پسرلي په شاعرۍ کې روښانه کړو، چې تر کومه بريده يې په خپلو شعرونو کې پاللې او انځور کړې دي. ( ۳: ۴۱ )

محمدصديق پسرلى تر حميد بابا او کاظم خان شيدا وروسته د هندي سبک د شاعرۍ په برخه کې دريم نوم دى. ځکه حميدبابا په پښتو کې د هندي سبک شاعرۍ تهداب او بنسټ کېښود، کاظم شيدا پر دغه بنسټ ودانۍ جوړه او دغه سبک يې بشپړ کړ او محمدصديق پسرلي بېرته له مړاوي کېدو وژغوره. استاد پسرلى هم همدې ټکي ته څنګزنه اشاره کوي او وايي:

چې د شيدا په پله دې پل اېښى پسرليه ځکه
اوس دې غزل په پښتونخوا کې له ځوابه وځي

پورتنى بيت په دوو ماناوو تعبيرولى شو، يوه دا چې استاد د شيدا پر پله پل اېښى او د هغه لار يې پاللې ده او بله دا چې تر شيدا وروسته چا د هندي سبک شاعري سمه ونه پالله او ورو ورو پيکه شوه، خو استاد بېرته دورمره رنګينه او وزمينه کړه، چې غزل ته يې په پښتونخوا کې ثاني نه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی عبدالله اغېز (د حسن نغمه گر) تر نامه لاندې لیکنه کې د استاد پسرلي په اړه لیکي: ((ارواښاد استاد پسرلی په نیو کلاسیک غزل کې د ځومره والي او ځرنگوالي له پلوه د یوه ځانگړي او منفرد مقام لویه هستي گڼلای شي، په همدې اساس یې ځینې کره وال او لیکوال په معاصره دوره کې د هندي سبک ستر سالار او پیرو گڼي، ځکه د ده شعرونه د هندي سبک له ټولو نادرو، تشبهاتو، استعارو، باریکیو، نازکیو او له گڼو ځانگړنو نوځخه برخمن او مالا مال برېښي، چې لوړ خیالونه، ژور فکرونه او نازکخیالي په کې غورځنگونه وهي. د استاد شعر له اوسني هنري او شعري ارزښتونو سره د کلاسیکو ارزښتونو او هنرونو ورته والي او یو رنگوالي ټینگه زنځیري کړې او د نوو تشبیهاتو، استعارو، کنایو او مجاز د نوښت شاعري بللای شي.

د استاد پسرلي په شاعرۍ کې د جمالیاتو اړخونه په ډېر لوړ او ژور انداز سره سره له رنگینیو او خوږلنیو ډکه برېښي، د ده په غزلبڼ کې یو جوت توکی د هغه جمالیاتي تصور او اړخ دی، هغه د حسن و جمال استازی دی، هغه د حسن داسې پاچا دی، چې ژوند په کې لټوي.

مخکې له دې چې د استاد په شاعرۍ کې د حسن خوږو نغمو، وږمو او نندارو ته ځیر شو او پر هغې لنډه شننه وکړو، نو د حسن و جمال، ښایست او ښکلا کلی به وځیړو، د هر څه نه مخکې به د الله تعالی جل جلاله سپیڅلي کلام ته سر ورښکاره کړو، په السجده سورت کې د حسن او ښکلا ذکر داسې شوی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ژباړه : الله تعالى هر څه ښکلي پيدا کړي دي. ) همدارنګه په يوه حديث شريف کې يې هم يادونه شوې ده: ( ژباړه : الله تعالى ښکلى دى او ښکلا خوښوي. ) ، که څه هم حسن و جمال عربي کلمې دي او ښايست او ښکلا پښتو کلمې دي، ښکلا ، حسن، ښايست او جمال په اړه ډېرو پوهانو بېلا بېل نظرونه څرګند کړي او په بېلا بېلو بڼو يې تعريف کړي هم دي. حسن و جمال هغه ستاينې او ځانګړنې دي چې په يوه شي کې څرګند شي (يا حس او درک شي ) او هغه شى د کتوونکي او اورېدونکي او د حس کوونکي پر مزاج برابر وخيژي او خوښ يې شي. ارسطو وايي: (ښکلا او ښايست په نظم او پرتم کې ده. ) کارټ بيا وايي: (ښکلا هغه څه ده، چې په سترګو ښه ولګېږي. ) يعنې حسن و جمال هر څوک د خپل حسني ذوق او حس په معيار تللى شي، په هر حال حسن و جمال د کايناتو په وجود او هستيو کې ذره ذره نغښتى او دغه حسن چې الله تعالى د کايناتو په هره ذره کې په خپل اندازلې يا ډېر ور اچولى او بيا يې د دغه حسن و جمال د مشاهدې، سپړنې او تجربې لپاره اشرف المخلوقات ته زړونه، ذهنونه، فکرونه، خيالونه او عقلونه ور ډالۍ کړي دي، خو مخلوقاتو تر ننه پورې د مينې انداز او د حسن تناسب لپاره کوم ځانګړى او تول منلى معيار او مقام نه دى ټاکلى، هر څوک يې د خپلې زاويې نه په کره کاڼي تلي او ورګوري، استاد پسرلي هم د خپلې زاويې، مشاهدې او تجربې له مخې ورکتلى او د حسن خوږې نغمې يې د سترګو په تارونو د زړه په زير او بم غږولي دي، نو ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن بيني سترګې غواړي، يعني هغه حسن غواړي، چې په سترګو ښه ولګي، ذهن يې ومني او زړه يې جذب کړي او پرې تسکين ومومي.

زړه له اميدونو لکه ډکه پيمانه غواړم

سترګې حسن بينې او د مينې خزانه غواړم

که موږ وګورو او ځير شو، نو ښکلا او حسن ګڼې برخې لري، مطلقه ښکلا، طبيعي او فطري ښکلا، مصنوعي ښکلا، هنري ښکلا، د نغمو او وږمو ښکلا، ايډيالي او فکري ښکلا، معنوي او انساني ښکلا، اخلاقي او شخصيتي ښکلا ده. د استاد پسرلي په شاعرۍ کې طبيعي او فطري ښکلا سربېره د محبوب او محبوبې د حسن نغمې، کرشمې او اداګانې په بېلو بېلو بڼو کې څرګند ېږي، دلته يې د طبيعي او مصنوعي حسن يوه ګډه بېلګه وړاندې کوو:

نه پايي تر ډېرو په زړه کې مصنوعي حسن

لوړ قصرونه وران کړي سېلونه خو غر پاتې شي

د استاد پسرلي په شاعرۍ کې يو جوت توکی جمالياتي تصور او اړخ دی، هغه د حسن و جمال استاد دی، هغه په خپله شاعرۍ کې د حسن احساس، جذبې او خوږې نغمې په ډېر فني مهارت سره په انځوريزه بڼه وړاندې کړې دي، يوازې دا هم نه ده چې د حسن اظهار يې د شاعرۍ توکی دی؛ بلکې د حسن يو څرګند تصور او نظريه هم لري، په همدې اساس د حسن په اړه داسې خبرې کوي، چې د هغه نظر او تصور ته ځانګړي رنګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خوندونه وربښي، د نوموړي په شاعرۍ کې د نورو توکو، ترکیبونو او کلمو ترڅنګ د حسن کلمه دومره راغلې، ښايي بل چا به په دې ډول او دومره نه وي ياد کړی، ځکه ده په ژور او هنري او شاعرانه لفظونو کې پاللې او د ده له ذات، دين او مذهب سره يوه بېله او ټينګه اړيکه لري.

فرمان د ناز ورم او ناز د حسن

دغه مې دين و، دا مې مذهب و

د حياناک مخ خولو کې اوښت

ناکرار زړه مې د حسن کب و

په کوم حسن کې چې د مينې جذبه او احساس نه وي، هغه زوال مومي، په حسن کې بدلون راځي او هم ورسره زوال مومي، خو مينه لازواله وي، يعنې حسن له مينې نه شي بېلېدلی او مينه د انسان په داخليت او فطرت کې نغښتې ده، په اړه يې پسرلي صيب يو څرګند تصور لري او يوه ښکلې نظريه ترې جوتېږي.

د حسن سوز تر مينې لږ نه وي باور به وکړي

که پروانه پوه شي د شمعې د ګداز په ژبه ) )

(وېب: بېنوا )

له نېکه مرغه پښتو ادب او پښتو شاعري چې کله هم له نړيوال پرمختيايي بهيره وروسته پاتې، نو الله پاک پرې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیبه دا سې یو څه لورولي دي، چې نه یوازې وروسته نه دي پاته شوي، بلکې تر تمې زیاته وده او پرمختیا یې هم کړې ده.

د هندي سبک شاعري چې په پښتو معاصر ادب کې له برمه لوېدلې شاعري وه، محمدصدیق پسرلي بېرته راژوندی کړه، وده یې ورته ورکړه او د خپل عروج پوړیو ته یې ورسوله او انشاالله زه پر دې گروهمن یم، چې تر دې وروسته به د دغه سبک شاعري نوره له برمه پاته نه شي او استاد پسرلي پر پله به زموږ یو شمېر نور شاعران هم پل کېږدي او دغه سبک به په ښه توگه وپالي.

استاد پسرلی په پښتو کې د هندي سبک بشپړ استازی دی او د هندي سبک خوږلنۍ او نازکۍ یې ټولې په پښتو شاعرۍ کې منعکسې کړې او راوړي دي او د هندي سبک پر مزاج برابره شاعري یې کړې ده. (۳ : ۴۹)

په همدې هکله نورالحبیب نثار لیکي: ((استاد پسرلي ته د هندي سبک بشپړ استازی ځکه وایو، چې یو یې په پښتو کې تر دې دمه تر ټولو شاعرانو مدعامثل، حسن تعلیل، حس امیزي، تشخص او پیراډاکس ته توجه ډېره کړې ده او بل یې په پارسي کې د دې سبک د مشهورو شاعرانو صایب، کلیم بیدل او نورو اثار لوستي او حتا د هغوی ځینې مضامین یې د خپلو شعرونو په ضمن کې را ژباړلي دي. دریم یې څه ناڅه واقعه گویي هم کړې دي، چې د دې سبک ځینو شاعرانو به ورته توجه کوله او څلورم یې د تیورۍ په لحاظ ځینې هغه خبرې کړې دي، چې د دې سبک شاعران یې مهمې گڼي، مثلاً دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضمون غلا ډېره بده ګڼي او پر نوښت تاکید کوي. استاد پسرلی هم په دغه برخه کې نهایت حساس دی:

شعرونه مې پسرلیه دي بس خپلې تجربې/ د سین له زیړو شګو نه هنداري جوړوم.

... له حمزه بابا سره جوخت استاد محمدصدیق پسرلي د هندي سبک په فني لوازماتو او هنري محاسنو سمبال غزل ولیکل. البته په یادې مودې کې یوازې استاد دغه سبک وپاله چې په دا وروستیو شاوخوا شلو کلونو کې یې اوس ګڼ لاروي پیدا کړي دي. اغلب ګومان دا دی نور به نو دغه سبک پښتو ادب کې د یوه مسلط او مسلسل سبک په توګه دوام وکړي، ځکه خو ادعا لرو، چې د ده غزل دا وخت د دغه سبک تر ټولو استازی غزل دی او دی دا وخت د دغه سبک تر ټولو استاد شاعر دی. حقه خبره دا ده چې استاد پسرلي تر شیدا را وروسته د پښتو هندي سبک څو سوه کلن ټکنیټوب او سکوت د خپل غزلبڼ له چاپ سره درې وړې کړ.))(۲۴ : ۴۴ )

ښاغلي صدیق الله بدر په خپله لیکنه کې په دې هکله د ښاغلي لېوال نظر دا سې راوړی دی: ((د استاد پسرلي شاعري زما په نظر د هندي سبک د شاعرۍ یوه بارزه او نوې ادامه ده. هغه خصوصیتونه، ظرفیتونه، ځانګړنې او د ژبې د صنعتونو کارونه، چې په هندي شاعرۍ کې شته او هغه د افغانستان په معاصره شاعرۍ کې وځېږو، زما په نظر یوازې او یوازې د استاد پسرلي په شاعرۍ کې تر ډېره بریده ښکاره ده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشبیه، استعاره، مدعامثل، تلمیح، حسن تعلیل، حس امیزي، مراعات النظیر، عارفانه تجاهل او ځیني نور هغه ادبي صنعتونه دي، چې د هندي سبک شاعري وربانديې غښتلې شوې ده او دا ټول د استاد پسرلي په شاعرۍ کې په ډېره زیاته پیمانه او په ډېر نوي انداز کارول شوي او خپله غزلیزه شاعري یې ورباندې رنګینه او ښکلې کړې ده.

د دې ترڅنګ د فکر او خیال له پلوه هم د ښاغلي پسرلي شاعري لوړه او په ټول پوره شاعري ده. ځکه د هندي سبک شاعرۍ کې مانیز اړخ ډېر غښتلی وي او شاعران مانا ته ډېره پاملرنه کوي. هغوی له طبیعت څخه د مضمون جوړونې په هڅه کوي او د طبیعت پر ژوره مشاهده بوخت وي او په مضمون افرینۍ کې یې پر لوړ تفکر او لوړ تخیل سربېره ګومان او یقین هم برابر لاس لري. په همدې هکله ښاغلی نثار زیاتوي: ((د استاد د شاعرۍ د مضامینو په پنځونه کې د ده تر لوړ تخیل او تفکر ور ها خوا د ده ګومان او یقین هم برابر لاس لرلی دی. د یوه شي یا یوې پېښې له لیدا سره له واره د هغه پر حقیقت باور نه کوي، شک یې باندې راځي، چې ممکن هغه څه نه وي، چې ده ته ښکاري، ګومان یې ورته یو څه وایي او یقین یې ورته بل څه. داسې وخت کې بیا زموږ رایه او نظر غواړي او ماجرا راسره د پوښتنې په توګه شریکوي. پوښتنه د زده کړې تر ټولو اهم تکنیک دی، بنده په پوښتنه مکې ته رسېږي. که غواړو چې د یوه شي تل ته دې کوز شو، په باره کې یې پوښتنه کوو او که غواړو چې چا ته دې د تلاش مخه ورکړو، نو د شیانو باره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د نظر څرګندونې مجال به ورکوو او د ذهن کړکۍ به يې ورته شا وخوا پرانيستې پرېږدو. له دا سې کولو سره هغه د رايې او انتخاب له حقه کار اخلي – يا يې مني – يا يې ردوي او خپله خبره کوي. استاد خپلو غزلونو کې له همدې روښه کار اخيستی. د خپل ګومان او يقين دواړو خبرې يې را ته کړې دي او موږ ته يې زموږ د عنديې د څرګندولو مخه راکړې ده. )) (۲۴: ۴۶ – ۴۷ )

استاد پسرلی په دا سې يوه فورم کې خپله شاعري ازمويلې ده، چې د فکر افاده په کې ډېره ستونزمنه ده، خو ورسره تر نورو فورمونو خوږلنې او نازکې ډېره لري او دا کار يوازې لوی او د کمال شاعران کولی شي.

بيا هم په دې هکله ښاغلی بدر ليکي: (( تر ډېره حده غزل د فکري مسايلو د مطرح کولو لپاره يو تنګ قالب دی او ډېر ماهر شاعران او استاد شاعران کولای شي، چې پيچلي فکري مسايل په غزل کې مطرح کړي، استاد پسرلی يو له همدغو شاعرانو څخه دی، څرنګه چې موږ فلسفي او فکري مسايل په غزل کې طرحه کړو، هغه يو څه پيچلي کېږي، ځکه چې قالب لنډ دی، تمثيل ډېر نه شي کېدای، تصوير ډېر نه شي کېدای، دا يوازې کلمات دي، چې سړی بايد هغه پيچلي فلسفي افکار په کې بيان کړي. )) (هماغه اثر)

ابهام چې د هندي سبک شاعرۍ يوه خاصه ده، معمولاً د دغه سبک د پيروانو شاعرانو په شعرونو کې د ابهام رنګ جوت وي. د ښاغلي پسرلي په شعرونو کې د ابهام څرک هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل کېږي. خو دا ابهام په دومره کچه نه دی، لکه د ځینو هندي سبک پیرو شاعرانو په شعرونو کې چې لیدل کېږي او آن پر مانا یې د پوهېدو امکان هم ډېر ژور او یا بېخي وربانديې ځوک پوهېږي نه. په همدې هکله مصطفی سالک وايي: ((د استاد پسرلي د شعرونو یوه ځانګړتیا دا ده، چې ځینې شعرونه یې لکه د هندي مکتب د شاعرانو ابهام لري، خو د ابهام له کلمې سره باید محتاط چلند وکړو. یو هغه ابهام دی، چې هنري جواز لري او پوهېدو ته یې لاره شته. بل هغه ابهام دی، چې د مانا د پوهېدو لپاره یې لاره نشته. د استاد پسرلي ابهام لومړی ډول دی.)) (۱۷: ۲۸)

استاد پسرلی که څه هم په پښتو شاعرۍ کې د هندي سبک بشپړ استازی ګڼل کېږي، خو د هندي سبک پیرو شاعرانو سره یو شمېر توپیرونه هم لري. دغه توپیرونه په شعر کې د مضامینو، ژبې، ابهام او نورو تولنیزو اړخونو په برخه کې جوت دي.

((استاد پسرلی د هندي مکتب له شاعرانو سره یو شمېر توپیرونه هم لري. د هندي مکتب شاعرانو یو له بله ډېر مضامین اخیستي دي. له همدې کبله هغه مهال د سرقت او توارد خبرې هم تودې شوې وې. تذکره لیکونکي کارېي ادبي سرقت دومره ډېر و، چې روغ دیوانونه پټېدل... خو د استاد پسرلي مضامین د ده خپل دي. له استاد پسرلي سره ناستې پاستې دې ته وهڅولم، چې د هندي مکتب ځینې شاعران هم ولولم، خو داسې مضمون مې ونه موند، چې استاد پسرلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هندي سبک کوم بل شاعر دې ورته له ګڼ ښکلا ییز لیدلوري پام کړی وی.

که استاد د چا مضمون را اخیستی، په پوره امانتداری سره یې شاعر او بیت په ګوته کړی دی... استاد پسرلی د هندي مکتب له شاعرانو سره یو بل توپیر هم لري. د هندي سبک شاعران د ژوندانه په اړه ډېرې ژورې خبرې لري، خو مخامخ د ژوند له ناخوالو سره نه دي ښکېل شوي، خو استاد پسرلی وایي:

چې قانون لري قانون ته سر د لویو وړو ټیټ وي
که مومن وي که ترسا وي تل دې خوښ وي تل دې شاد وي
چې وطن ګڼي د ټولو غم یې هم ګالي په ټولو
د هر چا وي په کې خوښه د هر چا په کې مراد وي

اوس ښایي دا بیتونه لوستونکو ته د لمر په څېر روښان حقیقت ښکاره شي او په ویلو کې یې د کوم خطر احساس ونه کړي، خو استاد دا ډېر هغه مهال تود ساتلی و، چې په دې خبرو سره خلکو سرونه بایلل.)) (۱۷: ۷۴)

د دې ټولو ترڅنګ ښاغلي پسرلي له تخنیکي اړخه هم په پښتو شعر او غزل کې ډېر نوښتونه کړي، د بېلګې په توګه په پښتو کې د بحرونو په برخه کې یې نوي بحرونه رامنځ ته کړي او پر همدې نویو بحرونو یې غزلونه ویلي دي. ښاغلی نثار لیکي: ((استاد پسرلي په ګڼو بحرونو او اهنګونو کې شاعري

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې او په دې برخه کې يې هم د پام وړ اضافه کړې ده. ده په نويو بحرونو او وزونونو پسې مبنود کړی او له ښه مرغه موندلي يې دي. ده په ډېرو اوږدو بحرونو او وزنونو کې د غزل ليکلو تجربې کړې دي، مثلاً د ۲۲ او ۲۴ څپو غزل يې ليکلي دي، چې تر ده وړاندې يې بېلګې نه لرو.

استاد پسرلي کله کله د خپل غزل هرکلی هم کړی. په يوه قافيه او يوه رديف يې بيابيا غزل ليکلي دي. دی د غزل بيتونو کې کې د جفت يا تاق خبره د کوم اصل په توګه نه مني. ده داسې غزل هم ليکلي، چې له مطلع او مقطع پرته فقط يو بيت لري او داسې غزل يې هم ليکلي، چې مطلع يا مقطع او يا دواړه نه لري.)) (۲۴: ۴۷)

ښاغلی پسرلی د غزل په برخه کې په زړو او سولېدلو روايتونو پسې نه ځي، په خپله د غزل په پنځولو کې هم له معنوي او هم له تخنيکي اړخه ځان ته پوره واک ورکړی، خو د غزل واقعي تلازمات او معيارونه يې هېڅکله هم له پامه نه دي غورځولي. د ښاغلي نثار په عقيده استاد پسرلی په پښتو کې هغه مخکښ شاعر دی، چې په نويو بحرونو کې يې شاعري کړې، د نويو بحرونو مبنود يې کړی او لاسته ورغلي دي. د بېلګې په توګه يې دا غزلونه د نويو بحرونو او وزنونو په توګه راوړلی شو:

چې بې له حسنه نه ساتي بل څه مينه مې راشي په خپل حسين زړه
ماته دې مه شه د ناز هنداره، د تا د مينې په جلوو رين زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم ښادي دوا ړه د ژوند ښایست وي ګوره ګلشن دې څه ښکلی کړی؟
د پرخو او ښکو د بلبل چیغو د ګل موسکا او د چمن شین زړه
لکه ګرد باد چې ورسره اخلي د لارې خلي د لارې دوړې
داسې سپېره شي داسې تیاره شي له خپله لاسه د سخن چین زړه
خلک ورساتي په سکر پیخې چې سپین لباس یې ور تور نه شي
عجبه دا وي زه یم تور کړی هر وخت، هر چا ته هر ځای دې سپین زړه
مینې صیاد کړم د سویو څړیکو د المونو د حسرتونو
چې چېرته غم وي، چې چېرته درد وي غوټه پرې وکړي لکه شاهین زړه
لکه ځوان شپون چې د ژوند رازونه د زړه دردونه له نیه اوري
چې دوه په دوه شو زه ورته وایم، دی را ته وایي حال لکه بین زړه
خوښي یې ستاسو ښادي یې ستاسو، زه یې د سولو په لذت پوه کړم
په خپله خوښه نه ورکوم اوس په دوه جهانه دا یو حزین زړه
(۵: ۲۳۵)

تر او سه پورې له محمد صدیق پسرلي پرته ښایي په پښتو کې بل شاعر په دومره اوږدو بحرونو او څپو کې غزلونه نه دي ویلي. لاندې غزل هم څلورویشت څپیز دی، چې تر پایه پورې یو ځانګړی او موزون موسیقت تعقیبوي:

ستا د ناز په محفل کې کې سوې نګاه له لېمو تر ښو له حیا نه راتله
د نیاز په لېمو، شرم خاورې شیندي، که نه دومره خو ما ته ژړا نه راتله
تښتېدلې نوا مې له خولې زړه ته بیا، لکه ښکلې ما شومه شرمېږي له چـــــــــا
د مجبور زړه د عجز و زارۍ په سلا، په تشویق په ترغیب په سلا نه راتلـــــــــه
نااشنا و محفل، نااشنا یې صحنې، نااشنا یې غمزې، نااشنا یې عشـــــــــوې
چې به وکتل ما ته په کوم نظر دې، هغه شانته نګاه به یې بیا نه راتله

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرصتونه له لاسه د باد غوندې تلل، خو پرون او سبا يې له ياده ځنډل
هم په شمارو ويل، هم کتل سپمېدل، تا به وې چې له سره سبا نه راتله
نګاه نه وه ياره، جريان و د نور، له تورو لېمو يې فوران و د نور
باران و د نور او توپان و د نور، په دومره وسعت به برېښنا نه راتله
د دريا په سرور د سپوږمۍ په تمکين، د وږوم په دوستور د زمان په
ايـــــــــــــين
بېستون ته د عشق، راغله، لاړه شيرين، ملکه وه د حسن او په غلا نه
راتلـــــــــــه
پسرليه افسوس چې شر وي فرصت، د خيال په عالم کې، د ښکليو
يوســــــــــــت
هم جام و د جم، هم جم سلطنت، په خوب او خيال کې هما نه راتله
(۵ : ۲۱۹
)

په دې توګه ښاغلي پسرلي په پښتو کې د هندي سبک د شاعرۍ بشپړ استازی ګڼل کېږي او د دغه سبک ټول هنري خصوصيات په پښتو غزل کې ځای کړل. همداشان د دې ترڅنګ يې په پښتو غزل کې نوي نوي نوښتونه هم وکړل، نوي ترکيبونه يې رامنځ ته کړل، نوي مضامين، نوي خيالونه او فکرونه، نوې کلمې، نوي انځورونه يې په غزل کې وپنځول او په دې سره يې ځان د پښتو غزل سالار کړ.

د استاد پخپله د غزلونو د پيل او هندي سبک ته د ميلان په اړه وايي چې دغه سبک ته صايب او بېدل هڅولی او د دوی تر مطالعې وروسته يې په دغه سبک کې شاعري کړې ده. خو تر يوه بريده د همدې شاعرانو له ځينو شعرونو اغېزمن هم دی او ان ځينې ځايونه يې د هغوی فکرونه او خيالونه هم په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزلونو کې د ماخذ په یادولو سره راوړي دي. له دې ښکاري چې استاد د دغو او ځینو نورو شاعرانو لکه حمید مومند، کاظم شیدا، سعدي شیرازي او نورو شاعرانو شاعري په پوره مانا سره لوستلې ده.

استاد چې کوم ادبي صنعتونه په خپلو غزلونو او شاعرۍ کې ځای کړي، ټول یې په طبیعي ډول راوړي، یانې په مصنوعي ډول یې نه دي راوړي. یا په بله وینا ادبي صنعتونه یې کارولي نه دي، بلکې ترې کارول شوي دي. دی د صنعت راوړلو ته متوجه شوی نه دی، خو صنعت ترې ویل شوی دی. ځکه هغه صنایع چې په مصنعوي ډول په شعر کې راوړل شي، شعر ته زیان رسوي او د شعر تخیل او تفکر پر نزاکت منفي اغېزه اچوي، خو د استاد په شاعرۍ کې دا ټول نزاکتونه په طبیعي او فطري ډول راوړل شوي دي.

د هندي سبک د پیرو شاعرانو ترمنځ د ادبي غلاوو په اړه هم روایتونه او خبرې شته، خو استاد په دې برخه کې هم په پوره امانتدارۍ عمل کړی دی. ده که د بل هر شاعر له فکر او خیال څخه ګټنه کړې، نو د هغه شاعر نوم یې یاد کړی او ان هغه بیت یې هم په نښه کړی دی. همداشان سلف پلیجریزم یا له ځانه غلا کول هم په شعر کې یو ډول بې رنګي رامنځ ته کوي. زموږ ځینې شاعران دا خاصیت لري او ډېر ځله له ځانه غلا کوي او ډېر ځایونه یو فکر او یو خیال تکرار راوړي، خو د استاد پسرلي په خپلو غزلونو کې له سلف پلیجریزم څخه ځان ساتلی او تل یې هڅه کړې، چې نوي فکرونه، نوي مضامین او نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیالونه، ترکیبونه، انځورونه او کلمې په خپلو غزلونو کې ځای کړي.

د استاد په غزلونو کې بل څه چې یادونه یې اړینه ده دا دي، چې نوموړی پر ماضي تکیه نه کوي، راتلونکي ته ډېر هیله من دی، پر مینه او ژوند باور لري او مینه د ژوند د خوړلنۍ وسیله او د ژوند لپاره یې ګڼي. د ژوند ټوله ښکلا په مینه کېویني او له همدې امله یې په غزلونو کې د مینې رنګ ډېر جوت او څرګند دی.

یو بل مهم څه چې د استاد پسرلي په شاعرۍ کې د یادونې دي، هغه د هر غزل او شعر دقیقه نېټه بیانول دي. له لرغونې دورې څخه تر او سمهاله دورې پورې دا ډول منظم کار تر اوسه چا نه دی کړی. د دې کار ستره ګټه دا ده، چې له یوې خوا د شاعر د شاعرۍ زمانه په ډاګه کېږي او له بلې خوا هغه تاریخي، ټولنیزې او سیاسي پېښې چې په دغه وخت کې ترسره کېږي، د هغو ښه جاج اخیستل کېدای شي. د دې ترڅنګ د شاعر د شعر روح په اسانۍ سره درک کېږي. ځکه موږ د یو شمېر پخوانیو شاعرانو داسې شعرونه لولو، چې د ابهام او د نېټې د ذکر له مخې ترې د یوه حالت یا پېښې کره درک نه شو کولی، یوازې د شاعر د ژوندانه د مهال په چوکاټ کې یې د اټکل له مخې درک کوو، چې دا کار موږ تر ډېره د پېښې یا مسئلې حقیقت ته نشي نږدې کولی. خو د استاد پسرلي هر غزل او هر شعر داسې کره نېټه لري، چې کال، میاشت او ورځ یې هم ورسره لیکلې شي او که په راتلونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونو او پېړيو کې د ده پر شاعرۍ بحث کېږي او د ده د شاعرۍ د مهال پر هر اړخيزو حالاتو خبره کېږي، نو د نېټې د دقيقوالي له مخې يې حقايق او حالات په ښه توګه سپړل کېدای شي او څېړونکي له ربړو سره نه مخ کېږي.

بل څه چې د استاد په غزليزه شاعرۍ کې د اهميت وړ دي، هغه د رديفونو مسئله ده. استاد هڅه کړې، چې رديفونه يې لنډ او د شعر له محتوا سره مناسب او متناسب وي. که په غزل کې رديف لنډ او مناسب او متناسب نه وي، نو له شاعر سره د شعري محتوا په انځور او وړاندې کولو کې مرسته نه شي کولی او اندېښنه ده چې يو فکر او يو خيال د ناسم او نامناسب رديف له مخې له شاعره پاتېږي او د رديف او قافيې په قيد کې راځي. خو د استاد په غزلونو کې دا ستونزه نه ليدل کېږي. رديفونه يې لنډ او مناسب دي او په راتلونکيو کلونو يا هم پېړيو کې څوک د ده پر شاعرۍ بحث کوي او له مخې يې د حالاتو او شرايطو جاج اخلي، نو څېړونکي له ربړو او ستونزو سره نه مخ کېږي.

د استاد په شاعرۍ کې د رياليزم او حقيقي ژوندانه د تمثيل او انځور رنګ هم جوت دی، خو دا رنګ په هنري او ښکلاييزه جامه او زېوراتو باندې پسوولل شوی دی. نوموړي که په خپلو غزلونو کې هر څه راوړي، د انساني ژوندانه او انساني ټولنې د سمو او ناسمو کړو وړو انځورګري ده، خو ترڅنګ د ټولنې د سمون او ټولنيزو اخلاقو د پياوړتيا درس هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان د استاد په شاعرۍ کې پر فکر باندې د احساساتو غلبه نه لیدل کېږي او شعر یې یوازې د احساساتو هنداره نه ده، بلکې نوموړي که د داسې حالاتو او شرایطو تر اغېزې لاندې راغلی، چې له احساساتو سره اړه لري، بیا یې هم څه په سره سینه او په ډېر هنري انداز سره وړاندې کړي. احساساتي شاعري تر ډېره د وخت شاعري وي او له وخت او شرایطو سره غاړه غړې وي، خو کله چې شرایط بدل شي، بیا ژوند نه لري، خو د استاد شاعري تلپاتې او کلاسیکه شاعري ده، چې تر ابده به همداسې کلاسیکه او تلپاتې هم وي. ( **۳ : ۵۲ - ۵۷** )

د نوموړي شاعرۍ ډېرې ځانګړې او خوږلنۍ لري. دلته به په ترتیب سره موږ د هندي سبک شاعرۍ مهمې ځانګړنې د نوموړي په شاعرۍ کې ولټوو او دا به جوته کړو، چې نوموړي په رښتونې توګه د دغه سبک پیرو او په پښتو کې یې دغه سبک بېرته را ژوندی کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۵ - په پښتو کې د هندي سبک لنډ ادبي جاج

## په پښتو کې د هندي سبک د ادبي جريان ځانګړنې

په پښتو کې د دغه سبک د ادبي جريان ځانګړنې ډېرې دي، خو مهمې يې د زلمي هېوادمل په وينا په لاندې ډول دي:

پر پښتو ادبياتو د هندي سبک اثرات د دوولسمې هجري پېړۍ له اوايلو پيل شوي او د څوارلسمې پېړۍ تر پايه يې حتا په معاصره ادبي دوره کې هم دوام موندلی دی.

په پښتو ادبياتو کې د دې سبک موسس عبدالحميد مومند او بشپړوونکی يې کاظم خان شيدا دی. دوی دواړه د دې سبک په مشرانو کې حسابېږي او کله چې موږ په پښتو ادبياتو کې د هندي سبک تابع ادبيات مطالعه کوو، نو د عطف او توجه ټکی په کې همدا دوه تنه دي. نورو شاعرانو چې په دې سبک وينا کړې ده، زياتره د عبدالحميد مومند د سبک پيروان دي، يوه نيم شايد د شيدا پيروي هم کړې وي. دا ټول شاعران بيا موږ د هندي سبک په تابع او پيرو شاعرانو کې حسابولی او درولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته باید دا خبره هم هېره نه کړو چې په پښتو کې د هندي سبک ټول پیرو شاعران د حمید او شیدا پیروان نه دي. ځینې داسې شاعران هم لرو چې پرته د حمید او شیدا له مطالعې د هندي سبک پیرو وو. د نورو ژبو ادبیات یې لوستي او په خپله پښتو شاعرۍ کې یې د دغه سبک اساسات مراعات کړي دي. ( ۲۸ : ۱۲۷ )

د ښاغلي هېوادمل د همدې خبرې په استنا موږ ویلی شو، چې په پښتو کې د هندي سبک یو شمېر شاعران ممکن د حمید تر اغېزې لاندې نه وي او مستقیماً د هندي سبک د نورو ژبو او یا خپله د هندي سبک له خصوصیاتو اغېزمن شوي وي.

که موږ په معاصره دوره کې هم وګورو نو په دغه دوره کې د هندي سبک د معمارګر او لوی شاعر استاد محمدصدیق پسرلي نوم یادولی شو. نوموړی هم په پښتو معاصر ادب کې د هندي سبک سرلاری او معمارګر شاعر یادولی شو. د نوموړي په شاعرۍ کې د هندي سبک ټول خواص په ښه ترا لیدلی شو او نوموړی تر ډېره د دري ژبې د هغو شاعرانو تر اغېزې لاندې راغلی، چې هغوی د هندي سبک پر مزاج او روحیه برابره شاعري کړې ده.

که څه هم د حمید او شیدا تر پلویانو وروسته په پښتو کې د هندي سبک شاعري پیکه او یا هم بېخي په نشت حساب وه، خو په معاصره دوره کې استاد محمدصدیق پسرلي ببرته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه سبک په جسد کې نوې ساه پو کړه او پر دغه سبک برابره شاعري یې وکړه.

په معاصره دوره کې د استاد پسرلي ترڅنګ ځینې نور شاعران هم شته، چې شاعري یې تر ډېره بریده د هندي سبک له اغېزو برخمنه ده، چې له دې جملې مونږ د سید جیلاني جلان شاعري یادولی شو. د جلان په شاعرۍ کې د دغه سبک نښې نښانې څرګندې دي.

په دې سره ویلی شو، چې د هندي سبک شاعري تر حمید او شیدا وروسته د استاد پسرلي په واسطه بیرته بیا په پښتو ادب کې رنګینې وزرې وغوړولې او ممکن د وخت په تېرېدو سره ډېر شاعران د استاد پسرلي او په ټوله کې د هندي سبک د شاعرۍ پر لیکه ګامونه کېږدي.

اوس به په پښتو کې د هندي سبک د شاعرۍ پر خصوصیاتو لنډه رڼا واچوو، چې ښاغلي هېوادمل په څو مواردو کې راوړي دي:

" ۱ – د دې سبک پیرو شاعران غزل ویونکي شاعران دي، ځینو په کې ډېر ښکلي په هنري ګاڼه سمبال شوي مثنویات هم ویلي دي، لکه حمید مومند، شیدا، غلام جان پاچا، میرزا حنان او ځینې نور.

ځینو په کې مخمسونه، مسدسونه، ترکیب بند، ترجیع بند، قطعه، رباعي او نورو شعري انواعو ته هم توجه کړې ده چې په رباعیاتو کې یې د شیدا او قلند رباعیات او د قلندر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوټې د زياتې مننې او يادونې وړ دي. ځکه کوم ساز او سوز چې په دغو رباعياتو او قطعو کې نغښتی، هغو ته يې د لوړو ادبي اثارو ارزښت ورپه برخه کړی دی.

۲- د دې اشعارو موضوع زياتره د مينې او عشق بيان ته وقف شوې ده. اما د دې ترڅنګه اخلاقي وېناوې، ځينې اجتماعي ټکي، تاريخي رويدادونه، د سياسي، علمي، فرهنګي او روحاني شخصيتونو مړينې او د مړينو تاريخي قطعې هم په کې ليدل کېږي. د دې ډلې د ځينو شاعرانو پر کلام د عرفاني طريقو اثرات هم وينو، لکه د شيدا، غلام جان پاچا، ميرزا حنان او نورو پر اثارو.

۳- حکايتي موضوعي ژانر هم په دې جريان کې متبارز ښکاري. د حميد د نيرنګ عشق او شاه ګدا داستاني اثار، د ميرزا حنان د شهزاده سليم جواهري قصه او د شيدا ځينې حکايتي مثنويات په دې جريان کې ايجاد شوي او يا ترجمه شوي داستاني او حکايتي اثار دي.

۴- د ساقي نامې نمونه د پښتو ادبياتو په لومړۍ دوره کې موږ د زرغون خان نورزي په اثارو کې وکتله.

تر دې پخې او په تول تللې ساقي نامې وروسته په پښتو ادبياتو کې د هندي سبک په پيروۍ ويل شويو اثارو کې ځان ښکاروي. د حميد مومند په مثنوياتو کې موږ ځينې دغسې اشعار پيدا کوو چې د ساقي نامې تر رديف لاندې راتلای شي او د غلام جان پاچا په ديوان کې هم د ساقي نامې مثنوي شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵** - د دې سبک د پیرو شاعرانو د اثارو عمده ځانګړنه د دوی د شعر هنري خوا ده. د دې سبک تابع پښتنو شاعرانو زیاترو ښکلي، د هنر او شعري ښکلاوو په ګانه پسولل شوي اشعار ویلي دي. د دې سبک د پیرو شاعرانو په دیوانونو او متفرقو اثارو کې شاید ډېر لږ اثار داسې وي، چې شعریت دې لږ وي.

ځینې ادبپوهان د دې سبک پر پیروانو باندې څه انتقادونه هم لري، چې ددغو انتقادونو په ارتباط هم باید یو څو خبرې وکړو:

الف، ځینې کسان وایي، چې دوی د عشق د بیان او د محبوب د زلفو، رخسار او سرو شونډو د ستاینو په پېچ و خم کې دومره غرق شوي دي، چې د ژوند موضوعاتو ته یې کورټ توجه نه ده کړې. د دغسې استادانو د لوړو انتقادونو په ځواب کې باید وویل شي چې اول خو د هندي سبک د پیرو پښتنو شاعرانو په شعرونو کې د دوی په اصطلاح ژوند ته د مربوطو موضوعاتو بیان ته هم پاملرنه شوې ده. یو مخ دوی د عشق موضوعات نه دي بیان کړي، خو په دې ځای کې د توجه وړ خبره دا ده، چې د دې سبک هغو شاعرانو چې یو نیم ځای د دغسې نقادانو په اصطلاح د ژوند موضوعات راوړي، په همدغو مواردو کې د دوی د شعر د شعریت معیار ټیټ شوی او ښکلا یې له لاسه ورکړې ده. دوی د ښکلي شعر د بیان لپاره د عشق او مینې، مې او معشوق بیانونه وړاندې کړې دي. همدغو موضوعاتو د دوی اشعارو ته ابدي ژوند وربښلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اشعار که په هره دوره او هر وخت کې ولوستل شي ښکلي دي او د یوه شعر خوښوونکي ادبي تنده ماتولی شي.

ب، ځینو کسان پر شیدا او د دې سبک پر ځینو نورو پیروانو شاعرانو دا انتقاد کوي چې دوی د نورو ژبو کلمات په پښتو شعر کې ډېر استعمال کړي دي. دغسې کسانو ته باید په احترام عرض شي، چې شیدا یو ښکلا خوښوونکی هنرمند دی. ده د خپل شعر او نثر د ښکلي اډانې د جوړولو لپاره ډېر ښکلي الفاظ مرلي دي. دا الفاظ که د هرې ژبې وو، ده اخیستي او خپل شعر یې پرې ښکلی کړی دی. د هندي سبک د پیرو شاعرانو په ښکلو شعرونو کې د نورو ژبو لغات او کلمات هم بد نه ایسي، بلکې ښکلا ور ښښي.

۶ - په دې جریان کې له شیدا او نوري پرته د نورو شاعرانو نثري اثار نه دي لیدل شوي. د شیدا نثر هم د هندي سبک تابع نثرونو خصوصیات لري، مګر د نوري نثر ډېر روان او خوږ دی.

۷ - په دغه جریان کې واقع پښتانه شاعران زیاتره د فارسي ژبو شاعرانو لکه، طالب املي، کلیم کاشاني، مولانا غنیمت کنجاهي، صایب تبریزي، قاسم، غني کشمیري، ناصر علي سرهندي، بېدل، فیضي دکني او نورو له کلام سره اشنا دي. د پارسي او پښتو ادبیاتو روابط دغه وخت په یوه لوړه سطحه کې موجود شوي وو، له پارسي نه د پښتو اثارو د ترجمې جریان هم په ښه موقف کې واقع و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ – د دې جريان پيرو شاعران سره له دې چې د هندي سبک پيروان وو ، د دې سبک پارسي اثار يې لوستل. د دې ترڅنګه يې پښتو ادب کې هم مطالعه درلوده. د هندي سبک د پيرو پښتنو شاعرانو له اثارو سربېره د نورو پښتنو شاعرانو لکه خوشال بابا ، رحمان بابا ، عبدالقادر او نورو اثار يې هم لوستل، نو ځکه د دې جريان او د دغه سبک پيرو شاعرانو د نورو پښتنو شاعرانو د ځينو غزلونو پر ځمکه هم غزلې ويلې دي، مګر په عام ډول يې شاعري د هندي سبک تابع ده. "(۲۸: ۱۳۲ – ۱۲۸)

په ټوله کې دا هغه اغېزې وې چې د هندي سبک د شاعرۍ له امله پر پښتو شاعرۍ لوېدلي او پښتو شاعري يې هم له خپلو ښکلاوو او مزاياوو ډکه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

د دغه سبک د پیدا ښت، پیل او پښتو ته د راتګ پر څرنګوالي یې موږ پوره پوره بحث وکړ او د دې څېړنې په پایله کې موږ دې پایلې ته رسېدلی شو، چې پښتو ژبه او ادب هم د هندي سبک شاعرۍ له اغېزو او ښکلاوو خالي نه دي.

د هندي سبک شاعري له ابهامه ډکه شاعري ده، خو هغه خوند چې په ابهام کې شته، په بل څه کې کم لیدل کېږي. یا په بله وینا د هندي سبک شاعري تر ډېره په حجاب کې ویل شوې شاعري ده، چې عام وګړي یې ژر معنا نه شي درک کولی. خو په ټوله کې د دغه شاعري چې په ښکلیو تشبیهاتو، استعارو، مدعامثلو، تلمیح ګانو، کنایو، او نورو تخیلي ښکلاوو پسوللې شوې شاعري ده، چې په سیمه کې ډېر ویونکي شاعران او مینه وال لري.

موږ هم هم لومړی د هندي سبک د رامنځ ته کېدو او بیا د دغه سبک د ارزښتونو، اهمیت او خواصو په اړه پوره بحث وکاوه او بیا مو پر پښتو ادب د دغه سبک د اغېزو او په پښتو کې د دې سبک د شاعرانو پر ژوندانه او شعرونو رڼا واچوله او دا مو په ګوته کړه چې هندي سبک پر پښتو ادب او شاعرۍ ډېرې مثبتې اغېزې شیندلې دي او پښتو شاعري یې ډېره رنګینه او خوږه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم باید ووایو چې په دغه جریان کې واقع پښتانه شاعران زیاتره د فارسي ژبو شاعرانو لکه، طالب املي، کلیم کاشاني، مولانا غنیمت کنجاهي، صایب تبرېزي، قاسم، غني کشمیري، ناصر علي سرهندي، بېدل، فیضي دکني او نورو له کلام سره اشنا دي. د پارسي او پښتو ادبیاتو روابط دغه وخت په یوه لوړه سطحه کې موجود شوي وو، له پارسي نه د پښتو اثارو د ترجمې جریان هم په ښه موقف کې واقع و.

او همداشان د دې جریان پیرو شاعران سره له دې چې د هندي سبک پیروان وو، د دې سبک پارسي اثار یې لوستل. د دې ترڅنګه یې پښتو ادب کې هم مطالعه درلوده. د هندي سبک د پیرو پښتنو شاعرانو له اثارو سربېره د نورو پښتنو شاعرانو لکه خوشال بابا، رحمان بابا، عبدالقادر او نورو اثار یې هم لوستل، نو ځکه د دې جریان او د دغه سبک پیرو شاعرانو د نورو پښتنو شاعرانو د ځینو غزلونو پر ځمکه هم غزلې ویلې دي، مګر په عام ډول یې شاعري د هندي سبک تابع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مناقشه

د هرې خېړنې او پلټنې دا اصول وي، چې سرې به ورکې له ګڼو ربړو او ستونزو سره مخ کېږي. هغه خېړنه او تحقیق چې بې له ستونزو او مشکلاتو ترسره شي، مانا يې دا ده، چې هغه خېړنه يوازې سرسري او ډېره دقيقه نه ده، ځکه خېړونکی د پټو مسايلو د روښانولو لپاره هغسې هلې ځلې نه دي کړې، لکه څنګه چې بايده او ضرور وي.

هغه پايله چې له ډېرو ستونزو، کړاوونو او پلټنو وروسته په لاس راځي، په حقيقت کې ټولو ته د منلو وړ او خوږه وي او تر ډېره پر واقعيتونو او حقايقو هم بنا وي، ځکه د خېړنې او پلټنې په پايله کې واقعيتونه او حقايق روښانه کېږي، چې پر مټ يې د موضوع په اړه دلايل او د موضوع رښتونولی ته خورا ارزښت ورکوي او د پټو سترګو خېړنه نه يوازې دا چې د خلکو لپاره د منلو وړ نه وي، ډېری وختونه ستونزې او حتا لويې ناخوالې هم زېږولی شي.

زه هم په خپل وار د دغې خېړنې د ليکلو په ترڅ کې له ګڼو ستونزو سره مخ وم. تر ټولو مهمه دا چې د يوې ښځينه لپاره ډېره ستونزمنه ده، چې د تحقيقي موضوع د څېړلو لپاره پر کتابتونونو وګرځي او د خېړنې وړ او اړين مواد له هغو ځايونو پوره کړي، خو بيا هم ما د خپل توان مطابق هڅه وکړه چې د يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر دولتي او خصوصي کتابونو دروازې ور وټکوم او د خپلې موضوع اړوند توکي او کتابونه ورکې ولټوم.

د دې ترڅنگ زما د تېزېس موضوع هم داسې يوه موضوع ده، چې تر اوسه وربانديې پښتنو څېړنکو او ليکوالو دومره څه نه دي ليکلي چې د لوستوالو ټولو پوښتنو ته ځواب ووايي او د هغوی د ذوق تنه ورباندې خړوبه کړي. ما که څه هم په دې اړه ډېرې تجسس وکاوه، خو هغومره مواد مې پيدا نه کړل، چې زما د څېړنې کار را ته اسانه کړي خو بيا هم وايي بنده تر خپلې وسې پر دی او ما هم خپله بندگي هڅه ټوله وکاروله او مواد مې چمتو کړل.

همداشان د تحقيق په ترڅ کې هم له يو شمېر داسې ماخذونو سره مخ شوم، چې د اعتبار له اړخه راته ډېر معتبر نه ښکارېدل. د دې کار لپاره مې هم تر ډېره هڅه وکړه له هغو معتبرو ماخذونه کار واخلم چې له پوره اعتبار څخه برخمن دي او د ماخذونو د معتبروالي لپاره هم هلې ځلې پکار دي.

يوه بله ستونزه چې د خپلې څېړنې په ترڅ کې ورسره مخ شوم، هغه په پښتو کې د هندي سبک د پيدا ېښت ستونزه وه.

دا چې د ادب په برخه کې بدلون، کړنلاره او اسلوب هم د پام وړ موضوع ده او تل په يوه حالت نه پاتېږي، بلکې بدلون را بدلون مومي، نو سبک هم د دغو بدلونونو او اوښتونونو يوه نښه گڼل کېږي. هندي سبک چې وروسته يې بيا د يوه لوی ادبي مکتب بڼه غوره کړه، هم له دغو اوښتونونو او نښو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. داسې ویل کېږي، چې دغه سبک د یوولسمې پېړۍ په لومړیو او د دوولسمې پېړۍ په منځنیو کې د هند، منځنۍ اسیا او ایران په سیمو کې ډېر معمول او دود و.

د لسمې هجري پېړۍ په جریان کې د پارسي ژبې ځینې شاعران د پارسي شاعرۍ له زړو عنعنو څخه ووتل او په خپل شعر کې یې نوې لاره غوره کړه. د یوولسمې هجري پېړۍ په اواخرو او د دوولسمې پېړۍ په اوایلو کې دغه نوې شعري لاره خپل اوج ته ورسېده. په هند کې اوسېدونکو ځینو پارسي ژبو شاعرانو هم دغې نوې شعري لارې ته مخه وکړه، نو ځکه دغه ادبي لارې د هندي سبک په نامه شهرت پیدا کړ.

دا چې دغه سبک د حمید موند په واسطه پښتو شاعرۍ ته داخل شو، او کاظم خان شیدا ورته وده او ترقي ورکړه، نو په دې برخه کې هم ځینې ضد او نقیض بیانونه شته، ډېری څېړونکی په پښتو کې د دغه سبک پیل له حمید بابا څخه کوي، خو یوه څېړونکي بیا دغه سبک ان تر روښاني نهضته هم رسولی دی.

په (پښتو کلاسیکي غزل کې د هندي سبک روایت او ارتقا) نومي اثر کې چې ښاغلي بنارس خان خټک لیکلی راغلي چې دغه سبک تر حمید بابا وړاندې هم په پښتو کې موجود و.

بنارس خان خټک یو متناقض نظر ورکړی او په پښتو کې د هندي سبک اثرات حتا په روښاني ادبي مکتب کې هم په ګوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او په سر کې د ښاغلي بايزيد انصاري په اړه ليکي: "... دی هغه ړومبی شاعر دی چې پښتو کې يې تصوفي شاعرانه اسلوب ته ترقي ورکړه او ور سره يې وروستيو راتلونکيو روښاني شاعرانو ته لاره هم هواره کړه. ده په شاعرۍ کې د هندي سبک د شاعرانو په شان پېچيده گۍ، اخفا، علامتي او استعاراتي تشکيل ته وده ورکړه. په معنوي توگه د ژور فکر توکي هم د ده په شاعرۍ کې د هندي سبک اثر جوتوي..." (۷:۹۴) همدا شان نو موړي د ميرزا خان انصاري، واصل روښاني، خوشال ختک، قادرخان ختک، رحمان بابا او يو شمېر نور شاعران هم د هندي سبک د شاعرانو په کتار کې درولي، حال دا چې په ادبياتو او ادبي سبکونو کې د (مشت نمونۀ خروار) باندې حساب و کتاب نه کېږي. کېدای شي د ټولو شاعرانو په شعرونو کې د هندي سبک ځينې علايم موجود وي، ځکه هندي سبک هم له نورو سبکونو سره دومره متفاوت نه دی، چې شريک خصوصيات سره ونه لري، نو په دې توگه د هر شاعر په سبک کې د هر سبک نمونې او نښې موندلی شو، چې په هغو سره يو شاعر د هغه سبک پيرو نه شو گڼلی، ترهغو چې ټوله شاعري يې د هماغه سبک پر بنياد او خصوصياتو ولاړه نه وي.

که چېرې موږ يوازې د څو نمونو په ليدو سره بسنه وکړو او هغه هم چې د سبکونو ترمنځ مشترک خصوصيات ولري، نو بيا تر ټولو ستر حقدار ښاغلی اميرحمزه شينواری دی، چې په شاعرۍ کې يې د هندي سبک ځينې خصوصيات ليدل کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو پـه بشـپړه توګـه د هنـدي سـبک ټول خصوصـیات د نومـوړي پـه شـاعرۍ کـې نشـته، نـو لـه همـدې املـه مـوږ د سـبک د خصوصـیاتو او تـوپیرونو پـر بنسـټ نومـوړی د هنـدي سـبک د شـاعرانو پـه کتـار کـې نـه شـو درولـی او دا بـه یـو ډول کورکورانـه قضاوت او پرېکړه وي، چـې مـوږ د یـوه شـاعر پـه شـاعرۍ کـې د بل سبک د څو مشترکو خصوصیاتو پـه لیدو سـره نومـوړی هغـه سبک تـه منسوب او پـه هغـه سـبک کـې یـې ودروو. ځکـه مـوږ تـر هغـو یـو شـاعر یـوه سـبک تـه منسـوب نـه شـو ګڼلـی، چـې د هغـه سبک بشپړ خصوصیات یـې شـاعرۍ کـې جـوت نـه وي او بلـه دا چـې د هنـدي سـبک د پیدا اېښـت مسـئلې تـه پـه پـام سـره مـوږ د روښاني غورځنګ شاعران پـه دغـه سبک کـې نـه شـو راوستلی.

نو پـه لنډه توګـه د ښاغلي بنارس خان خټک نظر پـه دې ډول نقـد کـوم، چـې د هنـدي سـبک شـاعري خپـل ځـانګړي خصوصیات لري، کېدای شـي د ټولـو شـاعرانو پـه شـعرونو کـې یـې نمـونې ولیـدل شـي، خـو د څـو نمونـو پـه لیـدو سـره مـوږ یـو شاعر پـه دغـه سبک کـې نـه شـو درولـی. نو پـه دې توګـه د نومـوړي نظر تـه پـه درناوي ویلی شو، چـې هندي سبک د خپـل پیدا اېښـت د نېټـې پـر بنسـټ پـه مطلق ډول او لـه ټولـو خصوصـیاتو سـره د حمیـد بابا پـه شـاعرۍ کـې جـوت لـه او لـه همـده څخـه د هنـدي سبک د شاعرۍ پیـل پـه پښتو ژبـه کـې پېژنو او بس.

البته پـه پـای کـې دا خبره هم بایـد وکـړم چـې پـه دې موضـوع کـې دومره کار نـه دی شوی، چـې د څېړنـې لپـاره د یـوه پلـه او یـا یوه پوره لاربښود کار وکړي، که څه هم ښاغلي مجیب الـرحمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

اميري د محمدصديق پسرلي شاعري د هندي سبک په رڼا کې څېړلې، خو د هغه څېړنه يوازې تر پسرلي صاحب او د هندي سبک تر خصوصياتو پورې محدوده ده، چې له نېکه مرغه له يادې څېړنې څخه ما هم پوره ګټه اخيستې او د څېړنې دغه دشوار کار يې را ته تر يوه محدوده بريده اسانه کړی دی. خو په ټوله کې پر ياده موضوع دومره کار نه دی شوی، چې د څېړونکو لپاره يې بشپړه لار هواره کړې وي. په دې هيله چې زما دغه نيمګړې څېړنه د دې جوګه شي، چې په دې برخه کې د راتلونکو څېړونکو لپاره د يوه پله يا يوه لارښود حيثت ولري.
په همدې هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایـیـزه(نتیجه گیري)

په لنډه او د پایلیزې په توګه یوازې دومره ویل اړین ګڼم، چې په پښتو کې د هندي سبک د شاعرۍ پیل د حمید مومند له شاعرۍ څخه کېږي. نوموړی په پښتو کې د هندي سبک د بنسټوال لقب لري او بیا دغه سبک ته تر ډېره دده پیروانو او په ځانګړې توګه کاظم شیدا ډېره وده ورکړه او حتا دغه سبک یې د خپل عروج لوړو پوړیو ته ورساوه. تر ده وروسته یو شمېر نورو شاعرانو هم د دغه سبک پیروي وکړه، چې وروسته وروسته بیا دا سبک په پښتو شاعرۍ کې یو څه پیکه شو او تر ډېره وخته د دغه سبک په روحیه برابره شاعري ډېره تر سترګو نه شوه او حتا دغه سبک په پښتو کې له یوه موقت زوال سره مخ شو، چې بیا په شلمه پېړۍ کې ببرته د ښاغلي محمدصدیق پسرلي په شاعرۍ کې په پوره مانا او وزن سره را جوت شو او اوس یو شمېر شاعرانو نوی پر دغه سبک پل ایښی، چې غوره نمونه یې ځوان او تاند شاعر سید جیلاني جلان یادولی شو، چې د هندي سبک پر خصوصیاتو برابره شاعري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانديزونه

د هرې څېړنيزې او اکاډيميکې موضوع تر څېړنې وروسته کله کله وړانديزونو ته هم اړتيا ليدل کېږي. دا ډول وړانديزونه اکثره د موضوع د غنايي او د موضوع اهميت ته په کتو سره د نورو څېړنکو او اکاډميکو مرکزونو لپاره کېږي. موږ هم د همدې موضوع په تړاو ځينې وړانديزونه په لاندې توګه وړاندې کوو:

١- پوهنتون او د پوهنتون د نشراتو برخه د يوه ستر اکاډيميک مرکز حيثيت لري. زموږ هيله د پوهنتون له چارواکيو دا ده، چې د پوهنتون د نشراتو پر برخه دې ډېر کار وکړي، هغه تېزېسونه او د استادانو اکاډميکې مقالې او علمي اثار چې چې ټولنه ورته شديده اړتيا لري، د امکان تر بريده د چاپ په ګاڼه مزين کړي.

٢- د پښتو شاعرۍ له څېړونکو څخه مې هيله دا ده، چې دغه موضوع تر خپلې وسې پورې نوره هم وڅېړي، ځکه دا موضوع له خورا اهميته برخمنه موضوع ده او په دې برخه کې لکه څومره چې بايده دي، هغومره کار نه دی شوی او په کار ده، چې په دې برخه کې په راتلونکي کې نور کار هم وشي او په پښتو کې دغه تشه هم ډکه شي.

٣ - د ژبو او ادب پوهنځيو له استادانو او چارواکو څخه مې غوښتنه ده چې د هندي سبک د شاعرۍ د خصوصياتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کې د دغه سبک پر شاعرۍ باندې د بحث لپاره په خپلو درسي توکو کې دغې موضوع ته هم ځای ورکړي، ترڅو د ادب مینه وال او د ادب شاګردان د دغه سبک پر شاعرۍ هم پوه شي.

۴ - علومو اکاډمۍ، پوهنتونونو او علمي اکاډیمکو مرکزونو ته مې وړاندیز دا دی، چې په پښتو د هندي سبک د اغېزو او په پښتو کې د دغه سبک پر وده او رونق باندې سیمینارونه جوړ کړي، ترڅو په دې برخه کې د لوستونکو او مینه والو پوښتنو ته تر یوه حده ځواب وویل شي.

۵ – پنځم او وروستی وړاندیز مې هم د کابل پوهنتون مشرتابه ته دی او هغه دا چې د کابل پوهنتون مشرتابه باید د پوهنتون د علمي او اکاډمیکو اثارو د چاپ لپاره خپلې ټولې هلې ځلې په کار واچوي، که څېرې د نشراتو ریاست دا وړتیا ونه لري، چې ټول علمي اثار چاپ او خپاره کړي، نو له نورو خصوصي خپرنیزو مرکزونو سره دې اړیکې ونیسي او د ډونرانو په مرسته دې د هغوی له لارې دا ډول علمي او څېړنیز اثار خپاره کړي، ځکه د اثارو خپرول د ولس د علمي کچې په لوړولو کې لوی رول لوبوي او که اثار ټول همداسې ناچاپ خوندي پاتې شي، نو د څېړونکو او لیکوالو خولې بهول او تحقیقي کار او زیار په صفر ضربېږي. په همدې هیله.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

۱ - اپريدي، قيصر. ۲۰۰۴ کال. ليک او تخيلق. کراچۍ: جرس ادبي جرگه. خيسور چاپخونه.

۲ - ازمون، لال پاچا. ۱۳۸۹ل. منظوم انځورونه. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

۳ - اميري، مجيب الرحمن. ۱۳۹۱ل. په پښتو معاصر غزل کې د محمدصديق پسرلي دريځ، د ماسترۍ تيزېس، ناچاپ.

۴ - پسرلی، محمدصديق. ۱۹۹۴ز. ماته شپېلۍ، کابل: ناهيد خپرندويه ټولنه.

۵ - پسرلی، محمدصديق. ۱۳۹۰ل. غزلبڼ. کابل: افغان مسلکي مطبعه، خپرندوی، د وردګ ولايت مقام.

۶ - پسرلی، محمدصديق. ۱۳۹۱ل. د ځان په اړه د محمدصديق پسرلي څرګندونې، د غزل بڼ شاعر (د مقالو ټولګه)، د ادم خان سيرت په زيار. کابل: د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه، خپرندوی، د وردګ ولايت مقام.

۷ - خټک، بنارس خان. ۲۰۱۵ ز. پښتو کلاسيکي غزل کې د هندي سبک روايت او ارتقاء. اسلام اباد: علامه اقبال يونيورسټي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۸ - خلیل، پروفیسور حنیف. تنقیدي ادب. پېښور: نهمه پرچه(اخري کال)، یونیورستي چاپخونه.

۹ - خلیل حنیف. رانه فکرونه. ۲۰۰۲ ز. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۰ - خلیل، ډاکترحنیف. ۲۰۱۱ ز. د پښتو کلاسیکي شاعري. پېښور: دویمه پرچه، دویم چاپ، یونیورستي چاپخونه.

۱۱ - خلیل، ډاکتر حنیف. ۲۰۱۱ ز. نوې شاعري. پېښور: شیږمه پرچه، یونیورستي چاپخونه.

۱۲ - ځلاند، طایر. ۱۳۹۱ ل. د پښتو غزل تنقیدي جاج. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۳- رفیع، حبیب الله. ۱۳۹۱ ل، د پسرلي صاحب غزلبڼ، د غزل بڼ شاعر (د مقالو ټولګه)، د ادم خان سیرت په زیار. کابل: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه، خپرندوی، د وردګ ولایت مقام.

۱۴ - روهي، څېړندوی محمدصدیق. ۱۳۸۲ل. ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۵ - زرین کوب، داکتر عبدالحسین، ۱۳۶۱ ل. نقد ادبی، لومړی ټوک، دریيم چاپ. ایران: سپهر خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶ - سالک، مصطفی. ۱۳۹۰ل. بې خزانه غزلې. د غزلې شاعر (د مقالو ټولګه). کابل: د ادام خان سیرت په زیار. خپرندوی د میدان وردګ ولایت مقام.

۱۷ - سالک مصطفی. ۱۳۷۹ل. منشور کره کتنه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۸ - ((شمسیا، سیروس؛ سبک شناسی در شعر. دویم چاپ. تهران: فردوس انتشارات.

۱۹ - شمسیا، سیروس.۱۳۷۲ل. کلیات سبک‌شناسی. تهران: فردوس انتشارات.

۲۰ - ښکلی، پوهیالی اجمل. ۱۳۹۰ل. سبکپوهه. کابل: د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه.

۲۱ - صفا، داکتر ذبیح الله، ۱۳۶۲ل. تاریخ ادبیات در ایران، پنځم ټوک، لومړۍ برخه، درېیم چاپ. تهران: رامین چاپخونه.

۲۲ - غبار، میرغلام محمد، ۱۳۵۹ل. افغانستان در مسیر تاریخ، لومړی ټوک، دویم چاپ. ایران: قم.

۲۳ - کاکړ، پیرمحمد، ( ۱۳۸۹ل.ل)د پیرمحمد کاکړ دیوان، د استاد بېنوا په مقابله او د استاد حبیب الله رفیع په سریزه. کویټه: صحاف نشراتي موسسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴ - نشار، نورالحبیب. ۱۳۹۱ل. د ښاپېریو سرود. سپېده مجله. کابل: دریم دور، دویمه گڼه، پرلپسسې نولسمه گڼه، ثور، ۱۳۹۱ لمریز.

۲۵ - واجد عبدالواجد، هندي ادبي ښوونځی.... کابل مجله. کابل: ۹-۱۰ گڼه، ۱۳۸۱ کال. دولتي مطبعه.

۲۶ - هاشمي، سید محی الدین. ۱۳۸۱ل. ادب پوهنه. پېښور: د اریک د گرځنده کتابتونونو اداره.

۲۷ - هوتک معصوم، ۱۳۸۸ل. سریزه، سمون او لغتنامه، د میرزا حنان بارکزي دیوان، څلورم چاپ. کویټه: صحاف نشراتي موسسه.

۲۸ - هېوادمل، سرمحقق زلمی. ۱۳۷۹ل. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنۍ دورې). پېښور: دویم چاپ. دانش خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

سرلیک مخ
د لارښود استاد نظر.................................................................الف
د سر خبرې..........................................................................ج
لنډيز..................................................................................هـ
سریزه..................................................................................١
د موضوع هدف او ارزښت...........................................................٣
د موضوع مخينه.......................................................................٥
د څېړنې مېتود........................................................................٧
سبک(Styel)..........................................................................٨
١–١ سبک څه ته وايي؟..............................................................٨
١–٢ د سبک د بدلون ځينې عوامل:...................................................١٣
٢ - هندي سبک........................................................................١٧
٢–١ د هندي سبک د پيدا ښت زمينې او لاملونه.....................................١٧
٢–٢ د هندي سبک صعودي او نزولي سير.............................................٢٩
٢–٣ د هندي سبک مهمې ځانګړنې څه دي؟...........................................٤٣
٢–٤ ژبه:.................................................................................٤٥
٢–٥ فکر:................................................................................٤٥
٢–٦ ادبيات:.............................................................................٤٦
٢ - ٧ مدعا مثل.........................................................................٤٨
٢–٨ تخيل او تفکر.......................................................................٥٢
٢–٩ خيال آفريني او مضمون افريني...................................................٥٧
٢–١٠ انځور جوړونه.....................................................................٥٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - پښتو شاعري او هندي سبک ........................................................ ۲۹
۳-۱ په پښتو کې د هندي سبک پیل او د پښتو شاعرۍ لنډ جاج ........ ۲۹
۴ - په پښتو کې د هندي سبک ........................................................ ۸۳
مخکښ شاعران........................................................................ ۸۳
۴-۱ عبدالحمید مومند ........................................................................۸۴
۴-۲ کاظم خان شیدا: ........................................................................۸۹
۴-۳ علي خان........................................................................ ۹۲
۴-۴ کامګار خان خټک:........................................................................ ۱۰۱
۴-۵ خانګل خلیل: ........................................................................۱۰۲
۴-۲ محمد بیاض ګدون: ........................................................................ ۱۰۳
۴-۸ پیرمحمد کاکړ: ........................................................................ ۱۰۵
۴-۹ محمدي صاحبزاده: ........................................................................ ۱۰۸
۴-۱۰ شمس الدین کاکړ........................................................................ ۱۱۵
۴-۱۱ میرزا حنان بارکزی ........................................................................۱۱۲
۴-۱۲ بېدل هشنغري ........................................................................۱۲۱
۴-۱۳ عبدالغفار بریالی ........................................................................۱۲۲
۴-۱۴ محمدصدیق پسرلی ........................................................................۱۲۵
۵ - په پښتو کې د هندي سبک لنډ ادبي جاج........................................................................۱۴۴
په پښتو کې د هندي سبک د ادبي جریان ځانګړنې........................................................................۱۴۴
پایله........................................................................ ۱۵۱
مناقشه........................................................................ ۱۵۳
پاییزه(نتیجه ګیري ) ........................................................................ ۱۵۹
وړاندیزونه........................................................................۱۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی


د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي خان محمد ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوالي او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۶۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**